منبع الجهاد

علمي، جهادي میاشتنۍ خپرونه

پر افغانانو د ټولې
نړۍ مسلمانان
افتخار کوي، ځکه
چې د اسلام د عظمت
او د کفر د ماتې کارنامه
د دوی په متو ترسره
شوه .

الحاج مولوي جلال الدین حقاني ،،



کابل ته د روسي قواوو
د راتلو لومړۍ شېبې

ad Shah Vahdat Yad

- پر افغانستان د روس پوځي یرغل او د ګاونډیو هیوادو سیاستونه ...!
- د روسانو د یرغل په مقابل کې د اسلامي نړۍ عکس العمل

پر نړیوال اسلامي غورځنګ
د افغانستان د جهاد اغیزې

- داور پر سکروټو تیر شوي وختونه

انصار شاعران

بِسمِ اللّٰهِ الرحمٰنِ الرَّحِیۡم

الهي فرمان

ژباړه : کله چې دالله (ج) مرسته راشي اوبری (در) په برخه شي ، او (اي پيغمبره (ص)!) ته وګوري چې خلك ډلې ډلې دالله (ج) په دين کې داخليږي نودخپل رب له ثنا ستاينې سره دهغه تسبيح وکړه ، اوله هغه نه بښنه وغواړه ، بيشکه هغه سترتوبه قبلوونکی دی .

دالنصر سورة

منبع الجهاد

علمي، جهادي میاشتنی خپرونه

مؤسس : الحاج مولانا جلال الدين «حقاني »

دتأسيس كال : ١٣٦٨ هـ ش - ١٤٠٩ هـ ق

دوهم کال ، اوومه گڼه ، د١٣٦٩ هـ ش جدی - د١٤١١هـ ق جمادی الثانی

پرافغانستان دروسانو ديرغل
(دمرغومي شپږمي)په مناسبت
فوق العاده گڼه

شمير	عنوان	مخ

١:- سرمقاله ... (٢)
٢:- پر افغانستان دروس پوځي يرغل ... (٥)
٣- موضع گيري كشورهاي غربي.. (١٠)
٤:- كابل ښارته دروسي قواوو... (١٥)
٥:- دروسانو ديرغل په مقابل كي ... (٢٠)
٦:- پرنړيوال اسلامي غورځنگ ... (٢٤)
٧:- :اوړيــــر سكروټو ... (٢٨)
٨:- دغوايي له كودتاراوروسته ... (٣١)
٩:- دمجاهدينو دقوماندانانو اوعالمانو ... (٣٣)
١٠:- جهاد دشعراوادب په پلوشوكي ... (٤١)
١١:- انصارشاعران ... (٤٣)
١٢:- اوستورو لا هماغسي سترگكونه ... (٤٧)
١٣:- ولسي ادبيات ... (٥٠)
١٤:- راغلي ليكونه ... (٦١)
١٥:- ابدي ژوندي ... (٧٠)

دهئيت تحرير ترنظر لاندي

مکاتباتي پته

پوست بکس نمبر (١٠٣٣) يونيورستي

ټاون - پيښور

دټيلفون نمبر: (٤١٧٤٦)

كمپوزر: احمد ضيا «ذهين بابري »

بِسمِ اللّٰهِ الرَّحمٰنِ الرَّحِيمْ

سرمقاله

اتحاد
دولس یوازینی آرمان

په تیرو دوولسو کلونو کي دمقاومت ترمنځ داتحاد له پاره دومره څه لیکل شوي اونشر شوي چي سړي اوس فکرکوي پدي رابطه به داسي څه نه وي پاتي چي هغه نه وي ویل شوي،حتي کله چي پدي هکله څه فکر هم کیږي نوداسي عبارتونه جملي اوکلمي سړي نشي مونډلي چي هغه څوځوواره داتحاد په هکله په لیکنو کي نه وي لیکل شوي اوتکراري ونه بریښي.

خوبیا هم ددغو ټولو هلو ځلو سره سره تراوسه زموږمجاهد اوقهرمان ولس داختلافاتو په اورکي سوځیږي .داتحادونو شمیر خوترددوګونو ، دري ګونو ، پنځه ګونو اواووګونو پوري ورسید اوچي خبره لدي ځخه ووابښتله اوعبوري حکومتونو ته راورسیدله نودهغو انجام هم داتحادونو انجام ته ورته شو اودغه وږمقاومت دیوه مؤثر،دوامداره اوریښتیني اتحاد څخه بي برخي پاتي شو اودانقلاب لیکو ته دبهرنیو قوتونو دنفوذ مخه همداسي خلاصه پاتي شوه اوله همدغه کمزوري،څخه بهرنیو قوتونو دافرصت اوجرئت پیداکړ چي دمختلفو عنوانونو اوپلمو له مخي دخپل نفوذ لاره پرانیستي وساتي.

نن سبا ليدل كيږي چي دمجاهدينو ترمنځ ددغه ورېو مؤثراتحاد ، واحد دريځ اوارګان دنشتوالي له امله نړيوال استعماردجهاد پرضد پخپلو توطئو اومانوروكي دېي شرمي داسي يوه سرحد ته رسيدلي چي دانقلاب دوروستي برې په مخه كي يې دخنډ او څنډ ډيرستر ګواښونه رامنځ ته كړيدي .

دروسانو له نظامي شكست وروسته مقاومت ته ديوه داسي قوي اداري نظام اومتحد ارګان ضرورت ؤ چي هم دولس دآرمانونو دتحقق په لاركي دوفاداري اوتعهد توان ولري اوهم دنړيوالو دقناعت وړوي اوپه عملي ډګركي ددي ځواك اوكفايت ولري چي وضعه او حالات دانقلاب په ګټه راوڅرخوي .

خووشول داسي چي له بده شامته په سياسي ډګركي يې دركود اوبن بست فضا رامنځ ته كړه اودروسي پوځونو له وتلو وروسته تراوسه پوري چي خبره دووكلونو ته رسيږي دقيادتونو له خوا داسي يو مثبت اواغيزمن حركت په لاروانه چول شو چي انقلاب له دغه بن بست څخه وژغوري .

دروسي عسكروله تيري وروسته هيچا هم دافكرنه كاوه چي روسي پوځونه به له داړول شرميدلي ماتي سره مخامخ كيږي،خودافغانستان دمجاهد اوقهرمان ولس بې دريغه قربانيو داناممكن ممكن وګرځاوه،خوكله چي روسي پوځونه له افغانستان څخه وايستل شول بيانو هيچا هم دافكر نه كاوه چي دنجيب لاس كينولي اومخ په زوال رژيم به دومره دوام وكړي ، بلكي ټولو ددغه ګوډاګي رژيم دمحتوم شكست پيش بيني كوله.

هغه كوم عوامل ؤ چي دنجيب رژيم بې له ژرترژره سقوط څخه وژغوره ، داسمه ده چي پدي رابطه به بين المللي سازشونو اوتوطئو خپل منفي رول لوبولي وي ، پرمقاومت دمرستو بنديزو به هم نقش لرلي وي اوداسي څه نوربهرني وجوهات به هم وي خوله دي څخه هم سترګي نشي پټيدلي چي ددغه مشكل حل ترډيره خپله دجهادي قيادتونو په لاس كي ؤ اودي .

اوهغه دا چي تنظيمي ، شخصي اوسليقي ملحوظاتو اوكتهو داسي يوه ګردجنه فضا رامنځ ته كړي چي كه وضعه همداسي جريان پيداكړي نودولس دادومره ستري قرباني او مقاومت به ضرورله تهديد اونورو شديد وضربو سره مخامخ كړي .

بنايي په ډاګه ووايو چي موږتراوسه بنايسته ډيرفرصتونه اوچانسونه له لاسه ورکړل اوله مساعد و حالاتو اواوضاع څخه مو څنګه چي لازمه وه ګټه وانخيستله.خوداهم ديوه ترخه حقيقت په توګه بايد ووايو چي تيروخت اوشرايط دزيات انتظارحوصله اوفرصت نلري اوديرلږ غفلت اوعدم توجه کولي شي خداي مه کړه زموږدانقلاب ثمره زموږدجهاد ددښمنانو کومو ته ننباسي .

پدي رابطه دهرهغه حرکت مرسته اوتائيد په کاردي چي دولس اومقاومت داتحاد په لارکي موثر ګنل کيږي له همدي ځايه ده چي جهادي قوماندانانو ديوي ګډي شوراله لاري چي دهيواد ټول جهادي ځواکونه اوارخونه پکي برخه واخيستلي شي پدي اړه ضروري اوحياتي ګامونه پورته کړل څکه خو په لږه موده کي د.ق.ع شورا سرتاسري اوافغانستان شموله بڼه غوره کړه اودواحدي جنګي ستراتيژي اووحدت په لارکي يي نوي پرمختګونه اوبرياليتوبونه په برخه شول .

لدغه برين حرکت سره دهيواد دعلماوو داتحاد ځواک هم مل شو اوپه يوه ګډه اعلاميه کي قوماندانانو اوعلماوو دخپل ګډ فعاليت اومشترک موقف څرګندونه وکړه اوکلي او واقعي اتحاد په لوريي يوسترګام پورته کړ.

له همدي ځايه وه چي دولس په زموليدلو اميدونو کي نوي ولولي اوځپي راوپاريدلي او دا هيلي يي راژوندي کړي چي داحرکت به په يوه داسي واقعي حل منتج شي چي ولس دتفرقي له تهديد اوانقلاب دشرق اوغرب دتوطئو اومانورو له ګواښونو اودښمني څخه وژغوري اودغه ورڅهغي په نتيجه کي دملت په خوښه اودجهاد دسپيڅلو آرمانونو له مخي ديوه حکومت اونظام اداڼه تکميل اوجوړه کړي شي .

څکه خويوځل بيا تکرارو چي له دغه وروستي فرصت اوچانس څخه بايد قيادتونه استفاده وکړي .

اوپريښږدي چي دجهاد ددښمنانو سازشونه اوتوطئي زموږدقهرمان اومجاهد ولس دآرمانونو اواميالو دښمنۍته دوام ورکړي . وما علينا الاالبلاغ

پرافغانستان دروس پوځي يرغل او د ګاونډيو هيوادو سياستونه ...!

سياسي تبصره

محمد نذير «بشارت»

پە دې تحليلي تبصره کي بە تاسو ولولي چي :
* چين دروسانو ديرغل پە مقابل کي څه عکس العمل وښود ؟
* دمجاهدينو پە باب دايران سياست ولي، ښل رنګ غوره کړ؟
* ايت الله خميني دروسي سفيرته څه وويل ؟
* شهيد ضياالحق ولي تر آخره دافغانستان له جهاد څخه پە کلکه دفاع کوله ؟

دهري اجتماعي پيښي علمي – سياسي تحليل ته اساسي اړتياده ،دهغي دوقوع انګيزي ،عوامل ،ښه ،هدف پە وړاندي يي عکس العملونه اواغيزي او نتيجي يي پە هراړخيزدول څيړل دژوند يو تولنو مهمه مشخصه ده .پە تيره چي هغه دومره لويه وي چي ديو ملت دتاريخ لوري ټاکي اوديوي پراخي منطقي دسياسي سرنوشت پە تعيين کي نقش ولري .معلومه ده چي دعلمي او اکاډميک تحليل اوڅيړني ژبه او اسلوب معمولاً پە ټولو حالاتو کي او هر راز شرايطو کي يوشان وي . خوکله کله دځينو حادثو بعضي اړخونه داسي وي چي پدي ژبه او اسلوب نشي بيانيداي – هغه تە بيادشعر او افسانو ژبه پکارده،د درد ، احساس او عاطفي ژبه ورته پکارده که څه هم هغه به نه تخيل وي نه شعري حقايق او نه افسانوي دنيا،بلکي مشهود او مسلم واقعيتو نه به وي ، مګر دبيان انتقال او تشريح لپاره يي داکاډميکو مېتودونو سپړي ژبي او ساړه اسلوبونه پە هيڅ توګه کفايت نکوي او بايد دشعر او افساني له ژبي ورته کار واخيستل شي .

د۱۳۵۸ دجدي پە شپږم ماښام نړۍ دهمدغسي يوي حادثي شاهده شوه دروس د ستر طاقت يونيم لك خونريزي لښکري پە يوه بي وزله ملت پدي «جرم » راوختي چي خپله عقيده، شرف او استقلال يي غوښت او پدي ګناه يي پري دهيبتناکو وسلو خولي راتيتي کړي چي «مظلوم » او « بي دفاع» وُهمدغسي ماښام چي دسروروسانو پە لاسو دکومو زره ربړدوونکو فاجعو آغاز وشو او زموږ محروم قوم يي دويرونو او غمونو له کوم توپان سره مخامخ کړ دهغه تمثيل او تشريح نه دهر قلم کاردي اونه دهري ژبي،همدارنګه ددي بد مرغه حادثي پە وړاندي چي افغان توريالي قوم دبي وسي او نامساعدتونو له ټولي انتهاسره سره دکوم هرم او عظمت مظاهره وکړه هغه يواځي هغه چاته د درك وړده چي دروس – افغا ن دخوفناکي معرکي پدي نتيجه دزړه له کومي

متعقد وي چي مسلمانو افغانانو دروسي امپراتوري دوه لکه اوپا زره پوځ ته په ماتي ورکولو دعصر معجزه وکړه ، دروسي کمونستي امپراتوري دبنست خښتي يې ولړزولي ، دشرقي اروپا دولسونو له غاړو او پښو يې دمسکو داسارت ځنځيرونه مات کړل ،دبرلين ديوال يې ونړاوه ،دروسيې په محکومو جمهوريتو نو کې يې داستقلال ځپه راپورته کړه ، او په واقعي مفهوم يې دخپلو يونيم مليون شهيدانو دوينو په بيه دتاريخ لوري واړاوه اوپه ټوله نړۍ کې يې ديوه بشپړ نوي دوران دپيل پورته کړ. داټول حقيقتونه دي او ديو ي ذري په اندازه مبالغه هم پکې نشته .

زماخپله ډيره دلچسپي وي چي پدي برخه کې ډيري خبري وشي ،ځکه دانه يواځې زموږ دتاريخ نوي دوره او داوږده مستقبل پيلامه جوړوي بلکي دټولي نړۍ دنو ي دوران ژوندتري سرچينه اخلي که څه هم ددي ستري معجزي تمثيل چي کوم مقالي ظرفيت او لوړ کفايت غواړي موږ دهغه دپوره کولو څه چي دورنږدي کيدو تصور هم نشوکولاي – او دشهيد ضيا ءالحق په وينا کـه سل نسيم حجازي (داسلامي نړۍ نامتو ناول نگار) راپيداشي بيا هم دافغان قام دعظمت او حماسودانځوروس نه لري خوزه باورلرم چي له ټولو نيمګړتيا ووسره سره دروس په وحشتونو او زموږدميړني ملت پرعظمتو نو غږيدل؛ زموږ تاريخ او راتلونکو نسلونو ته دومره ضروري وي لکه پرون چي دروس لښکروپه وړاندي يوه مجاهد قوماندان ته دخپل قوت په سوقولو فکر کول ضروري و ، – ترديې بي ربطو خبرو ورروسته راځم دمقالي اصلي موضوع «پرافغانستان دروس يرغل اودګاونديو...»ته چي دمجلي داداري لخواراته مشخصه شوي ده.

دافغانانو په لاسونو دروسي امپراتورۍ ترماتي دمخه ،نوموړي امپراتوري ديوه لوي پراختياغوښتونکي مهاجم پوځي ځواك په توګه مطرح وْ . له ډيري پخواداسي فکر کيده چي شايد روسان پدي سيمه کي دخپلو اهدافو دتحقق لپاره دافغانستان داشغال لار ونيسي . ځکه روسانو برسيره پدي چي دافغانستان طبيعي منابع يې لاندي کول دافغانستان له حساس او مهم ستراتيژيکي موقعيت نه يې په استفادي سره هم دچين په شاوخوا خپل نظامي او سوق الجيشي کمربند ټينګاوه.هم يې دکراچۍ بندر ته په نږدي کيدو په يوه بل حرکت دهند سمندر ته ځان رساوه او هم يې د«ګوادر» بندر له لاري فارس خليج ته وردانګل اسانيدل .

البته ددي خبري وضاحت لازمي ګڼم چي داهغه اهداف ووچي روسانو له ډير پخواراهيسي غوښتل دافغانستان داشغال له لاري يې تر لاسه کړي خو داچي داشغال پلان د۱۳۵۸ کال عمل ته راووت دهغه وخت مشخص هدف يې له پريوتونه په کابل کي دخپلي خوښي ګوډاګي حکومت بچول او دافغانستان داسلامي انقلاب ځپل وو يعني هغه عاجل او فوري هدف چي دوي يې په همدي مشخصه نيته پرافغانستان نيغ په نيغه پوځي يرغل ته وهڅول.دافغان اسلامي انقلاب په وړاندي په کابل کي ددوي دلاس پوځي کمونيستي رژيم دچپه کيدو شديد خطر وْ . که دهغوي دمزدور حکومت په وړاندي په انقلاب او مقاومت لاس نه واي پوري شوي روسانو حتماً دافرصت ترلاسه کاوه او له پراخ پوځي حضورنه يې پرته په افغانستان کي او دافغانستان له لاري په سيمه کي خپلي نقشي پرمخ بيولي واي او پدي ډول به يې افغان ولس او ټوله منطقه له ډيرو بدو و پيښو او عواقبو سره مخامخ کول .

بیرته خپلي اصلي خبري ته ورگرځم - مخکي مو دي ته اشاره وکړه چي روسانو دافغانستا ن داشغال له لاري په سیمه کي څه ترلاسه کول غوښتل او په لنډو موږوویل چي دافغانستان دگاونډیو هیوادو په باب دروسیي خطرناك او شوم نیتونه څرگندوو - نو دابیخي روښانه وه چي زموږ گاونډي هیواد- ونه پدي برخه کي بې تفاوته نشواي پاتي کیداي هریوه مخالفا نه دریځ او عکس العمل ښود او له افغانستان نه یي دروسي لښکرودوتو په غوښتنه اودافغان ولس دروسي ضد مقاومت په ملاتړ ولاړدریځ غوره کړي ؤ .

موږدلته ددریوگاونډیو ، پاکستان اوایران اسلامي جمهوریتونو اوچین ولسي جمهوریت په سیاستونو اودریځونو لنډي خبري کوو.

الف -دچین دولسي جمهوریت سیاست :

په افغانستان دروسي پوځ دیرغل په وړاندي دچین دولسي جمهوریت حکومت توند عکس العمل وښود دچین مسؤلینو دروسانو اقدام دملگروملتونو دپرنسیپونواوتولو نړیوالو نورمونو څرگندسپکاوي اودیوه خپلواك هیواد دملي حاکمیت ، مځکني بشپړوالي اواستقلال ناروااغتصاب وگانه .

شهیدضیاالحق په ټول شهامت پدي اعتراف کاوه چي «افغانان دپاکستان اوټول اسلامي امت ددفاع جگړه کوي ...»

دچین اړیکي له روسیي سره خرابي وي - په کمبودیا کي دروسانو په اشاره اوملاتړ دویتنام پوځ موجودؤ ، دچین له پولوسره دروسیي پولوي شمیر پوځ له ډیرو مهلکو اوپرمختللووسلو سره ځاي په ځاي ؤ ، روسانو په آسیا کي دخپل نفوذ دزیاتولو اوپراختیا غوښتني دسیاست دپرمخ بیولو لپاره چین مهم رقیب باله - غوښتل یي هغه په محاصره اومضیقه کي وساتي اوداهغه مسٔله وه چي چینایانو ښه درك کړي وه . پردي سربیره چین په هغه وخت کي دروسیي یوایدیالوژیکی حریف هم بلل کیده - چینایانو روسان پدي محکومول چي له مارکسیزم نه منحرف شوي اودکارگري انقلاب په راوستلو کي یي اصلي تگلاري اوستراتیژي پري ایښي دي.چینایانو«مائو»تیپ مارکسیستي انقلاب دراوستونکو دجهاني رهبري هڅه کوله له روسیي سره دچین ایدیالوژیکي رقابت ، اودسیاسي اوژئوپولتیکي گټو تضاد یي اودافغانستان له اشغال نه ورته شدیدو گواښونو تولو منطقي تقاضا داوه چي باید چین دروس په مخالفت کي کلك اوتزلزل نه منونکي دریځ غوره کړي اوواقعیت دادي چي تردیره حده همداسي هم وشول .

چینایانو به تل له روسانو سره داړیکودښه کیدو لپاره دادري شرطه وړاندي کول :د دوي له پولو نه دروسي لښکرو لري کول ، له کمبودیانه دویتنامي قواووتل اوله افغانستان نه دروسي لښکروخروج ، له افغانستان نه دروسانو تروتو پوري دچین په موضع اوسیاست کي هیڅ لړزه اونوسان ونه لیدل شو البته ترهغه وروسته یي چي کوم سیاست غوره کړي پرهغه خبري کول زموږدمقالي موضوع نده .

ب -دایران اسلامي جمهوریت :

په افغانستان دروسانو دیرغل پروخت په ایران کي دمسلمانو

انقلابيونو حکومت ؤ دهغوي دحکومت نږدي يوولس مياشتي په پوره کيدو وي دروسانو ترېرغل وروسته ايت الله خميني دروسانو عمل په ډېرو سختو الفاظو محکوم کړاوله افغان ولس سره يي خپل پوره پيوستون څرگند کړ اوهغوي ته يي ډېري داډ ورکړ .

نوموړي په هغو ورځو کي وويل« ... پر افغانستان دپوځي تهاجم په ورځ په تهران کي دروسيي سفيرماته راغي اوراته ويې ويل چي دافغانستان حکومت له موږنه نظامي مرسته غوښتي، موږدهغوي دغوښتني له مخي پوځ ووليږه ماورته وويل چي ته دي خپلو مشرانو ته داخبره وکړه چي ډېره سخته اشتباه يي کړي ، زه مطمين يم چي دافغانستان مسلمان خلك به ستاسي ورميږونه دذلت په خاوروورموښي» دمرحوم خميني داموضع په ربښتياني معني يوانقلابي ،مؤمنانه اوجرئتمندانه دريځ ؤ.

اوداخبره غيرمنتظره هم نه وه ځکه په هغه وخت کي دايران اوروسيي روابط ښه نه ؤ – په ايران کي عملاً ډيرقوي روس پلوه سياسي جريانونه په کاربوخت وو ، روسانو په ايران کي داسلامي جمهوريت جوړيدل دځان لپاره خطرگانه – پوهيدل چي نشي کولاي دمرکزي آسيا محکوم جمهوريتونه په تيره آذربايجان په ايران کي داسلام غوښتني دڅوي موج له اغيزو خوندي وساتلاي شي ، دايران دانقلابيونو په"نه شرقي نه غربي جمهوري اسلامي"په شعارپوهيدل نوپدغسي يوه حالت کي دروسانو له خوا دافغانستان اشغال ايران ته ډېردروند تماميده دايران په لويديځ کي دروس پلوي بعثي گوند واکمن ؤ په شمال کي يي روسيه همسرحده وه که په خليځ کي هم روسيه ورڅيرمه کيده حتمًا يي له ډېري گراني وضعي سره مخامخ کاوه.

په خليج کي لا له پخوا دامريکا اډي وي ، دعربو له زياترو هيوادو سره يي هم اړيکي تياره وي پدي هم پوهيدل چي خليج ته دروسيي رسيدل دايران دپوره کلابندي معني لري.

پدي برسيره په ايران کي اسلامي انقلاب شوي وَ ددواړو ستروطاقتونو توند مخالفت يي ژوندي شعارؤ ، دنړۍدټولو مستضعفينو له مبارزي اوارمان سره يي پيوستون خپل انقلابي رسالت گانه اودمسلمانو ملتونواواسلامي انقلابي غورځنگونو دفاع اوملاتړ يي خپل الهي مسؤليت اوايماني وجيبه گڼله ددي ترڅنگ په يوه اسلامي هيواد تيري شوي ؤ په افغانستان کي دکمونيزم اوروسيي پر ضد په مبارزه بوخت حرکت يواسلامي انقلابي نهضت ؤ ، هغه چي په« نه شرقي اونه غربي» سياست معتقدوو – په افغانستان کي يي دمسکو،واشنگټن اوپيکنگ له نفوذ نه په بشپړه توگه وتلي اومستقل اسلامي حکومت غوښت – دايران داسلامي انقلاب له اعلان شويو اهدافو سره يي خپل پيوستون اعلان کړي ؤ – نوپه داډول شرايطو کي بايد زموږاوټول امت طبيعي انتظارهمداواي چي دايران انقلابيون به پر افغانستان دروسي تهاجم په وړاندي هغه دريځ غوره کوي ، چي مرحوم امام خميني اوهغه دخط پيروحکومت ونيو .

که څه هم له عراق سره په جگړه کي دبنکيليدو له امله ايران له افغان مقاومت سره زياته نظامي اومالي مرسته ونکړاي شواي خوسياسي موضعگيري اوپه نړيواله مستوي يي زموږدقضيي په باب سياست ترډيره وخته دافغان اسلامي انقلاب دگټو اوارمانونو له مقتضياتو سره برابروُ.

ايران له ټولو سياسي اقتصادي اونظامي فشارونو سره سره چمتو نشو چي دافغانستان دقضيي په

برخه کي له خپلي موضع راتيت شي شايد دعراق - ايران دجګړي پروخت روسيي ورته دافغان قضيي دسياست په سردمعامله ګړي پيشنهاد هم کړي وي ، خوايران مقاومت کړي - دڅنيوا په خبرو اترو کي بي ترپايه پدي استدلال برخه وانه اخيستله چي خبري دغيرا صلي لوريوترمنځ وي نه پاکستان اونه ايران دقضيي اصلي اطراف دي اونه هم دکابل لاس کينولي رژيم دقضيي اصلي لوري دي روسيه اومجاهدين ته اوداهغه سياست وُچي دمجاهدينو دموضع ترجماني اوتمثيل بي کاوه - مجاهدينو په عيني همدي منطق دڅنيوا مذاکرات مردود اوبي اساسه ګڼل .

مګر متأسفانه چي دايران داسلامي جمهوريت دسياست پورتني حالت ترپايه پاتي نشو له يوي خوا بي زمونږدکورنيو قضاياوو اوجرياناتو په باب ناوړه لاسوهني پيل کړي له بلي خوابي دافغان قضيي په باب خپل سياست زمونږدمسلمان ملت دجهاد دګټو په تاوان دسودا اومعاملي بازارته وړاندي کړ په هرحال ددي برخي څيړل خوبي بو ما دمقالي له عنوانه لري کوي اوبل اوږدبحث غواړي نوبه همدي دليل تري تيريږم .

ايت الله خميني دروسانو پرعل په ډيرو سختو الفاظو محکوم کړ اوله افغان ولس سره بي خپل بوره پيوستون څرګند کړ - خومتأسفانه چي دايران داسياست ترپايه پاتي نشو .

ج -دپاکستان داسلامي جمهوريت سياست :

دخداي (ج) لوي حکمت وُ چي پر افغانستان دروسانو دهجوم په وخت کي په پاکستان کي دشهيد جنرال محمد ضياالحق په څير شخصيت واکمن وُ مرحوم ضيا الحق يوزړورجنرال ژمخلص اومتدين مسلمان داسلام اومسلمانانو ګټوته يوصادق سياستمداراودپاکستان ملي او اسلامي غوښتنو ته يووفادار زمامداراوبالاخره يوهوښيار، متين اودوراندېش قايد وُشهيدجنرال له هغه ټول هيبت سره سره چي په نړۍ کي دروسيي دنظامي طاقت له ويري واکمن وُ ، دخپل هيواد دټولو اقتصادي ،نظامي اوسياسي ستونزو اونيمګړتياوو باوجود له يوه وحشي خطرناك طاقت سره دپاکستان په څير ديوه نسبتاً کمزوري هيواد دټکراوتصادم له خطراوتهديد سره سره دروسي تهاجم په وړاندي په شهامت اوميړانه ولاړ دريځ غوره کړ.

فکرکوم داد بربحث اودلايل نه غواړي چي پاکستان ته په افغانستان دروس دتهاجم حساسيت اوخطرناکتوب څومره وُ ، پدي خبره کي هيڅ مبالغه نشته چي افغان مجاهدينو چي دروس دپوځ په وړاندي دسپين غراوهندوکش په لمنو کي کومه جګړه کوله که مجاهدين پکي ناکاميداي نوبه سبابه هماغه جګړه دپنجاب اوسند دبنتوته راتله اوداهغه ټکي وُچي شهيد جنرال ضياالحق په ټول شهامت پري إعتراف کاوه هغه به ويل « افغانان دپاکستان اوټول امت ددفاع جګړه کوي » پاکستان په بي مثاله اخلاص په ډيرو سختو شيبو کي زمونږدمسلمان ملت ترشاودريد دامنيتي چاروبه باب دامريکا دپخواني جمهوررئيس جيمي کارتر سلاکار«برېژنسکي » داخبره څوڅوځله شوي ،خوچي څومره هم تکرار شي پري ارزي هغه وايي چي کله دروسانو ترتهاجم څوورځي وروسته اسلام آباد ته ولاړم ضياالحق ته مي وويل چي دافغانستان دوسيه تړلي وبوله ،

پاتي (٦٩) مخ کي

موضعگیري کشورهای غربی وسازمان ملل دربرابر تجاوز روسها برافغانستان

سميع الله تازه

سردمداران خونخوارکرملین برهبري بریژنیف باصدور فرمان حمله برافغانستان بتاریخ ٦جدي ١٣٥٩ (٢٧دسمبر١٩٧٩) قواي وحشي صدهزارنفري خودرا بنام «ارتش سرخ » وارد خاك افغانستان نموده باسرنگوني رژیم کمونستي حفیظ الله «امین » نوکروفا دارخود ببرك کارمل راکه ایجنت شناخته شده وسابقه داردستگاه جاسوسي کي ، جي ، بي روسیه بود برحکومت کابل گماشت وبااین ترتیب قدم بزرگي درراه تحقق خواب چارصد ساله امپراطوران روسي برداشت .

بعد ازجنگهاي اول ودوم جهاني که براساس افکارتوسعه جویانه بعضي کشورهاصورت گرفت وتلفات وخسارات بیشماررادرمجموع به جهان وبالاخص به اروپا باراورد هیچ مورخي وهیچ سیاستداني فکر نمیکرد که درمدت کوتاه یعني بعد ازچهل سال بعد ازین سانحه بازهم درکله پوچ کمونستان کرملین افکارتوسعه جویانه سربلند کرده باشد .

گرچه علاقمندي روسها به لشکر کشي به افغانستان بدنبال استقراررژیم دست نشانده کمونستي نزد سازمانهاي استخباراتي شاید مخفي نبوده باشد اما خبر این تجاوزدرگوش تمام مردم جهان چون بمي صدا دادومردم جهان بعدازاشغالگري روسها دراروپا ي شرقي باردیگر متوجه نیات واعمال وحشیانه روسها شدند وبه این حقیقت متوجه شدند که جنایتکاران کرملین هنوزهم درفکر پوچ تحقق ارمان هاي تزاربوده وتجاوزمسلحانه برخاك کشورهاي مستقل جزپالیسي رسمي شان میباشد .

درفرجام هشت سال جنگ، روسها به لطف خداوند بزرگ وبه اثر مجاهدت وقهرمانیهاي بي مثال مالي وجاني مردم افغانستان دراهداف خویش درافغانستان شکست خورده وازخاك ما بیشرمانه وبه شکل فضیحت بارباصرف تایکصدوپنجاه بلیون دالر ودادن حدود پنجاه هزارنفر تلفات ودهها هزارمعلول باروحیه شکست خورده از ارتش سرخ که بعد ازجنگ جهاني دوم بحیث نیرومندترین وشجاع ترین ارتش جهان بحساب مي امد ومردم امریکا واروپا ازتذکر نام آن مي هراسیدند درکوهپایه ها وآمون هاي پر افتخارکشورما بدست مجاهدین مسلمان افغان همچون موم خوردوخمیر شدند .

گرچه افتخاردرهم شکستن ارتش سرخ کاملاً مربوط مردم مسلمان افغانستان میباشد اما ازانجائیکه تمام مردم جهان این تجاوزمسلحانه روس ها راتقبیح نموده ودردفع

تجاوزمسلحانه روسها درکنارمردم افغانستان که بخاطر نجات کشورشان ازچنگ اژدهاي کمونيزم ميرزميدند قرارگرفته وازهمکاري صميمانه دريغ نورزيدند بنا ء درين جامن به موضعگيري سياسي کشورغربي وجامعه ملل متحد که درمجموع کشورهاي مقتدر وبا نفوذ وجامعه بااعتبار جهاني است تماس مي گيرم براي اينکه بحث طولاني نگردد موضعگيري کشورهاي اروپايي راازوراي نشست ها وجلسات رسمي وعنعنوي انها ارزيابي خواهم نمود.

کشورهاي غربي که بادرك نيات توسعه جويانه روسها دربلاك ناتو جمعند باشنيدن تجاوزنظامي روس برافغانستان برصحت وثقم پيشداوري هاي خويش بارديگر اطمينان حاصل نموده باين عقيده شدند که من بعد افغانستان يکي ازاقمارمسکو ويا هم ازجمهوري شانزدهم روس بيش نخواهد بود امااز انجائيکه روس رابه نسبت همين عمل جنايت اميزمورد توبيخ قرارداده باشند وبراي تقويت هرچه بيشتر موضع وپايه هاي دفاعي ونظامي خويش بهانه دريافت نموده باشند اين عمل روسها راخلاف موازين بين المللي دانسته سخت تقبيح نموده جداً خواستار خروج قواي متجاوزروسي ازافغانستان شدند کشورهاي اروپاي غربي که دربکت ناتو وبازارمشترك اروپا باهم اند همواره درنشست هاي خويش ازموضع ثابت يعني تقبيح تجاوزوخروج فوري قواي روسي راازافغانستان تقاضا نموده اند اما بصورت مشخص موضعگيري رسمي ويکپارچه شان درپيشنهاد ژيستکاردستن رئيس جمهوروقت فرانسه انعکاس يافت که درسال ۱۹۸۱ ارايه داشت .

موصوف پيشنهاد نمود مسأله افغانستان درشوراي امنيت ملل متحد به مشارکت کشورهاي همسايه افغانستان وهند وبعضي کشورهاي اسلامي تحت بحث گرفته شود که ايالات متحده نيزازين پيشنهاد حمايت خودرا ابرازنمود وتوافق حکومت انگلستان نيز که قبلاً بيشنهاد مشابه راارائه داشته بود به همراه داشت ولي روسها بدون توجه باين پيشنهاد انرا يکسره ردنمودند .

درجون ۱۹۸۱ مسأله تجاوزمسلحانه روسها برافغانستان درکنفرانس وزراي خارجه ده کشورعضو بازارمشترك اروپا به منظوردريافت يك راه حل مورد بررسي قرارگرفت کنفرانس پيشنهاد نماينده انگلستان رامبني براينکه کنفرانس مشترك شوراي امنيت وکشورهاي همسايه افغانستان وهندوستان طي دومرحله داير گردد ، به تصويب رسانيد .

درپيشنهاد د تذکر رفته بود که درمرحله اول راههاي خروج قواي خارجي جستجو گردد وتمام کشورهاي عضو کنفرانس بيطرفي افغانستانراتضمين نمايند .

درمرحله دوم کنفرانس ، نماينده

نوامبر ۱۹۸۰	۱۱نومبر ۱۹۸۱
اراموافق - ۱۱۱	موافق-۱۱۶
ارامخالف -۲۲	مخالف -۲۳
اراممتنع - ۱۲	ممتنع - ۱۲
غيرحاضر- ۷	غيرحاضر - ۵

گان مردم افغانستان ورژيم کابل نيز شامل کنفرانس گردند.

لا ردکارينگتن وزير خارجه وقت انگليس که رئيس نوبتي کنفرانس بود وظيفه يافت تادرين رابطه با حکمروايان مسکوتماس حاصل نمايد که درنتيجه خود کامان کرملين انرا غيرواقعبينانه خوانده ردنمودند .

گرچه کشورهاي غربي ازين پيشنهاد چيزي رابدست نياوردند ولي عملاً انها باموضعگيري متحد به مسکونشان دادند که انها تجاوزنظامي روسيه بر افغانستان راقابل قبول نمي دانند.

قبلاً نیز سران هفت کشورصنعتي اروپا درویانا مرکز اتریش درماه جون ۱۹۸۰ که بخاطر بررسي وضع اقتصادي جهاني باهم جمع شده بودند تجاوزروس ها برافغانستان رامحکوم وخواستار خروج هرچه زودتر قواي متجاوزشدند همزمان بان وزراي خارجه کشورهاي عضو پیمان ناتو درترکیه تشکیل جلسه داده ضمن رد هجوم قواي روسي برافغانستان خواستارخروج بي قید وشرط ان شدند .

کنفرانس امنیت وهمکاري اروپا که درماه جون ۱۹۸۰ (عقرب ۱۳۵۹) درمادرید مرکز هسپانیا بشمول نمایندگان تمام کشورهاي اروپا یي دایر گردیده تمام اعضاي کنفرانس عمل تجاوزوحشیانه روس بر افغانستان رامحکوم وردنموده خواستارخروج شدند .

کنفرانس پارلمان اروپا نیزکه بتاریخ ۲۰ جون ۱۹۸۲ (۳۰ جدي ۶۰) دایر گردید به تفصیل روي تجاوز روسها بحث نموده همه اعضاي کنفرانس به اتفاق ارأاین تجاوزرامحکوم وخواستار خروج بي قید وشرط ازافغانستان شدند همچنان درین کنفرانس فیصله بعمل امد که به عنوان اعتراض؛ ازتعداد دیپلوماتهاي رژیم کابل درمراکزکشورهاي اروپا کاهش بعمل امده وجنبش ازادي خواهي مردم افغانستان برسمیت شناخته شود وبان مساعدت صورت گیرد .

به همین ترتیب (۲۲) کشورعضو درزمره فعالیت هاي سیاسي خویش بر ضد تجاوز روس برافغانستان درماه دلو ۱۳۶۱ قطعنامه راتصویب وبه کمیسیون حقوق بشر ملل متحدارائه نمودند که دران

۲۹ نوامبر۸۲	۲۳نوامبر۱۹۸۳
موافق – ۱۱٤	موافق – ۱۱٦
مخالف – ۲۱	مخالف – ۲۰
ممتنع – ۱۳	ممتنع – ۱۷
غیرحاضر– ۸	غیرحاضر– ٤

ازروسها تقاضا شده بود تاعساکر خود رابدون قیدوشرط ازافغانستان خارج نموده بمردم انکشورموقع داده شود تاطرزحکومت خودرا خودشان انتخاب نمایند که این قطعنامه درکمیسیون حقوق بشر ملل متحد بااکثریت ۲۹ راي به تصویب رسید درنوامبر ۱۹۸۳ سران کشورهاي کامنویلت به اشتراك ملکه انگلستان دردهلي جدید دایر گردیددرین کنفرانس نیز فیصله بعمل امد که روسها ازافغانستان خارج گردیده به مردم انکشورحق تعین سرنوشت داده شود .

محکمه دایمي ملل که درجولاي ۱۹۷٦ درالجزایر تاسیس یافته درششمین محکمه که درستکهلم مرکزسویدن دراول ماه مي ۱۹۸۰ درباره رسیده گي وداوري پیرامون تجاوز نظامي روسها برافغانستان دایر نمود قضا ت شامل بخاطر بزرگداشت مبارزه برحق مردم افغانستان وارجگذاري به شهداي راه ازادي وطن بپا خاسته یك دقیقه سکوت نمودند .

درفرجام چارروزبحث واستماع شهود وشواهد ، فیصله نامه اي رادرسطح جهان انتشار داده دولت غداروس رابخاطر جنایات ووحشیگري بیشمارش درافغانستان یکبار دیگرمحکوم کرد .

بدینسان وزراي خارجه کشورهاي عضو جامعه اقتصادي اروپا نیز بتاریخ ۲٤ جولاي ۱۹۸۵ (۲اسد ۱۳٦٤) درنشستي ازادامه جنگ درافغانستان نگراني عمیق ابرازنموده وخواستار خروج قواي روسها ازافغانستان شدند .

باین شکل کشورهاي غربي درتمام مجامع وکنفرانس هاچه به سطح اروپا وچه درسطح جهاني همواره تجاوزجنایتبار روس برافغانستان راتقبیح وازین عمل بحیث اله فشار بر روسها ووسیله براي تشهیر نیات شوم روسها براي صلح وامنیت منطقه وجهان استفاده

جسته اند .
گرچه کشورهاي غربي ميتوانستند بامقاطعه اقتصادي برروسها اعمال فشار بيشترنمايند ولي انها نخواستند منافع اقتصادي خود را فداي افغانستان نمايند درعوض به حمايت سياسي وتاحدي به حمايت مالي ازنيروهاي جهادي افغان ادامه دادند تا«هم سيب بدست ايد وهم دل يارنرنجد »
درسازمان ملل متحد نيزتجاوز بربر منشانه روسها عكس العمل وسيع ايجاد كرد ، بدنبال اين تجاوزبتاريخ ۱۵ جنوري ۱۹۸۰ (۲٤جدي ۱۳۵۸) مجمع عمومي ملل متحد جلسه خاص اضطراري راتشكيل داده بااكثريت قاطع ضمن صدورقطعنامه مبني برخروج بلا قيد وشرط قواي اشغالگر روس ازخاك افغانستان اين عمل راتقبيح نمودند وبااين ترتيب اين عمل روسها رابحيث عمل خلا ف موازين حقوقي ،اخلاقي وبين المللي محكوم كردند ، اين فيصله نامه با ۱۰٤ راي موافق به تصويب رسيد روسها ازقبول ان ابا ورزيده دربرابر جامعه جهاني نيز موضعگيري احمقانه نمودندملل متحد ازبدوامر دردوبخش مسأله تجاوز بر افغانستان رابررسي نمود يكي درجلسات مجمع عمومي وساير نشست هاي ان سازمان ديگري دربخش تلاش درجهت دريافت راههاي حل سياسي موضوع .
درسي وپنجمين جلسه مجمع عمومي ملل متحد در۱۸نوامبر ۱۹۸۰ (۲۶عقرب ۱۳۵۸) نيز براي دومين بار مسأله تجاوزنظامي روس بر افغانستان مطرح گرديد كه بعد ازسه روز بحث داغ قطعنامه كه توسط نماينده گان پاكستان وتعدادي ازكشورهاي اسلامي به مجمع عمومي ارائه گرديده بود با

۱۵نوامبر۱۹۸٤
موافق -۱۱۹
مخالف - ۲۰
ممتنع - ۱۸
غيرحاضر- ۵

۱۳نوامبر۱۹۸۵
موافق - ۱۲۲
مخالف - ۱۹
ممتنع - ۱۲
غيرحاضر - ۵

يكصد ويازده راي موافق به تصويب رسيد .
درمصوبه مجمع عمومي امده است:
قواي روسي ازافغانستان خارج شده ومردم افغانستان حق انتخاب حكومت وسيستم اقتصادداده شود،
همچنان فيصله نامه ازسرمنشي ملل متحد تقاضا نمود تايكنفرراتوظيف نمايد كه راه حل قضيه راازطريق سياسي جستجو نمايد .
براي سومين بارنيزدرسي وششمين جلسه مجمع عمومي ملل متحد مسأله تجاوزنظامي روس برخاك افغانستان طرح گرديد وپيشنهاد پاكستان و٤۳كشورمسلمان بااكثريت ۱۱۶راي به تصويب رسيد (۹عقرب ۱۳۶۰)،درفيصله نامهٔ سي وششمين جلسه مجمع عمومي امده است كه قواي روس بايد ازافغانستان خارج گرديده بمردم افغانستان حق تعين سرنوشت شان داده شود .
به همين شكل سازمان ملل متحد درجلسات ساليانه مجمع عمومي وجلسات اضطراري هجوم روسها راقويا محكوم نموده خواستار خروج بلا قيد وشرط قواي اشغالگر واعاده حق تعين سرنوشت به مردم افغانستان شده است .
روسها درتمام اين راي گيري هابيشرمانه دربرابر افكارعامه جهان ايستاده گي نموده باهذيان مداخله امريكا، پاكستان وچين درامورررژيم دست نشانده اش دركابل،نفرت همه راكمايي مي نمود،

روسها كه با افزايش خشم جهانيان نسبت به مداخله نظامي اش درافغانستان به انزوا كشانيده شده بود اين ادعايي دروغين راارائه ميكرد كه گويارژيم كابل ازروسها طلب كمك كرده است . اين ادعا ي دروغين هيچكسي راقناعت داده

نتوانست.

روسها كه به هدف اشغال افغانستان لشكر كشيده بودند عليه مردم بيدفاع افغانستان جنگ خانمانسوز رااغازكردند،درتمام بخشهاي كشورقراُوقصبات واراضي زراعتي،وكانالهاي ابياري را عمداً بمباردمان نمودند تامردم را ناگزير به مهاجرت نمايند قواي وحشي روسي تمام اهالي رابدون تفكيك بشمول زنان ، اطفال وموسفيدان رابجرم حمايت ازمجاهدين كشتارنمودند .

قواي روس ازتكتيك هاي مختلف «نرمش ودرشتي » كارميگرفت اما روسها بدين عقيده بودند كه انها خواهد توانست با طولا نيتر نمودن جنگ ميدان راببرند وگذشت زمان رااحمقانه به نفع خويش ارزيابي مي نمودند انها كه ازهيچگونه وحشت ودهشت عليه ملت مسلمان ومظلوم ما دريغ نورزيدند بخاطر توجيه وحشيگري هاي خويش مسوووليت ادامه حضورخوددرافغانستان رابه مداخله امريكا، پاكستان وچين نسبت ميدادند.روسها دراولين سالهاي تجاوز خويش غرورعجيبي داشتند وبه فيصله هاي جهان اسلام وسازمان ملل چندان توجه نداشتند مگر بعد ازاينكه نتوانستند مقاومت مجاهدين راضعيف سازند ودرمقابل مجاهدين خودرا مغلوب احساس نمودند خودواويلاي مذاكرات را براه انداختند وحل صلح اميز مسئله را خواستار شدند ودرتلاش ان شدند تابراي اخراج قواي خويش بهانه اي را پيدا نمايند همان بود كه به ابتكارسازمان ملل

٥ نوامبر ١٩٨٦	١١نوامبر ١٩٨٧
موافق - ١٢٢	موافق - ١٢٣
مخالف - ٢٠	مخالف - ١٩
ممتنع - ١١	ممتنع - ١١
غيرحاضر- ٥	غيرحاضر- ٥

مذاكرات را براي حل مسئله افغانستان بين رژيم مزدوركابل و حكومت پاكستان تحت ميانجيگري سازمان ملل اغازيافت .

سازمان ملل متحد طبق فيصله نامه سي وششمين جلسات مجمع عمومي پريزديكويار رابحيث نماينده خاص خود درمساله افغانستان تعين نمود.

كنفرانس جهت دريافت راه حل به ميانجيگري نماينده ملل متحد بشكل غير مستقيم ميان افغانستان وپاكستان درژنيو درسال ١٩٨٣ اغازيافت.

روسها ارزوداشتند باكندساختن جريان مذاكرات درميدان نظامي موفقيت قاطع بدست اورند تابتوانند امتيازات بيشتردرمقابله بادست اورد بهتر داشته باشند بهمين دليل نماينده رژيم دست نشانده دركابل با ارائه بهانه هاي جديد ازسرعت وپيشرفت مذاكرات ميكاست بعدازچند دورمذاكرات درپرنسيب خروج قوا را پذيرفت ومدت خروج قواي روسي را مدت چارسال تعين نمود درمقابل نماينده پاكستان مدت خروج روسها راهفت ماه تعين نمود كه بعد ازچند دورديگر مذاكرات ميعاد لازمه براي خروج روبه كاهش رفت تااينكه مسكو بشكل دراماتيك بعد ازدوازده دورمذاكره مدت لازمه براي خروج قواي اشغالگرش درافغانستان رانه ماه اعلان كرد كه براي همه مايه تعجب گرديد؛ مذاكرات ژنيو مدت شش سال (١٩٨٣-١٩٨٨) دوام كرد كه درتاريخ ديپلوماسي بي سابقه ميباشد.

باين ترتيب درموافقتنامه ژنيو تثبيت گرديد كه قواي روسي طي نه ماه ازافغانستان خارج خواهندشد كه اين خروج ١٥مي ١٩٨٨ اغازيافته نصف قوا درسه ماه اول وبقيه درشش ماه دوم ازافغانستان خارج خواهند شد ومقررگرديد كه تا١٥اگست ١٩٨٨ به پايان برسد.

اجنداي مذاكرات ژنيو كه اساسي رابراي خروج عساكر متجاوزروسي

بقيه درصفحه (٦٠)

کابل ښارته دروسي قواوو دراتګ لومړۍ شیبې

لیکوال : ویلهلم دیتل **ژباړن : شیرمحمد**

پـه دي مـقـالـه کي
په تاســـو ولـولي چي :
* روســـي قواوي څنګه
دکـابل ښــارتـه داخل
شوي ؟
* ارګ او دارالامـــــان
قصـريي څـه ډول اشغال
کړل؟
* حفیظ الله امین یې څه
ډول وواژه ؟
* امـیــــن دروســـــي
قـواوو دراتـــګ څـــخـــه
خبرو ؟
* دکارمل لومړي وینا له
کومه ځایه خپره شوه ؟
* اوروســـــانو ولــــي
پرافغانســـتـان مستقیم
یرغل وکړ؟

دهغه وخت راهیسي چي نورمحمد تره کي دحفیظ الله امین له خوا وژل کیږي روسانو دحفیظ الله امین دررژیم درانسکوریدو لپـاره هلي ځلي پیل کـړي . د۱۹۷۹ م کـال دنومبر په میاشت کي غربي خبري سرچینو داسي رپوټونه خپاره کړل چي روسي پوځیان په مرکزي آسیا کي ځاي پرځاي شوي دي کابل لا ددي پوځونو څخه ناخبره ؤ دآمو دسیند ترغاړه دافـغـانسـتـان اوروسیي ترمنځ په ګډه سرحدي کرښه کي روسي پوځونه سره راټول شوي ؤ اوهم دسره پوځ داستحکام کندك چي دپلونو جوړولو کـاريي په غاړه ؤ پدي سیمه کي میشته شـــول ، پدي وخت کي نږدي (۵۰۰۰) روسي پوځي مشاورين دننه په افغانستان کي ؤ خو دغه

شـمـیـر دکـابل اومسکو ترمنځ دمـرستـو داړیکو درلودلو له امله دومـره نه ښکاریده ، دډسمبر په دویمه نیټـه دروسي دکـورنیو چارو دوزیر لومـړي مـرسـتـیـال جنرال ویکتورشمیونو ویچ کابل ته راغي اوغـوښـتل یې چي دامین سره په خبروکي هغه استعفا ته اړکړي ، خوداسي ونه شول له دي سفـرنه دوي ورځي وروستـه دافـغـانستـان اوروســـیي ترمنځ دقـــرارداد ونو دکلیـزي له امله دروسیي درهبري شوراله خوا دمبارکي تلګرام چي بریژنف اوکاسګین لاس لیك کړي ؤ ، راورسـیــد مکر پدي وخت کي پاپو تین دسـیـاسي تیـري لاري چاري لټولي .

-امین له وراندي نه پدي خبـره پوه شوي ؤ اوهڅه یې کوله چي خپله

شاوخوا پاکه کړي هغه په یوه وینا کې وویل « موږ به هیڅکله راضي نه شو چې دخپل هیواد دګټو دساتلو لپاره زموږ ددوستانو وینه تویه شي او پدې توګه نړیوالو ته اعلان کوو چې موږ به په خپله دخپل هیواد څخه دفاع وکړو»
خوامین لدې موضوع نه اګاهي نه درلوده چې مسکو دده داعدام حکم له مخکې نه لاس لیک کړي دي ، وروسته دغه خبره دکا ، جي ، بي دامنیتي مامورینو له خوا په ډاګه کیږي دروسیې حاکمه دستګاه ددې پوښتنې په ځیرلو بوخت ؤ چې ایا دامین قتل به دهغوي په ګټه تمام شي اوکه نه !؟ وروسته ... کله چې دغه کودتا دروسیې داطلاعاتو اوامنیت دسازمان رئیس « یوري اندرو پوف » له خوا طرحه شوه حاکمه هیئت خپله پلوي څرګنده کړه لکه څنګه چې دروسیې داطلاعاتو دجاسوسي سازمان په هکله یوامریکایي متخصص په یوه کتاب کې لیکي : دروسیې پیاوړي امنیتي مامورد میکائیل طالبوف په نامه ددې طرحې دپلي کولو لپاره ټاکل کیږي دغه سړي د«راس» دجاسوسي سازمان درئیسه هیئت غړي ؤ او ډیر پټ کارکوي نوموړي سازمان په پردیو هیوادونو کې دجاسوسي اطلاعاتو دراټولولو مسئول دي طالبوف په نورو هیوادونو په تیره بیا افغانستان کې بنې تجربې ترلاسه کړې وې ، اصلاً داذربایجان ؤ او په فارسي ژبه یې بنې خبرې کولې ، په خبروکې یې اشتباه نه لیدل کیده.

طالبوف د۱۹۷۹ م کال داکتوبر په وروستیو اودنومبر په لومړیو کې کابل ته راغي اودجمهوري ریاست په ماڼۍ کې دسر اشپز په توګه وګمارل شو نوموړي ته سازمان یوې رنګه اوبې بویه زهر ورکړي ؤ - چې تل به ورسره ؤ دطالبوف په ربوټونو کې لیدل کیږي چې دوه ځله یې دغه زهر دامین دڅښلو په جامونو کې ورګډ کړي دي خوامین چې ځان په خطر کې لیده دڅښلو اوخوراکي څیزونو ته یې ډیره پاملرنه کوله اوځان ته یې دڅښلو لپاره ډول ډول شربتونه ګډول له یوه جام څخه یې اوبه نه څښلې .
څرنګه چې طالبوف په اشپزخانه کې له سالون څخه لیري ؤ نودزهرو دنه تاثیر په هکله یې څیړنه کولې ونه شو .
داهغه وخت دي چې دهوائي پله له لاري روسي پوځونه افغانستان ته ننوځي اوبیاځي دډسمبر په اتمه اونهمه نیټه دپلې قواوو دوې ډلې چې دوه زره اوپنځه سوه تنه پکې ؤ دبګرام هوائي ډګرته کوز شول پدې لړ کې یوه دله دسالنګ ستراتیژیکي لاري ته ولیږل شوه هرڅومره پوځونه چې هوائي ډګرته رسیدل دتاشکند پوځي قومانداناان یې دځای په ټاکلو کې بوخت ؤ دډسمبر په ۱۷ مه دساتنې په سیمو کې ذخیروي ټول ځواکونه راغونډ شول د آ - ان - ۱۲ اوآ- ان -۲۲ غټو الوتکو دګاردعسکر او د۱۰۵ فرقې پلې اودچټکو حملو کماندو رانقلول دوه ورځې وروسته بهرني خبري سرچینې دافغانستان پولې ته نږدې د سون زیرمو ته متوجه شول ، دامین په زړه کې لا ویره موجوده وه ، هغه دیوه امریکایي لیکوال «ري تالي » سره په مرکه کې وغوښتل چې له امریکې سره زیاتې اړیکې ټینګې کړي دډسمبر په ۲۱ مه دروسي پوځونو دري ډلې دافغانستان خاورې ته داخلې شوي

او ٥ لښکري چې شمیر يې پنځوس زرو ته رسیده دافغانستان په شمالي پوله کې ځاي پر ځاي شول .

يوه اونۍ وړاندي دامریکي دخارجه وزیر اوپه امریکي کې دروس سفیر «اناتول دبري نين» سره وکتل پدي کتنه کې دامریکي دبهرنیو چاروو وزیر په افغانستان کې دروسي پوځونو دمیشته کیدوله امله خواشیني ښرګنده کړه مګر دروس سفیر ارامه ښکاریده همدا ورجمهوررئیس جیمي کارتر دبریژنیف دپراختیا غوښتني له امله نارضایتي وښوده .

دډسمبر په شمله يعني دهغي کودتا څخه يوه ورځ مخکي چې امین یکي روغ رمټ پاته شو ، دپراو داورځپانه (دروسيي دکمونست ګوند ارګان) دامریکي تورونه ردوي اوليکي:

«په افغانستان کې دروسيي پوځونو راټولیدل بې اساسه خبري دي اوداډول ادعاګاني واقعیت نلري » څوورځي وروسته پراوداولیکل «امریکائیان په افغانستان کې دانقلاب پرضد توطئي جوړوي دافغانستان په کورنیو چارو کې دشوروي اتحاد لاس وهني ریوتونه سرترپایه دروغ دي ».

اوس نو دسره پوځ تیري دساعت اوګړي خبره وه ، روسي وسله وال پوځ په بشپړه توګه دتیارسي په حالت کې وُ اوزیات شمیر برغلګري قواوي يې راټولي کړي وي دحملي نه مخکي په وروستیو شیبو کې دختیځ المان څلورپوځي ډلي



دروسيي له څلویښتمي ډلي سره یوځاي شول دمجارستان ، بلغاریا ، چکوسلواکیااوپولیند دهیوادونو دخیروي قواوي دمرستي لپاره وغوښتل شوي روسي مشورتي قواو دافغانستان په ګوټ ګوټ کې ځاي ونیوه دوي دافغانستان په هوائي ډګر کې مخابراتي دستګاوي ویجاړي کړي او دجوړولو په پلمه يې له ځانه سره یووړي اوهمدارنګه دپلچرخي فرقي دڅلورمي اوپنځلسمي زغره والو قواو (٢٠٠٠) ټانکونه يې دژمي دبخني څخه دزیانونو دمخنیوي په پلمه لدي سیمي څخه لیري کړل ، دافغانستان نورو فرقو ته امروشو چې نقلیه وسیلي اوټانکونه هوائي ډګر ته ولیږي اوپرځاي به يې نورنوي مډل ټانکونه ورکړي ، روسانو ته وروستي مناسب فرصت دډسمبر ٢٤مه دازبکستان دوزیر دراتګ په ویاړ دکابل په بین المللي هوټل کې میلمستیاوه چې زیات شمیر افغاني منصبداران اولوړرتبه ماموړینو یکي ګډون کړي وُ له بلي خوا دترمذ په ښارکي یو ګردي

میز جوړشوي ؤ اومارشال (سوکولوف) دنقشو په پلي کولو بوخت ؤ دميز شاوخواته دپوځي عالي شورا غړي چي دروسيي دڅلويښتمي قوي قوماندانان ناست ؤ ، (۶۸) کلن مارشال په دويمه نړيواله جګړه کي دتوپخاني دفرقي قوماندانۍ په غاړه درلوده.د ۱۹۷۰ کال په لسيزه کي سوکولوف دروسيي په پوځ کي دبهرني سياست لپاره ګټورکارونه ترسره کول دده تجربي اوښيرني ددي سبب شوي چي دافغانستان په مسٔله کي ستره ونډه ولري

پداسي وخت کي چي امريکا په تهران کي دخپل اشغال شوي سفارت دبرمته و په لانجه کي راګيرشوي ؤ نوروسي قواوي دسوکولوف په مشرۍ دډسمبر په ۲۵مه دشپي په ۱۱ بجو دغټو الوتکو پواسطه دکابل اوبګرام هوائي ډګرونو ته راورسيدي انتونوف دوله الوتکو ۳۵۰ الوتني وکړي عيني شاهدان چي دهوائي ډګرڅخه ليري نه ؤوايي چي په هر يوه ساعت کي ۲۰ الوتني په سترګو کيدي هغه خارجيانو ته چي دهوائي ډګرپه لانجه اخته ؤ داسي ويل کيدل چي ګواکي داالوتني دافغاني پيلوټانو له خوا دپوځي تمريناتو په وجه ترسره کيږي دبلي ورځي په سهارکي يو بدلون ليدل کيده چي دزندانونو دروازي دببرک کارمل پلويانو ته خلاصي شوي دامين درژيم سقوط ورو ورو پيل شوي ؤ پدي وخت کي د۳۶۰ مي قو ي پلي قواوي دآمو له سيند څخه تيري شوي دماري کاشکا څخه د(۵)فرقي قواوي دسرحدخواته وخوځيدي اودهرات خواته تيريدلی، دروسي قواوبوي فرقي دکندزاوتخارپه ولايتونو کي خپل بريدونه پيل کړل او دکابل په هوائي ډګر کي صحرايي خيمي ودرول شوي .

دډسمبر په ۲۶ وروسته له هغه چي دهوائي پله کارختم شو د ۱۳۶۰ قوي لوموړني ټانکونه دپايتخت په شمالي سړکونو باندي په حرکت کي ؤاوکله چي کابل ته راورسيدل نوبي ځنله يي دريشخورو دفرقي په محاصري پيل وکړ، ۱۰۵ لمبر قوه پلچرخي ته ولاړه او (۳۵۷) لمبر پوځ دفرقو دتاسيساتو په نيولو بوخت ؤ ، دکابل،بګرام اوشين ډنډ هوائي ډګرونه دميك ۲۱، ميك ۲۳ شکاري اس - يو - ۱۷ اواس -يو -۲۴هليکوپټرو څخه ډك ؤ ټولي سوق الجيشي سيمي دکا ، جي ،بي دځواکونو په لاس کي وي دځينو روسي الوتکو پرسينه باندي د افغانستان دهوائي پوځ نښني وهل شوي وي اوځينو يي دايروفلوټ نښني درلودي لوموړنۍ ډله چي دروسانو دغيرعادي تګ راتګ په مقصدپوه شول دامين دحکومتي رژيم ضد ځواکونه ؤ چي په هري الوتکي يي دکيناستو په وخت کي ډزي کولي لدي امله يوه روسي آ- ان - ۱۲ ډوله الوتکه ولګيده اواوريي واخسته .

په هرصورت دروسيي ټول پلانونه په ښه توګه پرمخ تلل په دارالامان کي دامين اوجنرال پاپوتين ترمنځ خبري رواني وي پاپوتين غوښتل چي امين دقدرت څخه لاس په سرشي اوهم بوليك ورسره ؤ څودافغانستان حکومت په رسمي ډول روسانو ته دداخليدو اجازه ورکړي خوامين دپاپوتين له تهديد سره سره ددواړو مسٔلو څخه انکار کاوه .

يومنصبدارسرورشينواري چي دروسانو له يرغل نه وروسته

پاکستان ته تللي وُ د دسمبر د ۲۷ نیټې جریان داسې بیانوي «پدې ورځ کله چې دفتر ته ننوتم ومې کتل چې یو روسي منصبدارزما دمیزشا ته ناست دي روسي عسکرو زه اوزما افراد ګام په ګام څارلو موږته دهیڅ کارموقع نه وه اودومره مو وکړي شول چې بیرته خپل کورته ولاړشو، دتیري په توله موده کې افغانانو ته دمداخلې حق نه وُ ورکړشوی»

امین اودهغه ۲۲ تنه ساتونکي دخلکو کورڅخه ددارالامان ماڼۍ ته نقل شوي وُ دغرمې په ۱۲ بجو دجمهوري ریاست دماڼۍ (دارالامان)دزوال زنګ ووهل شو اود امین درژیم درانسکوریدو ننداره پیل شوه روسي مشاورینو په ماڼۍ کې دوسلو په راټولو لو پیل وکړ اودګارد عسکرو ته داسې ویل کیده چې نوي وسلې ورته ورکول کیږي ، دګارد یوه عسکر داجریان داسې بیانوي :

«موږهره اونۍ دپنجشنبې ورځ په استراحت کې تیراوله‌پدې وخت کې زه دجامو په راټولولو کې وم اوله وداڼۍ څخه دوتلو اراده مې درلوده چې یوروسي ترجمان زما کوټې ته ننوت اوزه یې ازبکي خوراك ته دعوت کړم دغه دعوت یوه عادي عسکرته له شك اوتردید سره وُ کله چې ماغوښتل بهرته ولاړشم ناڅاپه مې خپل یوه ملګري ته پام شوچې بې هوښه پرځمکه لویدلی

دي ، دهغه په لیدو سره زه هم سرګنس شوم اوپه ډیکو ډیکو دسالون منځ ته ورسیدم اوپرځمکه ولویدم وروسته مې پرخپل قوماندان محمد یعقوب باندې سترګي ولګیدې چې پرځمکه پروت دي اویو شمیر روسي مشاورین تري راتاودي خوځیدي پوه نه شوم چې مړدي اوکه ژوندي مګرپه هماغه ورځ وژل کیږي ماهغه وکړه چې ټیلفون ته لاس اوږدکړم خوبیا هیڅ پوه نه شوم څه موده وروسته پداسې حال کې چې یوه مرمۍ مې په شا اوبله مې په مټ لګیدلي وه دروغتون په بسترکې پروت وم اووروسته خبرشوم چې ددارالامان ټول ساتونکي یې له منځه وړیدي »

دامین پاټي عسکرو د دسمبر د ۲۷ مې په وروستیو کې سنګرونه نیولي اوپاپوتین یې دبرمته په ډول ساتلي وُ اواعلان یې وکړ چې ترڅو ژوندي دي جګړه به کوي ، جنرال ویکتور پاپوتین دشپې په ۷ بجو دساتونکو له خوا وژل کیږي اوجنازه یې یوه ورځ وروسته مسکو ته لیږي خودروسي حکومت دذهنونو دمغشوشولو لپاره دهغه مرګ په ځان وژنې بدل کړي وُ.

حفیظ الله امین دکارپه دفترکې راګیرشوي وُ دشپې له ۶،۳۰ بجو نه وروسته یې ټیلفون کارنه کاوه اودټولو قوماندانانو سره یې اړیکې

پاټي (۵۲) مخ کې

د روسانو دیرغل په مقابل کې داسلامي نړۍ عکس العمل

سید محي الدین « هاشمي »

دیرغلگرو روسانو اودهغوي دمزدورانو (خلقیانو – پرچمیانو) په وړاندې دمؤمنو افغانانو په تش لاس ، خو دایمان اوعقیدې په وسله سمبال اسلامي پاڅون له هماغه لومړیو شیبو څخه په خاصه توگه په لومړي قدم کې دگاونډیو اسلامي هیوادونو اوبیا دټولي اسلامي نړۍ اوپه عامه توگه ددریمې نړۍ دآزادو ، خپلواکو اوناپیلوهیوادونو دننگې اوتائید وړوگرځید اوهرچا دخپل وس اوتوان په اندازه له بیوزلو اوبې دفاع افغانانو څخه په بیلو بیلو بڼو خپله ننگه اوملا تړ څرگندکړه.

معلومه خبره ده چې مؤمن افغانان له روسانو اودهغوي له مزدورانو سره په دغه مخامخ نااانډوله جگړه کې دوروڼو اسلامي هیوادونو مرستې اوملا تړ ته اړوو اودي ، له یوې خوا دروسانو دزورزیاتي اوبیدریغه وحشت له امله زیات شمیر مؤمن افغانان دخپلې حیا اوناموس دخوندي ساتلو اوبیا ددښمن مقابلې ته دچمتو کیدلو په هیله دمبارکو قرآني ارشاداتو په رڼا کې هجرت کولو ته اړشول ، نوله همدې امله مجبوروو چې دژوندانه دلومړنیو غذایي موادو ، پوښاک ، اونورواړتیا وړشیانو دپوره کولو لپاره یې دوروڼو اسلامي هیوادونو بې قید اوشرطه مرستو ته لاس اوږد کړي واي .

دیادولو وړده چې په مقابل کې اسلامي نړۍ اکثرو هیوادونو دخپلو مسلمانووروڼو ددغه دردونکي اوخواشینوونکي حالت په لیدلواو اوریدلو سره دخپل وس اوتوان په انډول خپلو افغاني مسلمانو وروڼو ته دمرستې اوږدلیني لاس ورکړي دي .

هریو خپلواک اسلامي هیواد دافغانانو پر خاوره دروسانو مستقیم تیري اویرغل گټلي اوغندلي اوپه ملي اونړیوالو کنفرانسونو کې یې روس یو یرغلگراوتیري کوونکي ځواک بللي ، له افغانستان څخه یې دهغوي دژراوبې قید وشرطه وتلو، افغانانو ته یې پخپله دخپل برخلیک (سرنوشت) ټاکلو دحق ورکولو اودهغوي دخپلواک اسلامي هویت دتحفظ اوخوندي ساتلو غوښتنه کړې ده .

زه دلته پخپله لیکنه کې پر افغانستان باندې دروسانو دمستقیم یرغل په وړاندې داسلامي نړۍ دعکس العمل دموضوع دښه وضاحت په خاطر غواړم چې لومړي داموضوع داسلامي هیوادونو

دمشرانو ، دبهرنیو چارووزیرانو اونوروإسلامي ملي اونړیوالو کنفرانسونو په رڼا کي وڅیړم اوبیا په ځانګړي توګه دیو شمیر هغو اسلامي هیوادونو پر دریځ اوموقف څه ناڅه بحث وکړم چي هغه یا له افغانستان سره ګډه پوله لري له یوي خوا پر افغانستان باندي دروسانو مستقیم تیري په دوي هم ژوره اغیزه کوله اوله بلي خوا دخپل اسلامي مسوولیت اومکلفیت له مخي پري لازمه وه چي له مؤمنو افغانانو سره همدردي اوخواخوږي وښیي . اوهمدارنګه هغه هیوادونه چي که دواټن په لحاظ دافغانستان له پولو څخه لري پراته دي ، خو دخپلي اسلامي ورورولۍ ،همدردي اوخواخوږۍ له مخي یي دیرغلګرو روسانو په وړاندي دافغانانو دجهادي پاڅون کلکه پلوي کړي له یوي خوا یي دوي سره ډول ډول مالي مرستي کړي اوټولو ملي اونړیوالو کنفرانسونو کي یي دمؤمنو افغانانو په ننګه اوملاتړدریځ نیولي اوپر افغانستان باندي یي دروسانو مستقیم یرغل په کلکه غندلي دي.

الف: داسلامي هیوادونو دسرمشرانو ، دبهرنیو چارو وزیرانو اونوري اسلامي غونډي اوکنفرانسونه :

لومړي : داسلامي هیوادونو دسر مشرانو کنفرانسونه :

پر افغانستان باندي دروسانوله مستقیم تیري (۱۳۵۸هـ ش دجدي ۶) څخه ځلوراؤني وروسته داسلامي هیوادونو دسرمشرانو دریم کنفرانس د۱۳۵۹هـ ش کال ددلوي پنځمه (۱۹۸۱ع دجنوري ۲۵) په طایف کي جوړشو .

چي په هغه کي په ډاګه پرافغانستان باندي دروسانو مستقیم تیري محکوم اوله روسانو څخه دبي قید وشرطه وتلو غوښتنه وشوه.

دري کاله وروسته په ۱۹۸٤ دجنوري په ۱٦ داسلامي هیوادودسرمشرانو ځلورم کنفرانس په (   ) کي جوړشو چي په اجنداکي یي دافغانستان قضیه شامله وه .

په دغه کنفرانس کي پر افغانستان باندي دروسانو دمستقیم تیري موضوع د بحث اوغورلاندي ونیول شوه اوپریکړه وشوه چي :

۱-روسي قواوي دي بي له کوم قیداوشرطه له افغانستان نه ووځي.

۲- مهاجرین دي په عزت اودرناوي خپلو کورونو ته ستانه شي .

۳- دافغانستان خلکو ته دي داحق ورکړل شي چي پخپله خوښه خپل سیاسي اواقتصادي رژیم وټاکي .

٤ - دافغانستان اسلامي هویت اوبې طرفي دي تضمین شي.

دویم :داسلامي هیوادونو دبهرنیو چارودوزیرانو کلنۍ غونډي :

پر افغانستان باندي دروسانو دمستقیم یرغل څخه څو ورځي وروسته داسلامي هیوادونو دکنفرانس دیوه غړي هیواد بنګله- دیش دجمهوررئیس ضیاألرحمن په غوښتنه داسلامي نړۍ د۳۹هیوادونو داستازیو په ګډون دپاکستان په مرکز اسلام اباد کي یوه فوق العاده غونډه جوړه شوه چي په هغي کي یي پر افغانستان باندي دروسانو مستقیم تیري په کلکه محکوم کړ اوهغه یي دټولو نړیوالو اصولو اومقرراتو خلاف وباله .

په همدغه غونډه کي یي داسلامي هیوادودبهرنیو چارو دوزیرانو په کلنۍغونډه کي دروسانو دمزدوررژیم غړیتوب هم وځنډاوه . دافغانستان څوکۍ یي خالي پریښودله.

په کنفرانس کي له ټولو غړیو هیوادونوڅخه غوښتنه وشوه چي دغه مزدوررژیم چي دافغانستان دمؤمن ملت اواولس له ارادي پرته دپردیو په زورتپل شوي دي په رسمیت ونه پیژني اوله هغه سره دي مرسته قطع شي . په مقابل کي

پریکړه وشوه چې ټول اسلامي هیوادونه باید دهغو مؤمنو افغانانو چې دروسانو او دهغوي دمزدورانوپر ضد یې وسله وال جهاد پیل کړي دي اوهغوي چې هجرت یې کړي هراړخیزه مرسته اوملاتړ وشي.

دروسانو له مستقیم تیري څخه وروسته د۱۹۸۱ع کال دمې ۱۷-۲۲داسلامي هیوادونو دبهرنیو چارو دوزیرانو کلنۍ غونډه دپاکستان په مرکز اسلام اباد کې جوړه شوه .

ددې غونډې داجنداٴ په سرلیک کې هم پر افغانستان باندې دروسانو دمستقیم یرغل قضیه شامله وه ، چې دغوراوبحث په نتیجه کې پریکړه وشوه چې یرغلگرروسان باید خپل پوځونه بې له کوم قید اوشرطه دافغانستان څخه وباسي.

پر افغانستان باندې دروسانو له یرغل څخه وروسته داسلامي هیوادونو

دبهرنیو چارودوزیرانو دریمه دپرله پسې ۱۲کلنې کنفرانس د۱۹۸۲ ع کال داگست په ۲۳نیټه دنایجریا په مرکز کې جوړشو . په دغه کنفرانس کې هم دمخکې په شان دمجاهدینو استازیو ته دناظرینو په توگه دگډون اجازه ورکړل شوه ، دافغانستان پر موضوع غوراوبحث وشواودمخکینې غونډې په پریکړه لیک تاکید وشو .

څلورمه (پرله پسې ۱۳) کلنۍ غونډه دبنگله دیش په پایتخت ډاکه کې جوړه شوه په اجنداٴ کې یې دافغانستان قضیه شامله وه ، دکنفرانس په پریکړه لیک کې یادونه شوې وه چې روسان باید له

دبهرنیو چارو دوزیرانو کلنۍ غونډه په هراسلامي هیواد کې جوړه شوې دافغانستان قضیه یې داجنداٴ په مهمو سر لیکونوکې شامله وه اوهرځل په بشپړ اکثریت سره داسې پریکړه لیکونه تصویب شوي چې په هغو کې له افغانستان څخه دیرغلگرو روسانو په وتلو

> *پرافغانستان باندې دروسانو دمستقیم تیري څخه څلوراونیم وروسته داسلامي هیوادونو دسرمشرانو دریم کنفرانس د۱۳۵۹هـ ش کال ددلوې په پنځمه طایف کې جوړشو چې په هغه کې په ډاگه پرافغانستان باندې دروسانو مستقیم تیري محکوم اودروسانو څخه دبې قید اوشرطه وتلو غوښتنه وشوه.*

افغانستان څخه ووځي اومؤمنوافغانانو ته دې دخپل سرنوشت ټاکلو حق ورکړي .

داسلامي هیوادونودبهرنیو چارودوزیرانو (۱٤مه) غونډه په ۱۹۸٤ع کال دډسمبرپه ۱۹ مه نیټه په شمالي یمن کې جوړه شوه ، دافغانستان پرقضیه دغوراوبحث په ترڅ کې پریکړه وشوه چې روسان

باید خپل پوځونه له افغانستان څخه وباسي ، افغانانو ته دې دخپل سونوشت ټاکلو حق ورکړل شي .

دغسې په راوروسته کلونو کې هم چې هرکال داسلامي هیوادونو

اوافغانانو ته دخپل سرنوشت ټاکلو دحق ورکولو په موضوع تاکید اوټینگارشوي دي ، ترڅو چې له افغانستان څخه دروسي قواووتروتلو وروسته په ۱۹۸۹ ع کال کې په سعودي عربستان کې داسلامي هیوادونو دبهرنیو چاروزیرانو په کلنۍ غونډه کې دافغانستان چوکۍ چې دروسانو له یرغل څخه وروسته خالي وه دمجاهدینو عبوري حکومت ته ورکړل شوه.

دریم: <u>پوښمیر نوراسلامي کنفرانسونه :</u>

«اسلام امروز» کنفرانس : دغه

کنفرانس د۱۹۸۳ع کال د دسمبر په
لسمه نیټه د پاکستان اسلامي
جمهوریت په مرکز اسلام اباد کې
جوړشوي ؤ چې په هغه کې
دافغانستان دمجاهدینو مشرانو په
شمول دزیاتو اسلامي هیوادونو
نمایندګانو اواستازیو ګډون درلود .
دغه کنفرانس دپاکستان دشهید
جمهوررئیس جنرال ضیاالحق له خوا
افتتاح شو په دغه کنفرانس کې
دافغانستان قضیه په ژوره توګه
تربحث اوڅیړنې لاندې ونیول شوه
ټولو په یو غږ په افغانستان باندې
دروسانو مستقیم تیري وغانده او له
مجاهدینو اومهاجرینو سره یې
دمرستې اوملاتړ پر موضوع
ټینګار وکړ همدارنګه د۱۳۶۳هـ ش
کال دسنبلې دمیاشتې په ۲۶ نیټه
(۱۹۸۴دسمبر۱۷) یوبل اسلامي
کنفرانس دمؤتمر عالم اسلامي له خوا
په اسلام اباد کې جوړشوي ؤ چې
په هغه کې داسلامي هیوادونو
استازیو اودنورو نړۍ دمسلمانانو

نمایندګانو برخه اخیستې وه.په دغه
کنفرانس کې هم دمجاهدینواستازیو
ګډون درلود .

په کنفرانس کې دافغانستان ،
کشمیر اوفلسطین قضیې تربحث
لاندې ونیول شوې ، خو دکنفرانس
په پای کې چې کومه قطعه نامه
صادره شوه په هغه کې دافغانستان
دقضیې په اړه د«روس» دنوم له
یادولو څخه ډډه شوې وه او پرځای
یې یوازې په دې خبرې اکتفا شوې
وه چې « بهرني » قواوې دې له
افغانستان څخه ووځي .

په همدې ترتیب نورلوي اوواړه
کنفرانسونه هم په بیلابیلو اسلامي
هیوادونو کې جوړشوي دي اوپر
افغانستان باندې دروسانو مستقیم
تیري پکې په کلکه غندل شوي دي
اوله مؤمنو افغانانو سره دننګې
اوملاتړ غږونه شویدي . ۰

ب: دځینو اسلامي هیوادونو ځانګړي دریځ ته یو ځغلنده کتنه :

مؤمنو افغانانو لومړي دروس
دمزدورانو (خلقیانو – پرچمیانو)
پرضد چې دروسانو هرډول مرسته
اوملاتړ ورسره ؤ په تش لاس
خودایمان اوعقیدې په قوت وسله
وال جهاد پیل کړ اوچې کله روسانو
ولیدل چې نوریې نو مزدوران
دمجاهدینو په وړاندې دمقاومت
ځواک نلري مستقیماً یې
دافغانستان پرخاوره یرغل وکړ
اوپه خپل ټول زوراوځواک یې
دمؤمنو افغانانو ځپل اولوټل پیل
کړل .

دروسانو اودهغوي دمزدورانو
دزورزیاتي په نتیجه کې یو زیات
شمیر افغانان ګاونډیو اسلامي
هیوادونو (پاکستان اوایران) ته
په هجرت کلو مجبورشول .

په دې کې شك نشته چې پر
افغانستان باندې دروسانو مستقیم
تیري دټولو نړیوالو اصولو
اوموازینو پرخلاف اودنړۍ په
معاصر تاریخ کې یوه ستره فاجعه
وه چې ویښ بشري وجداني ته یې
سخت تکان ورکړ ، ددغه تیري په
وړاندې تقریباً ټول اسلامي
هیوادونه په عامه توګه اوګاونډي
اسلامي هیوادونو په خاصه توګه
دافغانستان دمجاهد ملت پلوي وو
اوپه دغه برخه کې دهرچا ننګه
اوملاتړ پخپل ځای دیادونې
اوستاینې وړدي .

دلته دبیلګې په توګه دهغو
هیوادونو په یادونه اکتفاء کوو چې
دافغانستان دقضیې په وړاندې یې
دنورو په نسبت دریځ ثابت
اواغیزمن ؤ:

زما په عقیده په دغه لړ کې
دلومړیتوب حق دپاکستان اسلامي
جمهوریت ته حاصل دی چې
زموږ دهیواد په ګاونډکې پروت
اوورسره څوسوه کیلومتره ګډه پوله
لرو ، نومعلومه خبره ده چې پر
افغانستان باندې دروسانو
دمستقیم تیري اوله هغه نه
راپیداشوي کړکیچ پر پاکستان
باندې ترهرچا زیات مستقیم اوغیر
مستقیم اغیزدرلود .

دغه اسلامي هیواد له پیل څخه

پاتې په (۵۹) مخ

پر نړيوال اسلامي غورځنګ د افغانستان دجهاد اغيزې

عبدالله «خرم»

هغه وخت چې کمونستانو په افغانستان کې کودتاوکړه ،مارکسيزم ديوې قوي اوبريالي نظريې په حيث دنړۍ رهبرې ته ملاتړلې وه ، که څه هم چې په علمي اواکادميك ماحول کې دډيالکتيك ماترياليزم اوتاريخي ماترياليزم نيمګړتياوې لا پخوا په ډاګه شوې وې اودساينس په ساحه کې نويوپرمختګونو ددارون دانواع دهغوې دتکامل دفرضيې ترمخ دسوال ډيرې علامې ايښې وې ، داشتراکي اقتصادتيوري خوان دلينن اوستالين په زمانو کې غيرعملي ثابته شوې وه،خودعامو خلکو په منځ کې اودنړيوالي ټولنې په سترګو کې د «شوروي اتحاد» نظامي اوساينسي پرمختګونو اوکمونيزم ته ددريمې نړۍ دهيوادونو زياتيدونکي رجوع ملاکوله .

پورتنيو عواملو مارکسيزم ديوې منطقي اوفاتحې نظريې په حيث معرفي کاوه.

بلې خواته هغه تخم چې افغاني سيدجمال الدين يوه پيړۍ مخکې کرلې ؤ زرغون شوې ؤ اوورو ورويې په ودې کولو شروع کړې وه.

سيدجمال الدين ديوه اوږده رکود نه دلومړې ځل دپاره داسلام غږاوچت کړ که څه هم چې دافغاني سيد هلو ځلو هغه وخت دده دانتظارسره سمه نتيجه ورنکړه ، خودده آوازهيڅکله چوپ نه شو اودده داعيه دتل دپاره ژوندۍ پاتې شوه ، ورو-ورودسيدجمال الدين دافکارونه متأثر علما سره منظم کيدل اوخپلو فعاليتونو ته يې دشکل ورکولو کوښښ پيل کړ، په دې لړ کې ډيرمبارزاوجيد عالمان پيداشول چې ددوې کارنامې اوباارزښته آثار داسلامي نړۍ دافتخاراتو جز وګرځيدل اودهغوې نوم يې دتل دپاره ژوندي وساتلو ، داهغه دوره وه چې داسلامي نظرلرونکو غوښتل حد اقل خپل موجوديت ثابت کړي ، خپل ژوندون اوتحرك وښيي اودانړۍ ته په ډاګه کړي چې کولې شي دځوارلسو پيړيو په تيريدلو سره اودډيروعلمي-ساينسي پرمختګونو سربيره خپل حيات ته ادامه ورکړي.

له بله پلوه اسلام په دې پړاو کې بايد ددووعلتونو په اساس ديوې متحرکې ، مبارزې اوحتې جنګيدونکې نظريې بڼه ځانته غوره کړې واي ؛ يوداچې اسلام دسياست له ډ ګر څخه دلرې دين په حيث معرفي شوې ؤ ،بل داچې مارکسيزم دمبارزې ، تضاد اومقابلې لغتونه داسې رواج کړې وو چې ګواکې داديوې مترقي

ايډيالوژۍ،حياتي صفاتو نه عبارت دي !!! تضاد ، مبارزه اوتشدد دهغه وخت دمبارزينو مو ږ ګر- ځيدلي يو ، همدا علت ؤ چي ځني دپرديو په لاس روزل شوي پوهان په دي برخه کي دومره تحريك شول چي بالاخره داسلام له اصلي خط نه انحراف ته کاږه شول اوداسلام نه يي يوډول مادي اوطبقاتي څيره خلکو ته وړاندي کړه،خوديادولو وړده چي داډول افکارو هيڅ وخت دمسلمانانو دضمير په تل کي ځاي ونه نيو اونه يي په اسلامي ټولنه کي کوم خاص ځاي اشغال کړ، اوبرخلاف هغو علماوؤچي په مسوولانه توګه يي غوښتل داسلام اصلي څيره خلکوته وروپيژني ، عمل يي انفعالي اومقطعي بڼه ونه لري ، په مسلمانانو کي پراخ ملاتړترلاسه کړ .

دوي غوښتل په مسلمانانو کي پر ځان باندي داتکاءاحساس راژوندي کړي اواسلامي ټولنه داسلام طلايي عصر ته وروګرځوي ، هغوي خپلي روښاني ماضي ته متوجه کړي دغه علما مجبوروو چي دځوان نسل کوم چي دعصري علومو سره اشنا ؤ فکري خلاً ډکه کړي ، دمروجو افکارو اونظريو په مقابله کي داسلام لوړتيا اوصحيح منطق په اثبات ورسوي ، چي دغه هدف ته درسيدلودپاره په لومړي قدم کي ددووکارونو سرته رسول ضروري وو:

لومړي داچي بايد داسلام له نظره يوه ايډياله ټولنه انځورکړي دهغي ټولني بنيګني اونيکمرغۍ په ګوته کړي اودوهم داچي داسي يوي ټولني ته درسيدلو دپاره مناسبه لاراوطريقه وښيي ، ځوان نسل ددغو دووشيانو غوښتنه کوله ، دهغوي سره دايم داپوښتنه مطرح وه چي که اسلام نيکمرغه ټولنه جوړولاي شي ، که اسلام پر آخرت سربيره ددنيا ، کاراوفعاليت دين دي ، نوولي په نړۍ کي ترټولو بدمرغه انسانان داسلامي هيوادونو اوسيدونکي دي ؟ ولي اعراب دنړۍ دانرژي دذخيرو په لاس کي لرلو سره سره ديوموټي اسرائيل په مقابله کي ناکام پاتي شوي دي ؟ ولي هرځاي فقراوبدبختي دمسلمان سره لاس اوګريوان ده ؟ مسلمانو عالمانو دي ټولو پوښتنو ته صرف يوځواب درلود ، هغه داچي مسلمانانو دخپل اصلي مسير نه انحراف کړي ، هغوي داسلام دپيغمبراوداراشده خلفاؤ دطريقي نه سرغړونه کړي ده .

بيا داپوښتنه مطرح کيدله چي آيا دپيغمبر اوخلفاؤدورته دورګرځيدلو

په آذربايجان کي روسي پوځيان دمسلمانانو دپاڅون دآراملو هڅي کوي.

لارکومه ده ؟

ځواب یو شي ؤ : «جهاد»

مگر بدبختانه په مسلمانانو باندي داسي رخوت اوسستي حاکمه وه چي حتي دخپل دفاع توان یي نه درلود ، داسرائیلو سره دجگړي دپاره یي دامریکا نه وسله ترلاسه کوله اودخپل ورځني ژوند داړتیا وړشیان یي هم پخپله نه شواي تهیه کولاي اودبې شمیره سرمایو دلرلو سره سره دصنعتي هیوادونو پوروړي وو.

دفلسطین دوامدا راشغال اودبیت المقدس په آزادولو کي دمسلمانانوپرله پسي ماتي اوناتواني دمسلمانانو روحیه بیخي وژلي وه ، په داسي شرایطو اوداډول محیط کي کوم منطق ؤ چي داسلام دتحرک اوجهاد نه خبري وکړي ؟ ایا داځنگه جهاد ؤ چي په هغه باندي معتقد ملت دځمکي پر مخ ترټولو خواراومحکوم ملت ؤ اوداسلامي نمونه ټولنه خو په ټوله نړۍ یوه بیلگه هم موجوده نه وه .

دمسلمانانو دویښیدلو په درشل کي اوحرکت اوعمل ته دتصمیم نیولو اولارو لټولو په سرحد کي ووچي په افغانستان کي اسلامي انقلاب پیل شو ، لږموده وروسته په ایران کي هم همداسي یوغږاوچت کړي شوچي دغو حرکتونو دنړۍ

په نیول شوي فلسطین کي داسرائیلو په مقابل کي دمسلمانانو مبارزي شدت موندلي

اسلامي غورځنگونوکي دژوند ساپوکړه اواسلام دیوي نظریي په حیث په ټوله نړۍ کي مطرح اوقبول شو .

نړیوالو دسر په سترگو ولیدل چي اسلام دوه ملتونه په حرکت راوستلي ، چي دادواړه ملتونه دټولنیز عدالت دحاکمولو اودتیري اوظلم دورکولو دپاره جد اوجهد کوي.

دسني اوشیعه پخواني درد چي داسلامي نړۍ هډوکي یي دسلهاوکلونو راهیسي سوځول په کرارکرار په ورکیدو شو داتحاد ، وروري اودوستۍ روحیه راژوندۍ شوه .

خودهغه علت په اساس چي لاتراوسه پري نه پوهیږو دایران دانقلاب په شنه آسمان کي دیرژر دعصبیت اونفرت توري وریځي راښکاره شوي ، اودایران اسلامي انقلاب چي دنړۍ مسلمانانو پري افتخارکاوه اودخپلو خوږوخوبونو نیك تعبیر یي گڼلو په محض ایراني اوصرف شیعي انقلاب تبدیل شو، داواقعه دنړۍ مسلمانانوته تریوي غمناکي الهي کمه نه وه ، ځکه هغوي نه غوښتل دومره ژر دیو اسلامي حرکت دانحراف شاهدان واوسي ، دادهغوي دانتظارخلاف ؤ ، اوبالاخره داداسلام ددښمنانو لومړي سویه بلل کیدلي شواي خودافغانستان انقلاب لا هماغسي دنړۍ مسلمانانو ته دامید دیواځنۍ مرجع په توگه پاتي شوه دغه انقلاب په مسلمانانو کي پرځان باندي داتکا احساس راپیداکړ، دجهاد متروك

سنت يي بيرته راژوندی کړ، دظالم په مقابل کي دمقابلي لاربي مظلومانو ته وروښود له اودنړۍ استعماري قوتونه يي دي ته مجبورکړل ترڅو اسلام اومسلمانان ديو قوت په حيث وپيژني .

دعربي ملکونو خلك چي ډيوي پيړۍ راپديخوا داستعمارله خوا په ورو ورو برخو ويشل شوي وو اودصهيونيزم دظلمونو نه يي په زړه باندي زخمونه درلودل ددغه انقلاب نه دمقاومت اواستقامت درس واخيست ، زيات شمير فلسطيني ځوانان دخپلو مشرانو دخيانتونو نه په تنگ شوي وو ، اودکفر پر ضد مبارزي کولو ميني ارام ته نه پريښودل ، دافغانستان جهاد يي جذبي راوپارولي اوداسرائيلو پر خلاف تحريك يي بله بنه غوره کړه اوپه نيول شوي فلسطين کي د«انتفاضه تحريك»دغه دقهرمانيو اوقربانيو حرکت پيل شو هغه حرکت چي دټانکونو اوالوتکو مقابله په کانو اوډبرو سره کوي .

دعبدالله عزام په شان مبارزينو له يوي خوا دافغانستان دجهاد سره مادي اومعنوي مرسته کوله اوله بلي خوايي په فلسطين کي داسلامي غورځنگ دپياوړي کولو هڅي کولي ، په دي ترتيب په غربي نړۍ ، آسيا ، اروپا اوامريکا کي داسلام غوښتني روح ژوندي شو ، په غربي ملکونو کي په ډير ه کمه موده کي دجوماتونو شمير دلس گونو نه سلگونو اوزرگونو ته اوچت شو ، دنړۍ په مسلمانانو کي يوله بل سره دمرستي اوکومك سوچ پيداشواوټولو مسلمانانو په انفرادي اوډله ايزه توگه دافغانانو دجهاد سره مرستي پيل کړي په تونس ، اردن ، اوالجزاير کي دمسلمانانو پرمختگونه دافغانانو دجهاد سره کلکي اومضبوطي اړيکي لري .

همدارنگه موږوينو چي دجنوبي آسيا په سيمه کي هره ورځ دواقعي اسلام دژوندي کولو حرکتونه پراختيا مومي .

کشميري مبارزين دهند پرضد دمظاهري په حال کي

په کشمير کي مسلمانانو چي کلونه کلونه يي دهندوانو مظالم تحمل کړي وو دجهاد لارغوره کړه اودکشمير دآزادولو دپاره يي مبارزه پيل کړه اودهندوستان مسلمانانو دهندي واکمنو دعامو وژنو سره سره خپل مقاومت ته ادامه ورکړه .

په منځني آسيا اوچيني ترکستان کي پر مسلمانانو دومره سختي ورځي تيري شوي دي چي حتي په جوماتونو کي به ورته دمارکس اولينن عکسونه نصب کيدل ، روسانو دمنځني آسيا دمسلمانانو جمهوريتونو دخلکو فرهنگ ، عقيده اوحتي رسم الخط بدل کړل ،خوکله چي افغانانو دروسانو په مقابل کي مقاومت وکړ اومخصوصاً کله يي چي هغوي ته ماته ورکړه دبخارا يي مسلمانانو سره داسوال پيداشوچي څنگه افغانان کولاي شي روسان له خپلي خاوري وباسي اودخپل دين اوناموس دحريم نه دفاع وکړي

پاتي (۲۹) مخ کي

ژباړن : شهریار

داورپر سکروټو تیرشوي وختونه

دننگرهاردولایت اوســیــدونکي فصیح الله د۱۹۸۸ ع کال دجنوري په میاشت کي دکابل دکمونستي حکومت له زندان څخه خلاص شو هغـه دخپل زنداني کیـدو په باب وویل:

په ۱۹۸۲ ع کـال کي کله چي مـا دکابل په خواجه رواش نومي هوایي ډگــر کي وظیــفــه اجـراکـوله کمونستانو ونیولم ، دخاددفترته یي بوتلم اوهلتـــه یي پـه یوه زیرزمیني کي بندي کړم.دخاد یو مـستنطق دپوښتنو لپاره مـاښام راغي اوله ما څخه یي پوښتنه وکړه چي ته کله پیـښـوړته تللي وي ؟ ستانورملگري څوك دي ؟ زه چپ پاتي شوم په دغه ورځ یي پوښتني یوازي په ډیره قهرجنه لهجه وکړي.

دوهمه ورځ همغه منصبدارچي ښه تیــره چاقـــو هم ورســره ؤ دوو نورومملگرو ســره راغي دواړو په زوربانـدي زمـا مټ ونیـو اودخـاد مـستنطق په تیره چاقـو زمـا دښي لاس یونو ك وایستلو ، درد بیـخي دزغم وړنه وو خـودهغـوي په زړونو کي هیڅ رحم نه ؤ .

زه داولني نوك دویسـتـو ددرد له لاسـه په چیغـو وم چي هغـوي زمـا دچپ لاس یو نوك هم په دغه تیـره چاقـو بـاندي وایستلو . داکـاربه ما سره هره شپه کیده اودوه نوکان به یي په همـدي طریقـه زمـانه ویسـتل چي کله نوکان خلاص شول نوهغوي زمادسردویښتو په ویستلو پیل وکړ دویښـتـو دشکولو اوویستلو کـارهم ترهغه وخته پوري وو ترڅو چي زما په سرویښته هم پاتي نه شول.

چي کلـه ویښـتـــه خــلاص شـــول نوهغـوي زمـادغـاښـونو په ایسـتلو شروع وکړه هرشپه به یي یوغاښ له ماڅخه ویستو اوپوښتنه به یي کوله چي ووایه ستاملگري څوك اوچیرته دي؟دغـــه ظلم اوربړي (شکنجي) څلورشـپي ســرپه ســر جـاري وي اودڅلوروغـاښـونو څخه یي خلاص کړم.ددري میاشتو.شکنجو نه پس یي زه دخـواجـه رواش له زندانه یوه داسي ځـاي تـه یووړم چي ښکلي مـډرن مـیـزونه اوچوکۍ کوټه کي پرتي وي اوښکلي قالیني غوړیدلي وي رامـعلومـه شـوه چي دکـورنیـو چارو دوزارت دفـتـر دي ترقـالیني لاندي دبرق تارغوړیدلي ؤ .

زه یي په قـالینه ودرو لم برق یي پري راخـوشي کـړ دراخوشي کیـدو سره یي زه اوچت کړم اوله چت سره یي وجنگولم بیرته په ځمکه باندي دراغورځیدو سره زه بې هوشه شوم.

کله چي په هوښ کي راغلم نومـا خپلي مخي ته دخاد دمزدورانو سره دکورنیو چارو وزیرولیدوروسته یي زه یوي بلي مـخصـوصي کـوټي ته بوتلم اوهلتــه یي په یوه بســتــره

څـملولم چي دبرق لوڅ تارپکي تيرشوي ؤدغلته يي هم ماته برقي ټکانونه راکـړل چي هرټکان به زه اوچتـــولم اوپه ځـــمکه به يي راوغورځولم .

هغـه وخت کـوټي ته دوه روسي مشاورين راننوتل اودکورنيوچارود وزير سره يي خبري شروع کـړي هغـوي چي په خـپل منځ کي څـه خبـري کـولي زه په هغي باندي نه پوهيدم چي کله يي خبري خلاصي شوي ماته يي امروکړ چي خپلي ټولي جـامي وباسـه مـاونه منله نودخاد مزدوران يي راوغوښتل اوزه يي په زوره بربنډ کــړم ددي نه وروستـه يي زه ددووتختـوپه يوه داسي دروازه کي داسي ودرولم چي زمـا دتناسل آله ددواړو تختـو په منځ کي راغله اودروازه هغـوي په زوره سره بنده کړه زما تناسلي آله دتختـو په منځ کي ونښتـه دډير دردله لاسه زما حالت ډيرخراب شو دغه درد دتيرولونه ځخودي ظالمانو زمامخصوص غړي دري ساعته په دروازه کي بند وسـاته مـا ډيري چيـغي ووهلي مگر زمـا په چغـو باندي دغلتـه چا غـوږهم نه گـراوه بلکي دخاددي جلادانوبه خندا گاني کولي دري ساعتـه پس يي چي زه ددغي شکنجي څخه خـلاص کـړم نوزه بيـا دمردانه قوت څخـه دتول عـمـر لپـاره مـحـروم شـوي وم ۱۵ ورځي بي پر مـا دکـورنيـو چارو دوزارت په قصابخانه کي ظلمونه اوشکنجي تيــري کــړي ددي نه وروستـه يي دپل چرخي دزندان په يوه تنگه اوتيـاره کـوټه کي بندي کړم چي دبهروتواجازت هم ماته نه ؤ اورفع حاجت به مي هم په همدي کوټه کي کاوه .

په دي ځاي کي تريوي مياشتي تيرولو وروستـه يي زه يوي غټي کوټي ته بوتلم چي هلتـه ډير زيات بنديان وواووروستـه يي ماته دشپږو کالو سخت قيد خبر واوراوه چي په پاي کي د۱۹۸۸کـال دجنوري په مياشت کي راخلاص شوم .

ژوندي په قبر کي ښخول :

اعـتـبـــارگل دننگرهارولايت اوسيدونکي دي،نوموړي دجلال آباد په ښـارکي دوکـان درلود هغـه دکمونستـانو په جيل کي تربندي کيدووروسته اوس راخوشي شوي په زندان کي دتيروشوو ورځو شپو په باب وايي : زه يـوه ورځ پـخـپل دوکـان کي ناست وم چي دخـاد څوکسه راغلل اودوکان يي تالاشي کړ خـوچي دهغـو لاس ته څـه ورنه غلل نوزه يي دخاد دفتر ته بوتلم چي هلته دخاد مشر له ماڅخه بي شماره پوښتني وکړي ووروسته يي زه په يوه داسي کوټه کي بندي کړم چي هلتـه دمخکي نه هم څـه خلك بنديان ووهکوټي په فرش باندي چي واوره يي پري اچولي وه لس ساعته ودرولم پدي وخت کي زماټول بدن شخ شــو اودبدن يوه غـړي مي هم حرکت نشو کولاي لس ساعته پس دخاد يومستنطق راغي اوعسکرو ته يي امروکړ چي دده وجود گرم کړي ،عسکروبرقي جټکي راکړي چي ددي نه زه څـوکـرته بي هوشـه اوپه ځـمکه وغـورځـيـدم ددي نه وروستـه يي زه يوي بلي کـوټي ته بووم چي هلتـه به دخـاد ايجنټـان دکـــوتکو،چړو اوبرقي ډنډوسـره دشپي اوده کيدل چي په دغه کوټه کي بي په ماهاندي يوه مياشت ښه سخت ظلم وکړ، دوهلو اوټکولو په وخت کي به يي له ما څخـه همدا پوښتنه کوله چي ستاملگري څوك دي اوتاته دپاکستان نه دمياشتي څـومـره روپۍ د رکول کـيـږي؟يوه مياشت ووروسته يي زه دښځو زندان ته ورولـيـږلم چي هلتـه مي پنځـه مـيـاشـتي تيـري کـړي له دي نه وروستـه يي زه بيرته دسروزندان ته وليږلم دغلته به هره شپه يوتورموټر راته اوبنديان به يي پکي کـبيښنول اوبهربه يي بيول خو دغه بنديان به بيا بيرته نه راتلل،څه وخت چي به دغـه مـوټرراغي په هربندي به ويره راغله اوچي کله به لاړو نوهربندي

به بیا دوړل شوو بندیانو لپاره اوښکي تویولي.یوعسکر وویل چي په دغه موټرکي چي څومره بندیان وري په ځمکه کي یي ژوندي ښخوي . په افغانستان کي دمزدوررژیم په زندانونو کي په رښتیا چي دځنګل قانون دي د۱٤ میاشتوسختیو نه پس یي په ۲۷ مارچ ۱۹۸۹ ع کال کي خوشي کړم

پر بندیانو باندي دګرموتیلو څاڅکي اچول:

سیدمحمد چي اصلاً دننګرهار دي وایي : زه دروداتو دولسوالۍ اوسیدونکي یم اوپه پوهنوونځی کي ښوونکي وم.په ۱۹۸۵ ع کال کي زه دکمونستي حکومت لخوا ونیول شوم زه یي دښځو زندان ته ولیږلم دماښام په وخت کي دخاد دڅه مزدوران زماکوټي ته راننوتل اوهغوي زما څخه پوښتني شروع کړي.ددي نه پس یي لهمانه په زورکالي وویستل اویوې پنجره ډوله کوټه کي یي بندي کړم دخادمزدورانو ایشیدلي تیل راوړل جارو یي پکي ښکته کړه اوپه مابانديي وشیندل،ددي نه زماټول بدن وسوځیدو اوپولۍ پولۍ شو ماله سوي څخه چیغي کړي زما په چیغو باندي دخاد مزدورانو په زوره زوره خندل .

په دوهمه شپه دخاد مزدورانو دوه نوربندیان راوستل اودهغوي په مخکي یي زما په زخمونو باندي خوټیدلي تیل څڅول هل دوي تیل څڅوهل اوورسره ورسره یي هغو بندیانو ته ویل چي که چیرته تاسي رښتیا رښتیا ونه ویل نوله تاسي سره به همداشان عمل وشي ددغي شکنجي څخه زه بي هوښه شوم چي کله په هوښ شوم اوسترګي مي وغړولي نومخي ته مي دخاد دمزدورانو سره دجلال اباد دښاروالۍ رئیس اودجلال اباد دکمونست ګوند منشي ولاړوو.زه سخت تږي شوي وم اوبه مي وغوښتي دخاد یوه مزدورماته داسي اوبه راکړي چي ډیره زیاته مالګه پکي ګډه شوې وه اوډیر تږوالي له کبله مي په ډیره سختنه یوغوغړیه وکړل اوګیلاس مي بیرته ورکړ.دګوند منشي چغه کړه چي دخپلو ملګرونومونه وښایه اوکه نه نو داکاریه له تاسره دوام ولري.زه چپ پاتي شوم وروسته دوي ماته یو کاغذ چي په خپله یي څه په کي لیکلي ؤ راوړاندي کړ اوپه زوره یي په هغي باندي له ماڅخه امضأ واخیسته .

یوه میاشت وروسته یي زه دسرو زندان ته ولیږلم چي هلته په ما او نوروبندیانو باندي هره ورځ ډیر سخت زیاتي کیده د دریو کالو بند څخه وروسته زه راخوشي شوم.

(مسلمان دالله (ج) نه په غیر دبل هیڅ چاڅخه نه ویرېږي)

زه داولني نوک دویستو دردرد له لاسه په چیغو وم چي هغوي زما دچپ لاس یوبل نوک هم په چاقو وایستلو ، داکاریه له ماسره هره شپه کیده اوچي نوکان خلاص شول ، نو هغوي زما دسردویښتو په ویستلو پیل وکړ

دلوګر ولایت محمد صدیق په (۱۹۸۲) کال کي ونیول شو.دي دخاد د مستنطقینو دتحقیق په باب وایي: دکابل دپل چرخي په زندان کي یي په بندیانوباندي په سلها و قسمه نوي شکنجي عملي کولي دنیولو څخه وروسته یي زه هم په همدغه زندان کي بندي کړم

پاتې په (۶۳) مخ

د «غوايي» له كودتا راوروسته دښوونې اوروزنې حالت

ليكوال : عبدالوكيل

دامنل شوى اوربښتيا حقيقت دى چې هيڅ يو ملت بې له علم اوپوهې څخه دترقۍ اوپرمختيا لوړوڅوكوته نشي ختلى اودنوي نسل ښوونه اوروزنه دهرې ټولنې علمي اوفرهنگي زړى جوړوي .

دغوايي له كودتا څخه پخوا لكه څنگه چې افغاني ټولنه په اقتصادي ، سياسي اونوروټولنيزو اړخونو كې وروسته پاتې ساتل شوې وه ، دښوونې اوروزنې حالت هم ښه نه ؤ خو كله چې دروسانو كمونستي استعماري سيلاب زموږدښكلي تاټوبي ټول ارزښتونه له گواښ اوتباهۍ سره مخامخ كړل نو ښوونه اوروزنه هم ترې خوندي پاتې نه شوه اوپه دې دوولسو كالونو كې يې داسې حالت ته ورسوله چې په ليدو يې هرمسلمان اووطن خوښوونكى وگړى دزړه له كومې دې ته قايل كيږي چې دذاډول ښوونې اوروزنې څخه ټولنې ته دهغې نشتوالى غوره اوگڼوردى .

روسانو اوپه افغانستان كې ددوى مزدورانو ټولې هلې ځلې اوټول امكانات يوازې دې هدف ته وسيله وگرځوله چې پر افغاني خاوره باندې روسي كمونستي استعمار ټينگ كړي اودغو حيوان صفته انسانانو زموږدافغاني ټولنې دښوونې اوروزنې نوى زرغون شوى گلبوټى په وچو اوڅيرې كوونكوازغو بدل كړي.

ښايي دنوموړي ادعا دثبوت اوپه كابل كې دروسانو لاسكينولي رژيم دښوونې اوروزنې حالت په اړوند دلاندينيو ټكو څرگندول دهغو كسانو لپاره چې دغوايي له كودتا څخه وروسته دروسانو دلاسپوڅي رژيم دښوونې اوروزنې دحالت څخه دخبريدو لږ امكانات لري بې گټې نه وي.

١- دتعليمي دوروليدول اوددرسي پروگرامونو تغير:

دغوايي دورانوونكي كودتا څخه وروسته دروسيې اقتصاد ، سياست ، فرهنگ اونورو ټولنيزو اړخونو څخه تقليد شروع شو ، خو كله چې روسي عسكري پوځونو په افغاني خاوره په مستقيم ډول سره تيرى وكړ نو دافغاني ټولنې په ټولو اړخونو كې د «روسي فيكاڅيا» يا دافغاني ټولنې دروسيې كولوپروگرامونو عملي كيدل لانورهم گړندي شول .

دروسانو دليسې دوره لس كاله ده چې وروسته يې يوكال بل هم پرې ورزيات كړ اوپنځه كاله پوهنځى لولي اوددې څخه وروسته په دريو كالوكې د «اسپرانتوري» په نوم تحصيلي دوره تيروي اوبس يعنې په اتلسو (١٨) كالونو كې دروسانو دادعا سره سم دډوكتورا سويې ته رسيږي په داسې حال كې چې په افغانستان كې دغوايي له

کودتا څخه پخوا دلیسې دوره چې زده کوونکي دبکلوریا په سویه ترې فارغ کیدل دوولس کاله دپوهنځي دوره چې دلیسانس په سویه یې فارغان ورکول څلورکاله ماستري دوه اودوکتورا څلورکاله وه (دماسټري اودوکتورا تحصیلات په باندنیو هیوادوکې ترسره کیدل) چې دټولو تحصیلي دورو مجموعه دوویشتو (۲۲) کالوته رسیده ، یعنې دتحصیلي دورې دمیعاد په اړوند دافغانستان ماسټر دروسانو دډوکتور سویه درلوده .

دنومړې کودتا څخه وروسته سم دلاسه دلیسو دوولس کلنه دوره لسو کالو ته راټیټه شوه اودلومړي ټولګي څخه ترڅلورم ټولګي پورې ازموینه له منځه ولاړه چې په دې ترتیب سره دیوې خوا دزده کوونکو تعلیمي سویه ددووکالونو دزده کړې دله منځه وړلو په اړوند راټیټه شوه اوله بله اړخه هغه دزده کړې قوه چې په زده کوونکو کې دازموینې په واسطه راپیداکیږي اودیو ې مثبتې انګیزې په توګه په تحصیلي اوعلمي اړخونو کې اثراچوي له منځه یوړه ، خوکله چې په دې وروستیو کې روسانو په خپله امپراتورۍ کې دلسو کالو تحصیلي دوره یوولسو کالو ته لوړه کړه نوبیا له ځنډه په افغانستان کې هم کټ مټ همداسې وشول یعنې په لسو کالونو یوبل کال هم وراضافه شو اودافغاني ټولنې دروسي کولو پروسه یې پله په پله تعقیب کړه .

روسانو اوددوی ګوډاګیانو په افغانستان کې ټول هغه درسي کتابونه اونورې خپرونې ارتجاعي وبللې کومو چې دروسانوګټې یې نه تأمینولې نودښوونځیو اوپوهنتونونو په درسي پروګرامونو کې یې علمي اوفرهنګي ضد بدلونونه پیل کړل اودښوونځیو اوپوهنتونونو لپاره یې نوي درسي کتابونه چاپ کړل .

> روسانو اوددوي ګوډاګیانو په افغانستان کې ټول هغه درسي کتابونه اونورې خپرونې ارتجاعي وبللې کومو چې دروسانو ګټې یې نه تأمینولې نودښوونځیو اوپوهنتونونو په درسي پروګرامونوکې یې علمي اوفرهنګي ضدبدلونونه پیل کړل اودښوونځیو او پوهنتونونو لپاره یې دنوي درسي کتابونه چاپ کړل.

دنومړو نویو کتابونو نیمګرتیاوې خورازیاتې دي چې دهغوی پوره اوبشپړ څرګندول ددې لیکنې دحوصلې څخه بهر دی ، خو په عمومي ډول باید وویل شي چې دیوې خوا خو روسي درسي کتابونه په لازم اوقانع کوونکي ډول ندي ترتیب شوي (اکثریت نوي کتابونه . خصوصاً دپوهنځیو کتابونه دروسي کتابونو ترجمه ده اوبس) اوله بله اړخه دروسانو اقتصاد ، سیاست ، فرهنګ اونور ټولنیز جوړښتونه دافغاني ټولنې سره پیوند نه خوري ،همدارنګه په افغانستان کې دنویو کتابونو موضوعات داسې ترتیب شوي اوداسې مسایلو ته پکې ځای ورکړشویدی چې هرویونکی خصوصاً هغه څوک چې ددرسي کتابونو دعلمي جوړښت په هکله لږڅه زده کړه ولري ، په دې فکر کې اچوي چې یا خو داکتابونه په عمدي اوقصدي ډول سره داسې غیر علمي تألیف شوي دي اويا دهغو ناپوهانوله خوا ترتیب اوجوړشویدي چې په دې باب دهرډول زده کړې اوپوهې څخه محروم دي.روسانو اومزدورانو یې دپښتو ټولګیو په کتابونو کې ټول هغه بغرنج اودباندنیو ژبو لغاتونه استعمال کړي څومره چې یې زده ؤ

پاتې په (۶۵) مخ

پر افغانانو دټولې نړۍ مسلمانان افتخار کوي ځکه چې داسلام دعظمت اودکفر دماتې کارنامه ددوی په مټو ترسره شوه

(الحاج مولوي جلال الدين حقاني)

دمجاهدينــــو دقوماندانانو اوعالمانو دګډې شورا کنفرانس ته دالحاج مولوي جلال الدين حقاني اومولوي عبدالله ذاکري وينا ؤمتن :

دډسمبر په ۲٤مه نيټه دپېښورسره نږدې په يو کې دافغاني علماو دشورى په دفترکـــې دعـــلـما و اوقوماندانانودشورې يوګډ کنفرانس جوړکړای شو چې وروسته يې دجلسې شکل اختيارکړيدی ګډه غونډه کې يوه ګډه اعلاميه ترتيب کړای شوه چې په افغانستان کې داسلامي نظام تراوستو پورې دجـــهاد ددوام پـــوره ملاتړاوملګرتيا سره سره دافغانستان دشخړې داواري لپاره دملګروملتو، روس اوامريکا دګډو توطئو غندنه دعلما و او قوماندانانو په ګډون ديوې ګډې کميټې دجوړولو فيصله هم وشوه ترڅو په افغانستان کې ديوه اسلامي حکومت دجوړيدو طرحه اوډپاليسي جوړولو مسئوليت په غاړه ولري . غونډې ته دوينا کولو په وخت کې الحاج مولوي جلال الدين حقاني وويل : دکومو مقصدونو لپاره چې دغه شورى رابللې شوي وه دهغې ټول تفصيل تاسې ته مولوي ذاکري صاحب بيان کړو دالله تعالى په فضل اوکرم سره په دغو کاروترڅخوا لا زيات اذهان ښه روښانه شوي دي . اودګډې غونډې په وخت کې ورباندې اتفاق راغلي دي . دلته دا فيصله وشوه چې کوم سازشـــونه اوتجــــويزونه دکافرانولخوا په موږباندې تپل کيږي هغه مردوداودمنلو وړندي اونه يې قبلوو دافيصله هم وشوه چې دفتني دورکيدو وروسته به موږدغلته يوداسي اسلامي حکومت راولو چې داسلامي اصولو دقواعدو اوضوابطو له مخې ديو اسلامي قيادت له لارې رامنځ ته شوي وي ، دالله (ج) په فضل اوکرم سره به موږيدې خبره باندې عمل کوو ، دادخپل خدای (ج) په حضورکې زموږوعده ده

اوداداسي وعده ده چي دالله (ج) له طرفه موږپه هغې مكلف يو اوددغي وعدي حاصلول ددغو پريکړو تطبيقول اودهغو دعملي كولو لپاره زموږهلي ځلي اوپر خپلو پريکړو پابندي فرض عين ده په دي لړ كي زما دنوروتفصيلاتو ضرورت نشته يوازي ديوي خبري ښكاره كول ضروري ګڼم اوهغه داچي دحالاتو ، واقعاتو ، مسايلو ، ستونزو ، وسايلو اوشرايطو له مخي دافغانستان مسلمان ملت په ګروپونو ، اوډلوباندي ويشل شوي چيرته دعالمانو ډله ، چيرته دمجاهدينو ډله يوځای دقوماندانانو ګروپ اوبل ځاي دمهاجرينو ډله جوړه شويده .

هغه خلك چي حالات ، واقعات ، وسايل ، اوشرايط په پام كي نه نيسي نووايي چي ګني داټول بيل بيل دي اوپخپلو كي په ګروپونو باندي ويشلي شويدي اوهيڅكله يوكيداي نشي اوددوي بيل بيل مرامونه اومقصدونه دي .

كافران دمسلمانانو په شان يودين اويو مقصد نلري اوپه هر ځاي كي ذاتي اومادي ګټمي ګوري اوپردنيا وي مقصدونو باندي يي نظر وي هغوي مسلمانان هم دخپل ځان په څير ګنې اوفكركوي چي دافغانانو سره كومه معامله كول وي نو دعالمانو سره ځانته خبري وشي له قوماندانانو سره ځانته اودنوروسره دي په جداډول روابط وساتل شي څني ساده خلك په دي وغوليږي اوخپل ملګري دځان څخه جداوګڼي زمااصلي هدف اومقصد دادي چي دانسانانو دوه ډلي دي : يوه دكافرانواودوهمه دمسلمانانو ده كافر چي په هرځاي كي وي هره ژبه ووايي رنګ يي چي هرڅنګه وي ټوله يوه ډله ده .

اومسلمان كه ددنيا په هركونج كي وي ، كه هره ژبه وايي اوهررنګ لباس اوجامه چي اغوندي يوه ډله اوديو امت برخه ده .

همدارنګه افغان مهاجر، مجاهد ، قوماندان ، عالم ، ملك ، خان ، مالدار ، سوداګر،



غریب ، سړی ، ښځه ، ماشوم ، زوړاوځوان ټول مسلمانان دي اوديوې ډلي خلك دي تاسي پوهيږي چي نبي کريم صلي الله عليه وسلم فرمايلي دي چي زما په امت کي به يوه ډله په هرحالت کي داسلام لپاره جنګيږي اوداسلام په دښمنانو باندي به غالبه اوبريالي وي.

افغانانوهم داسلام دښمنانو په مقابل کي جهاد وکړ ،چاهجرت وکړچا دمجاهدينو دکاميابۍ اوکامرانۍ لپاره دالله تعالي څخه دعا وغوښته چامال ولګاوه چا دژبي اوقلم له لاري دعوت اوتبليغ وکړ اوچا دخپل ځان اوبدن په واسطه جهادوکړ، نوداټول دخير پدي کارکي په مختلفو طريقو ګډاوشريك دي عالمانو دجهاد فتوی ورکړه .

تبليغ اوتقرير ونه يي وکړل اوخلکو ته يي دهجرت ، جهاد اوقتال دعوت ورکړ. لنډه داچي افغانان هغه قوم اوهغه ډله ده چي داسلام لپاره وجنګيدل اوپه کافرانو باندي غالب شول .

دټولي نړۍ مسلمانان دمال ، عقيدي ، اوددعا له مخي پدي جهاد کي شريك دي اودافغانانو سره په کاميابيو اوکامرانيو کي هم برابره ونډه لري .

ددغه جهاد په حق کي دټولي نړۍ څخه فتواګاني راغلي اوټولو زموږملګرتيا وکړه ، اوس نودمسلمانانو په دغه ډله

د منبع الجهاد البم







دټولې نړۍ مسلمانان افتخارکوي ځکه چې داسلام عظمت اودکفر شکست دهمدوي په لاسونو اومټو ترسره شو.
ځنګه چې ذاکري صاحب وويل اوموږټولو ورسره لوظ وکړو چې ځنګه موږدروسانو مقابله وکړه ، اودهغوي دقوت اوقدرت پوځ ، وسلو اووسايلو مقابلې ته دالله تعالې په مرسته اوکمك اودخپل ايمان په قوت ټينګ ودريدو اوماتې اوشکست مووركړ.
اوس يوه بله مقابله زموږمخې ته ده اوهغه هم په افغانستان کې دننه دملحدينو سره مقابله اودافغانستان نه بهرډهغو باطلو طاقتونو سره چې په شريکه زموږله لاسه دجهاد اوهجرت په نتيجه کې پخه شوي ميوه تروړي اونه غواړي چې په افغانستان کې اسلام غالب اوهلته يوسوچه اسلامي نظام رامنځ ته شي .

ورو نو ! اوس خلك وايي چې ددغه اسلامي جهاد ميوه کافرحاصلوي . هرطرفته خفګان اودحيرانې فضا خپره ده ، اخرولې دجهاد په پيل کې به چې له موږځخه څوك شهيد يا ټپي کيده اويا به دبل کوم مشکل سره مخامخ کيده نودهغه په جذبه کې به نورزيات والې راتللو . مجاهدين به نورهم قوي اومنظم کيدل حال داچې په هغه وخت کې دښمن ډير زيات قوي و.



دغزني ولايت دشلګر داندړ په ولسوالي کې دنوميالي قوماندان «قاري بابا»

دجبهاتو پورې مربوطې مدرسې دفارغانو ددستاربندۍ دمراسمو يوه ځنده

خو هغه وخت موږ:داده وو ،
اوموږ: ټولو جهاد في سبيل
الله کولو زموږ:دالله تعالي په
مرسته اوملګرتيا باندي پوره
يقين اوباورو.د۱۲ کلونو دجهاد
په نتيجه کي موږ:دصفرڅخه
دقرب الهي په لوړپه وړاندي
ولاړو موږ:دالله (ج) رضا
اومرسته ترلاسه کړه په دنيا
کي مو شهرت ومومند ،
دستروويارونوخاوندان شوو
اوپه دوستانو کي مو زيات
والي هم راغي اوس نودغه
حيراني خفګان اوپريشاني ولي
ده ددي سبب څه دي ؟!

زه پوهيږم چي ددي يوسبب
دادي چي کله په افغانستان
کي روسان موجود وو نوټولو ،
ښځو ، کوچنيانو ،سړو ،
ځوانانواوزړودهغوي مقابله
کوله يوډول اتفاق موجودوو .
فتنه اوفساد موجودنه ؤ چي
ددغو مصيبتونو، دخلاصون
لپاره دعاګاني غوښتل کيدي .
کله چي روس ووت اوملحدينو
دفاعي حالت ومومند نوځينو
دکمزوري عقيدي خاوندانوچي
په دي نه پوهيدل چي کافر که
په يوه ځاي کي هم غالب اويا
برلاس وي نوبيا هم جهاد فرض
دي يعني ترڅو پوري چي
مسلمانان مغلوب وي جهاد فرض
دي کومو خلکو چي داخبره
هيره کړه هغه دروس دتښتيدو
نه وروسته په کرارکښيناستل ،
ددنيا په کاروباندي لګياشول
خداي پاك يي هم هيرکړو خپل
دښمن يي هم هيرکړو اوپه
استراحت بوخت شول ، حال
داچي صرف په پخواني جهاد
باندي به موږ الله تعالي ونه
بخښي ترڅو په ايمان اسلام
اوجهاد پاتي کيدل ښايي . ايا
په جهاد پريښودواونه کولو

باندي به الله تعالي
موږ وبخښي داچي موږپه جهاد
کولو کي غفلت کړي دي
نودالله (ج) خوښۍاونصرت هم
زموږڅخه لري شويدي اوس په
سلوکي لس کسه هم دغه
فريضه نه ترسره کوي .

دوهم سبب يي دادي کله چي
روس ووت نوداحساس زيات
شو چي اوس دحکمرانۍ اوپا-
چا هۍ وخت دي اوس به زه
کومه وظيفه اخلم اوپه کومه
چوکۍ به کښينم دغه احساس
هم موږدجهاد څخه لري کړو
اوموږته يي کمزورۍ پريشانۍ
اوناهيلۍ پيداکړه .

اوس نوچي موږدغه تعهد

کړيدي په عالمانو ، قوماندانانو ، مجاهدينو اومهاجرينو ټولوباندي دافرض ده چي ددښمنانو دټولو دسيسو دناکامولو لپاره په جهاد اوقتال باندي زورواچوو.

موږ ددښمنانو ټولي ناپاکي هيلي دجهاد په واسطه ختمولاي او ورکولاي شو اوپر موږباندي ددښمنانو دهرډول توطئو په ضد په عملي ډول عکس العمل ښرگندول لازم دي ، عالمان اوقوماندانان ټول پدي خبره رضا اويو موټي دي چي ددښمنانو ټولي هيلي ناکامي کړو اودغه کارموږدعمل په صورت کي ترسره کولاي شو دوس دافغانانو دميړاني اوبهادري په واسطه ووتلو نه داچي جنيوا دپريکړو اوتجويزونو په واسطه .

اوس هم که موږدګرمي اويخني په نظر کي نيولو نه پرته دجهاد سنگرونه تاوده کړل نودالله پاك مرسته اوملاتړ زموږملګري دي اوالله (ج) به ددښمنانو ويره زموږدزړونو

نخخه وباسي .

زه خپل ځان يوقوماندان نه بلکي ځان دعالمانو يوسپاهي گڼم ښخنگه چي ذاکري صاحب وويل چي يوه کميټه جوړه کړاي شويده اوداوظيفه ورکړاي شويده چي په راتلونکي وخت کي به ديوه اسلامي حکومت دجوړيدو لپاره خپل پروگرام طرحه اويوه پاليسي جوړه کړي اوچي کله ددغي ګډي اوشريکي طرحي له مخي کوم اسلامي حکومت جوړشي موږبه ددغه حکومت پوره حمايت مرسته اوساتنه کوو.

دحقاني صاحب له ويناته دمخه مولانا عبدالله (ذاکري) پخپله وينا کي وويل چي دافغانانو قرباني دټولي نړۍ نخخه دکمونيزم دمنگولو دخلاصون اوتغرورټولو لو سبب شوی ،

وروڼو ! اول موږ يواځي دروس په مقابل کي جهاد کولو اوس زموږدښمن ډير قوي شويدي ځکه چي امريکه ،چين ، برطانيه ، اونورټولغير مسلم طاقتونه دروس ترشا ولاړدي اوهغوي پخپل ګډاوشريك قوت سره غواړي چي داسلام سپاهيان کمزوري کړي .

تاسو وليدل چي داسلام ددښمنانو لخوا دافغانستان پاتي (٦٢) مخ کي

جهاد د شعر او ادب په پلوشو کې

دافغانانو غږ، روسانو ته

دا رد وتړبي شاعر هارون الرشید د شعر ژباړه

راشه چې داغرونه دي د هر قدم اوخار دي
تا ته د وطن د اسمان ستوري انتظار دي
موږ هم په هسکه غږه ستا راتګ ته ناست یو
موږ نه پوهېږو چې سرونه دې په کار دي

راشه چې موږ هم همدې شپې ته ډېر کتلي دي
تا په دې وطن کې ډېرې ونې بهولې دي
دلته به د ټول جهان میړانه خپل سیال وګوري
دلته موږ هوډونه او لوظونه ازمېیلي دي

ته د ماشینونو او پولادو په پښو تلل کوې
ستا میړانه داده چې د زهرو ورکول کوې

تاسو کې خو داسې کوم باتور هر ګوره نه وینم
(چې):
کاڼی دې په لاس کې وي په ټانک باندې یرغل کوي

ته که زما سر غواړې زما هم پرې رضا ده
دومره به دې وه کړم چې مې سر کې څه سودا ده
دا چې بربړ وایم دا په دې چې مې سر لوړ دی
ټوله روسیه که تیرې دا وکړي هم وړیا ده

دا سر غوځېدای شي خو بنده ته ټیټېدای نه شي
دا سر د هغه دی چې په توپو تم کېدای نه شي
زموږ د کولیو له باڼه نه سترګې نه سوځي
زموږ عمرونه لنډ دي یوه ورځ او بندېدای نه شي

راشه چې لیمه مې آخرې ننداره وویني
سترګې مې یو ځلې ستا د وینو دارې وویني
ستا د غریبۍ، مساپرۍ سلګۍ چې واورمه
ستا د نامردۍ، نامرادۍ کوکارې وویني

دا ښکلي وطن د د ښمنانو هسې پېژني
توره مې سر پېژني، ګولۍ مې ټټر پېژني
دې ښکلو دروکې مې پردي ته ژوند حرام دی
بوټي مې سپر پېژني او کاڼي سنګر پېژني
نو،
راشه په تلوار چې د خلاصون لارې تړلې دي
دې تړې وطن تل د پردو وینې څښلې دي

* * *

ننګیالو ته !

سعید رهبر

ای دحق په شمع سوو پتنګانو
ای د مینې خوبرې مینې سربازانو
د ضمیر او د شعور په لوی اقلیم کښې
ای بې تاجه تاریخ سازه بادشاهانو

د انسان له مال وسر زاریدونکو
په عصمت دزماني قربانیدونکو
د نړۍ د جمعیت د هدف لار کښې
په سامراج باندې غابښونه ماتوونکو

ای د مینې دتاریخ امانتدارو
د وفا دکاروانونو فدا کارو
د ژوندون او د روزګار په هنګامو کښې
دانسان دخوشحالۍ امانتدارو

ظلم زور چې ورکوئ داموتکل دی
ماتري زار کړي انقلاب مومکمل دی

جهانونه مولوګی شه استدلال نه
د نړۍ د مسایلو دغه حل دی

دا اعزاز د ننګ او پت مومبارک شه
دا توقیر اولوی عزت مومبارک شه
د اسلام د تحفظ په هرسنګر کښې
دجهاد دافضیلت مو مبارک شه

سامراجیان مو چې تش نوم اوري ریږي
استعمار مو چې اواز اوري لړزیږي
د سامراج دظلم نعره ورځې پوره شوي
د نصیب ستوري یې ورځ په ورځ غورزیږي

دغه زبرځې د ربانده غیرتیانو
ای دپاکو تحریکونو رهبرانو
کامراني د ننګیالو په تندي لیک ده
تل به تهیت وي درته سر دغلیمانو

د ایمان او دیقین په هر کتاب کښې
دا مضبوط دلیل ځلیږي په هرباب کښې

چې دحق هرمرستیال به سرخرو وي
د باطل هر یو چې به وي عذاب کښې

امریکه ده او که روس که داسې نور دي
له هیبته درته ښپو کښې رانسکور دي
لړزیدلي یې د مکر د نیا کاني
دحسرت چیغې یې کړیږي کور په کور دي

مسلمان به تل ترتله سر بالا وي
سامراجیان به درته ښکته په دنیا وي
زموږ غږ د هرغلیم د سر اجل دی
غلیمان به همیشه په واویلا وي

تول جهان مو احترام کوي غازیانو
ای د ننګ د هرسنګر مجاهدانو
دایمان دخاوندانو تندی روڼ دی
بریالي به وی مدام په دښمنانو

دقام دښمن يي دهرچا دښمن يي
دآبادۍ او ارتقا دښمن يي
چاته جرأت دکتوکله لري
خود خونجيبه د ټنا دښمن يي

تېغ کې دي ځلا دفاتحانو دغیرت وینم
بیا دي شاهینی سترګو کې نور دحریت وینم
ته یي د دي خاوري ازلي او ابدي وارث
بیا دي د تاریخ په تندي نوم د عظمت وینم

انصارشاعران

ننګیال

پیاوړی محقق اودروند لیکوال

همیش خلیل

دافغانانو پردرد دردمنداوویاړونو ویاړمن شاعر

ښاغلي همیش خلیل دپښتو ادب یوه ځلانده هستي اوروښانه څېره ده چې پښتـــو ژبې اوادب ته یې دیوې اکاډمي هومره کارکړی دی .
دی دپښتو نومیالي شاعر،وتلی ادیب ،تکړه ژورنالست اوپیــاوړی محقق دی.
ده خورا درنې اواستـادانه څېړنې کړې اودیرارځښتناك زاړه دیوانونه یې مرتب اوخپاره کړي دي .
ښاغلي همـیش خلیل په یواځې سر داسې پخې تحقـیقي چارې ترسره کړي چې هغو ته داکاډمیو ضـرورت وُ،خــودخــپل ولس د کلتــوراوفــرهنګ مــینې ده ته داویاړاوتوان وروباخــښــه چې دډیرومشکلاتو سره سره خپل تحــقـیق اولتــوټا جــاري وســاتي اودپښتــو ادب په ورېل کې رنګین ګلونه وروټومبي .
همـیش خلیل یو پیاوړي افسـانه نګاردی،دافسانو یوه مجموعه یې دچارګل په نوم خپـره شویده چې دیرزیات مقبولیت یې ګټلی دی او دشعـرونومـجـموعې یې دنغـمـه-زاراوزمـا سندرې ترســره لیکونو لاندې خپرې شویدي .
همیش خلیل په ۱۹۳۰ میلادي کال کې داپریل په ۱۱ په برتاکـال کې له مرحوم انځـیرګل کره زیږیدلی دی ،ددوی نیکونه دافغانستان له ننګرهارڅخه پېښورته راغلي اوپه تاکال کې میشت شویدي. ښاغلی همیش خلیل دپېښورداسلامیه کالجیټ سکول څخه فارغ شو ي اودپېښورپوهنتون څخه یې د B-A شهادتنامه اخیستې ده .
نومـوړی په ۱۹٤۹ مـیلادي کې دامداد باهمي په دفترکې دماموریه توګه مقررشوي،له هغې وروسته ۱۹۵٦اکې داووه ورځنۍ مـجلې (جمهوریت) مدیراوپه ۱۹۵۷ کې دپنځلس ورځني مجلې (دوران) مـدیرټاکل شوي له هغې وروسته یې په ۱۹٤۷ کـــال دانقـــلاب ورځپانه کې په کارپیل کړي .
همـیش خلیل یوسپین مـسلمـان او زیږپښتــون دي،کله چې افـغـانان دروسي ښکیـلاك له لاسـه رابې کوره شول دی په نره ورسره ودرید-په فکرقلم اومـال یې ورسـره

ملاتړاوهمدردي وکړه - خپل باغ
اواملاك يې دهې کوره
مهاجروداستوګنې له پاره وقف کړل
اوخپل قلم يې دافغان مجاهد په
ننګ خوځند کړ اوپدې لاره کې يې
په پښتو اودري يې شميره مقالې
اونظمونه وليکل اوله افغانانو سره
يې دواقعي دوستۍ ثبوت ورکړ.
دجهاد په اوږدو کې يې ډېرباګرام په
نوم ورځپانه خپره کړه اودافغانانو
دجهاد ،قرباني اومقاومت انعکاس
ته يې وقف کړه'په باګرام ورځپانه
کې له جهادي خپرونو ،شعرونو
تبصرو اوسياسي تجربو پرته پخپلو
سرمقالو کې دمقاومت بيلا بيل
اړخونه اوابعاد منعکس کړل اولدې
لارې يې جهاد اوافغان ولس ته
دقدروړارځښتناك خدمتونه وکړل .
دوي له جهادي خپرونو سره هم
قلمي همکاري کړې - له يسپيدي..
اوقيلم مجلوسره يې پرله پسې قلمي
مرسته کړې دمشعل اوتنوير دواړدو
ژبو مجلوسره يې مسلسله اوباقاعده
قلمي همکاري کړې اوس هم له
جهاد خپرونو سره پراخه قلمي
همکاري لري .
ښاغلي هميش دمهاجروليکوالو
اواديبانو په ګنو کتابونو عالمانه
سريزې کښلې اوپه قلمي جهاد کې
يې ورسره فعاله برخه اخيستې ده.

ددوي ګڼ ادبي اوتحقيقي ځانګړي
اثارخپاره شوي اوپښتنو ليکوالو
اوشاعرانو تذکرې يې ليکلې دي
اوپه سلګونو مقالې يې دجريدو
اومجلو له لارې نشر شويدي،اوس
دنورو ادبي کارونو په څنګ دپټې
خزانې په رابطه په يوه تحقيق
بوخت دي .
ښاغلي هميش خليل له افغانانو
سره په نره اوميړانه دريدلې اودهغو
تولو تش په نوم پښتنو دښمنې
اومخالفت ته يې سينه سپرکړې
چې دپيسولپاره يې دپښتواوپښتنو -
پرمرۍ چاړه کېښوده اودپښتنو
ددښمنانو هندوانو اوروسانو خوابې
ونيوله .

ښاغلي هميش دمهاجرو ليکوالو
دواډينې اوحوصلې ډېره نه
نړېدونکې غره په توګه له دوي سره
دخپلې اسلامي جذبې اوپښتنې
احساس له مخې په ډېرجرئت
اوميړانه خپل پيوستون
اودافغانانو له دښمنانو سره خپله
بيزاري اودښمنې په جاره سره
اعلان کړې اوپه ادبي محافلو
اومشاعروکې يې په جارسره
دافغانانودجهاداومقاومت
ملاترکړې اودجهاد اوافغانانو
دمخالفينو اودښمنانو په وړاندې
په ميړانه سره دريدلې دي .
ددغه درونـد اوحساس پښتون
ليکوال دزړه غبرګې له افغان
مجاهدينو سره دهمدردي غبرګي
اودافغانانو دميړانې اومظلوميت
دواړو ازانګه لرې سره لولو .

شهيد ته !

ستا دمزار ستا دجذبې داحترام دپاره
شهيده ! ستادپاکې خاورې دسلام دپاره
شمعې داوښکو بلوم دعقيدت له مخې
ستادمزاردماښامونو اهتمام دپاره
زما دشعر لوړه دنګه مناره ودريده
ستادعظمت په تصورکې دقيام دپاره

راغلي دذهن له فـردوسـه فرشتى دفكر
دعـقـيـدت دپيـرزوينو ديو جـام دپاره
زمـا پـه زړه ډيري خبـري خـوويلى نه شم
شهيده ! خاوري مي په خوله،خوصبريدلى نه شم
غريو دژړاله حده تير شولو ډير مخكي لاړو
كه زه هم وغواړم شهيده ! خوژړلي نه شم
زه دوطن پـه چمن هغـه بدنصـيـبـه كلى
چي دحـالاتو له كـبله مـوسـيـدلي نه شم
خوشاماران په سمه لا ركاږه - واړه پراته دي
ستادمنزل په طرف گام تـه سميدلى نه شم
له گلستـانه څـوكسـانو هديره جوړه كړه
سردگلونو غوڅول يي عـقـيده جوړه كړه
ستادسروونو دمشال رڼايي كورته يووړه
نوريى په ټول وطن دگوروتياږو شپه جوړه كړه
دجوى شير په ځاي دغه نام نهاده فرهاد
باغ دپرويز ته ستا دسروونو واله جوړه كړه
شهـيـده ! ستادپاكي ويني دليـلام دپاره
دمسـتـقـبل درڼا گـانو دمـاښـام دپاره
څوك واشنگټن ، څوك دماسكو نه طوافونه كوي
دغـزاگـانو اوغـازيانو انهـزام دپاره
نن دروبلو اود الرو پـه بـازاربيـــــــږه ده
سـتـــادارزو دمنارو دانهـدام دپاره

تيرشوي له سره ، ځكه ستا په سرتيريږي آشنا
دخـپلي خـوني دتزئين داهتـمـام دپاره
دننگ دگركي ستا كردار ته صدهزاراحترام
دقام شهيده ! درنه لاړم بس درود وسلام

دافغاني حريت پسندو په نوم

په يو ټوپك چي دغليم سره جنگونه كوي
دغليم سرسره لوبيږي غورځنگونه كوي
چي دويتنام تاريخ يي هير په سربازي خپله كړو
داسي قومونه ته سلام دى چي ننگونه كوي
* * * * * *

په رود دوينو دغليم يي گلستان جوړيږي
عالمه!زيرى مي درباندي بيا افغان جوړيږي
له ككرو دغليـمـــانو مناري ســازوي
چي هرجارح له دعبرت نه ډك داستان جوړيږي
* * * * * *

بيا دميرويس توره شوه جگه گذارونه كوي
دگورجينيـانو پـه فوځونو يلغارونه كوي
داكبرخان غازي غيرت په پښتني اندازكي
په استـبـداد دهري خـوانه ناتارونه كوي
* * * * * *

بیا دغازي غیورافغان دلوی عظمت په خاطر
داحمد شاه غوندې قاید دلوی جرات په خاطر
خپلو سرونو باندي لوبې کړي شکست نه مني
دخپل وطن دآزادي دمحبت په خاطر

*** ***

سلام-سلام بیا سلام داسې افغان ته زما
دداسې خاورې هرېچي اوقهرمان ته زما
چي په حرمت دخپلې خاوري سرشیندني کوي
داسي زلمو ، داسي پښتو داسي ایمان ته سلام

دافغان غازي کردار

خرپا خرپ داستقلال توری چلیږي
په سرو وینو ددښنه وِنه مړیږي
دزاډزدتوپکونو دندو کاردی
در زاډرزدالوتکو دی رالویږي
تساتس دي چي تینکونه تباه کیږي
مورشه ځارستاله توپکه چي دزیږی
دتینکونو د لاشونو شماره نشته
دجازونو پرخچی دي چی بادیږي
سیلابونه دسروونو دغلیم دي
دشکست حقیقتونو کې بهیږي
ستا دتوری دخرپا په نتیجه کی
مناری دي دسرونو چی جوړیږي
دغلیم دیرغلونو په غوغا کی
دافغان دتوری شرنګ دی چی خوزیږي
په تاوان دخپل کردارانجام ته رسي
په بالشویکو میندي بوري شوي ژړیږي
دماسکو دخواهشاتو محلونه
دافغان دروح له سیوري نه لړزیږي
دخوبونو په تعبیر پسي ړانده شول
دارزو په هندوکش کي کشته کیږي





لنډه کیسه

محمد زبیر «شفیقي»

اوستورو لا هماغسې سترګکونه وهل

نن پر موږیوځل بیا دغم زاغانو وزرونه غوړولي وو ، رڼا ورځ راباندې توره تیاره وه اودټولو په زړونو خواشینی اوخفګان منګولي لګولي وي ټول خفه وو، خودزیاراستاذبیاحال بیخي بدل ؤ، هغه به کله کله غوسه کیده خو چې غوسه به شوبیا نونرکوم ؤ چې خواته یې ورشي اونیغي سترګي ورته ونیسي ؟دهغه به په غوسه کې تندی توراوښتی ؤ اوپه تورتندي کې به یې قهرداسې موجونه وهل لکه دپسرلني سیند خړې اومستې څپې .

زیار استاذنن بیا په غوسه ؤ اوپه غوسه غوسه کې ډیر خفه اوپریشانه هم ، موږدهغه غوسه کله کله لیدله خودالومړی ځل ؤ چې هغه مودومره دخفګان په څپوکې لاهولیدلی ؤ ، هغه یوجهان دیده اوګرځندبنیادم ؤ ډیری سړی تودی یې لیدلي وي په ډیر وجنازو اوفاتحو کې شریك شوی ؤ نوهسې عادي غم او ویر به هیڅ اثر نه ورباندې کاوه ، داتیر دوه کاله به چې کله دکوم شهید فاتحې ته ورتلو ، یوازې دزیارا ستاذتندي به لږاوډیر غوړیدلی ښکاریده اویوازې همغه به ؤ چې موږته به یې تسلي راکوله ، په مزل مزل به هغه دیوه دینداره او په اخرت مین سړي په څیر موږته دشهید درجې سعادت اونعمتونه یادول اوبیا به یې داهم ویل ورورو چې تیغ چلیږي وینې بهیږي اوچې دخدای(ج) پر دین ووژل شي هغه خوبیا قرآن هم مړه نه بولي موږهم په دې خبرو پوهیدو ، ترزیاراستاذ نه زمونږپه ذې خبرو علم ډیر ؤ خو خدای(ج) شاهد دی چې دسنګر دیارانو شهادت به زموږزړونه ښه پوره ځورول ، هسې نه چې زیار استاذ به نه ځوریده امکان لري چې په زړه کې به هغه زموږنه څو چنده خفه ؤ خو په خوله یې بیا دتسلي اوډاډخبرې وې ،

اوڼن بیا داسې نه ؤ نن موږټول خفه وو خوهغه ترموږڅو ځله زیات خفه ښکاریده ، داسې ښکاریده چې دتیرو دووکالو ټول خفګان په یو ځل ورباندې راغلي وي ، هغه څیره چې موږله غم اوماتم سره هیڅ اشنا نه ګڼله نن دبې شانه پریشانۍ په ټالونوزنګیده ، له دې پریشانۍ سره سره نن دزیار استاذ په سترګو کې دغوسې لنبې وې. یخه څیله وه خو دزیار استاذ په تندي به له ډیرې غوسې نه خولې راماتې شوې خپل ښکلي پنځه ډزې «څکر»به یې په لاس کې واړاوه راواړاوه اوبیا به یې بیرته دیوال ته تکیه کړ ، لږه شیبه به په چورتونو کې ډوب شو خو په یوه جټکه به یې سر وښوراوه له ځانه سره به وبوګنیده :

داسې نشي کیدی ، وای دخدای (ج) لپاره ، داڅه ژوند دی موږهم ځان ته میړونه وایو ، لمر له غرونو سرپناه کوي خو زمونږشهیدان لا

په واوروپراته دي ...

بیا به له ځایه جگ شو هغه گڼې گوڼې ته به ورنږدی شو چې دیوتن په شا وخوادیر کسان راټول شوی وو ،دهغه څیره هم دویر اوویری بو انځورژ الوتی بڼې یې دویری حال

وایه اووچو شونډو یې په وارواردلیدلی کیسی په ورداگرځیدلی وی ،هغه به خدای(ج) خبردی چې داخووم ځل ژ چې دسهارنی پیښې کیسه کړی وه خوهرځل به چې نوی څوك مرکزته راغی نویو ځل به یې هغه بیچاره بیاهم په دی مجبوراوه چې په خپله خوله کیسه وکړی ، خو چې زیار استاذ ورنږدی شو دهغه دکیسی منځ ژ ویل یې :

سیدرسول خان استاذ ویل تیت شو ، خوموږدبیلاژ بیخ ته له دښتی نه وو راوتلی چې هلیکوپتری راورسیدی ټانگونوله شانه هم برید وکړ اوله یوی او بلی خوایی کلك محاصره کړو...

زیار استاذ سربیا وښوراوه له ځانه سره یې څه وویل اوبیا یې کیسی ته غوږونیو ...

نورپوه نه شوم خو خان سید خان ، انجنیرخوشال اواستاذسید رسول خان خو زما دوراندی شهیدان شول زه دمرمیو په منځ کی راوتښتیدم ...

کیسه خو ختمه وه ، خو دزیاردصبرپیمانه هم نوره ډکه وه یوځل یې غبرچی ژرغونی غوندی ژ خورشوی سکوت مات کړ

دکیسی په اوریدو زموږڅه درد دواکیږی ؟!

راځی میږونه یو په ملاوپټکی کش کړی ، دیوه سنگر وروڼه موټر اوسه په بیابان کی په واورو پراته دی ، راځی چی رایی وږوقسم په خدای (ج) دی زه خو شرمیږم ، زه

له خپل نامه نه شرمیږم دمجاهدله نامه نه ، سهارمو وروڼه شهیدان دی تراوسه پراته دی ، په دی ژمی چی ملك سپینه آینه دی که یی لیوان وخوری ، په خدای (ج) قسم دی چی زه خو تردی ژونده په دی خوشاله یم چی کاشکی هلته ورسره شهید شوی وای .

له گڼی گوڼی نه دډیرو غږونه جگ شول ښه وایی ، څی چی ځو ځی چی شهیدان راوړو چی په دی کی یوه دگڼی ږیری خاوند مامره ځوان وویل :

سیی ده ، شهیدان به راوړو، خوگوری هلته په پنځه سوه متری کی تراوسه دروسانوقوه ده ، په رڼاورځ بیا چی ملك ټول تك سپین دی اوددنیا له هغه سرنه په بل سرکی یوه مرغی هم ښکاریږی ...

دهغه خبری لانه وی خلاصی چې زیار استاذ بیا غږ کړ ، دابی ځایه خبری دي ماوویل چي راځی سپین ځادربه واغوندو په واورو ، واوروکی به ورشو یویو شهید به راوباسو فقط سل دوه سوه متره قوی ته لوحه ده موږچي په سپینو ځادرو کی ورغلی وای څه خبره وه بیا چی دچا اجل راغلی وی هغه به شهید کیږی ،

وروره ، که په توره شپه کې ورځو هم سل خطری شته موږخو داټول په ځان اخستی ...

هغه سړی چوپ شو ،ټول چوپ شول ، دچا هیڅ توان نه ؤچې څه ووایی ، زیار استاذ دلړ سترگی ته وکتل نوریي دگوربت دغره له څوکو سره څنډی لگولی ، مازدیگر ؤ ، له نږدی کلیو نه داذانونوغږونه راتلل ، هغه دلړ سترگی ته داسی کتل لکه چې ښه نه پری لگیږی اویا لکه چې تری گیله من وي چی ولی هسی زرخپل ځان دشپی په تورځادر کې نه نغاړی ، بیا یی بیرته مخ

راوګرځاوه وروشانته یې وویل :
هغه دی که خدای (ج) کول لمر هم ولوید ...
دژمي دسختی خیلی ساړه بادونه وو، هری خواته یې واوری بادولی او پربدن به لکه ستنی داسی لګیدلی ، اسمان شین ؤ اوپه شنه اسمان کې دیخنۍ زوردوه چنده شوی ؤ ، دبیلا وکندو په لوری دسپیتی واوری په سینه توره غځیدلی لاره باندی یوه ډله خلک روان وو، په اسمان کې ستوری ځلیدل اونن داسی رڼا رڼا وه چې تابه ویل دشهیدانو دارواؤ استقبال ته یې څراغونه بل کړی دي ، سپوږمۍ نه وه خو بیا هم دومره رڼا وه چې لاروربانډی سپی کیدای شوه ، دځوانانو ډلګی چې ټوپک یې په اوزو او کمربند ونه ترملاووډبیلاو په کندو درواښتل اوبیا لاندی دنسبتاً لوی ناو په منځ منځ کی مخ ښکته کیوتل ، ژورناو او ډېرښو غرورو وروپه اوارو پوستو او اوارخوړباندی بدلیده او اوبیا ډلګۍ داسی ځای ته ورسیده چې نوروړاندی په واورویته سپینه اواره دښته وه .
خلک دیوه تن په اشاره کیناستل اوبیا وروښانته دزیار استاذ غږجګ شو :
تاسو دلته لږ کینۍ موږبه حال معلوم کړو اوبیا دوه تنه په توره تیاره کی دواوروپه سینه له ډلی جلاوړاندی ولاړل لږشیبه وروسته بیرته راوګرځیدل یو ځل بیا دزیاراستاذ غږ په نسبتاً جګ اوازدشپی غمجن سکوت مات کړ :
راځی قوه ولسوالۍ ته ټوله شوی ، راځی بیغمه چی شهیدان راواخلو ، اوس نو په سپینه دښته کی ټول په هغه خواروان وو چی له لری تورتور خاپونه غوندی ښکاریدل ، لږه شیبه وروسته ټول دشهیدانو په منځ کی وو، مرګ ښه زړه یخ کړی ؤ شا وخوایوبل ته لنډ لنډ لس ښنه په واورو کی پراته وو، یوه شیبه ټول چوپ اوبی حرکته ودریدل تابه ویل چی دوی هم بوتان دی اوروح نه لری خوبیا هم دزیاراستاذ غږ دژوند اعلان وکړ:
مه ورته ګوری ، پورته کړی له خیره یویو په شا کړی نورو لا ځانونه نه وو خوځولی چی زیاراستاذ په یوه تن ورتیټ شو ، په سپین تندی یی دستوروسترګکونوانعکاس کاوه زیاراستاذ ویل وای انجنیرخوشال دی شهادت دی مبارك شه ورتیټ شو تندی یی ښکل کړ ، بیا یی لاس تری لاندی کړ ، بسم الله یی کړه اوچی جګ شو ترلاسو لاندی یی لومړی لمبه جګه شوه اوبیا په یوه زورورډرززیاراوخوشحال لری لری ټوټی ټوټی پریوتل ، پر شا وخوا پرتو شهیدانو څو نورهم ورپریوتل اوبیا دخیلۍ په سخته یخنۍ کی څو ویشتلی زګیروی دیوی اوږدی غمجنی نغمی په څیر په فضا کی خواره واره شول اوستوروډلاهماغسی سترګکونه وهل.

مجاهدین پر دښمن باندی دعملیاتو لپاره — چمتووالی نیسي .

ولسي ادبيات

عوض الدين «صديقي»

بدرالدين دحماسو اوويرونو انځورګر شاعر

بدرالدين دپکتيا په ولسي شاعرانو کې ترټولوځوان ،حساس اودجهاد دقلمي سنګرنه ستومانيدونکي شاعردی دهغه شعرزموږددردمندوو ګروددردونو،غمونو اوپرهرونوتکور،دمجاهدينودسوبو،قهرمانيواوويا‌ړونوترجمان اوزموږپر ولس دپرديو دظلمونواوپرغلونو انځورونکی دی .

دهغه شعر زموږدټولني ددردونو،ويرونو،کړيکو اوستومانيو په چاپيريال کې دجهاد اومبارزې جلبه ژوندی ساتي اودوګړوپه رګونوکې دجهاد،مقاومت اوغورځنګونووينه ګرمه اوځوځنده .

دبدرالدين په شعر کې نهيلي اوستوماني نشته دهغه شعرويده انسان پاڅوي ، پاڅيدلي دهدف په لورسوق کوي اوسوق شوي ته دنه ستړتيا مورال ورکوي.

دهغه شعر وګړي دمايوسۍ اوخپګان له تورتم څخه داميدونواوبرياليتوبونورڼايي ته راوباسي :

په زوردايمان انقلاب راولو
تيارو؟دهيواد ته آفتاب راولو
مسکن دغيرت دی هم کوردحيا
ځاله دعظمت ده هم قلب دآسيا
غرق اب به کفارکړوسيلاب راولو
تيارودهيواد ته افتاب راولو
پخوا ږانګريزکړی داسی اقدام
چي ترننه يادېږي تاريخ کې بدنام
تاريخ دمحمودته داباب راولو
تيارودهيواد ته افتاب راولو

بدرالدين په ۱۳٤۷ کال کی دخوست ولسوالۍ د«بدي خيلو» په کلی کې دميرقمرالدين په کورکې سترګي غړولي اوپه قوم لکڼ دی هغه داسلام سره دخاصې مينې په اساس په خپل کلي کې ديني تعلميات کړي خودثورترکړغيرني کودتا وروسته يې ديني زده کړي نيمګړې پاتي شوي اودهجرت لاره يې خپله کړي دوسله وال جهاد په دوران کې دمجاهدينو حماسواودولس ويرونو دهغه دشعر احساس راژوندی کړی اوهغه يې دشعر په ژبه خلکوته رسولي هغه دخپلي شاعرۍ دپيل په باب وايي:« مادپخوا څخه دشعر سره علاقه درلوده خوکله به مې چي دجهاد په دوران کې دمجاهدينوحماسي،قهرماني اوزموږدوګړوويرونه وليدل هغوي به مي زړه وتخنوه اوپه زړه کي به مي دشعرپه ژبه دهغو دمنعکسولوتکل وکړخوجرئت مي نشو کولي خوبالاخره مي دځنو دوستانو په داډ اوتشويق خپل لومړی شعرپه (۱۳٦۲)کال کي ووايه »

راغلي دي روسان ظلم کوي پرمسلمان
دسرووینو سیلاب یې جوړکړی له افغان

دبدرالدین شعردااسلام جهاد اووګروسره مینه ده که څه هم ډیرکم وخت کیږي چي شاعري کوي خوشعریې ډیرروان اوخونده وردی ،هغه دشعر له لاري دوګرودراپارولو اودهغوي دجهادي روحیې د ژوندی ساتلوزیاراېستلي اوددي هڅه یې کړي چي زموږددړېدلووګرودامیدونو ډیوه دحسرتونو اومایوسیودتوپاني بادله څپو خوندي وساتي . بناغلی بدرالدین دشعر له لاري دروسانو ظلمونه منعکس کړي دهغوي تیښته یې دنړۍ څخه دکمونیزم دتغر ورتولیدلوپیلامه بللي :

زنځیرداستبداد لره دي راغی انفصام ؟
نوربه ونکړي خپونه کرملن کې په ارام
چي څې مقابلي ته نظرنکړي مقابل ته
حسرت به دي نصیب وي بې نوا به وي مدام
یارانو ته په خپلو وینو ولیکه وصیت
چې بیا پرافغانانو باندي ونکړي اقدام
لېبي دافغانانو به دي سوږي پرومانیاکي
موږ بیا غواړونفاذ په بخاراکي داسلام

دبدرالدین شعردهغه بودا غږدي چي زامن یې دجهاد دګرته لیږلي اودي سهارربایې ته سترګي په لاردی ،دهغه مورکریکه ده چي دزوی په غلبیل غلبیل وجودیې له خولي وتلي دهغه مظلوم انسان داوښکوڅاڅکي دي چي دخپل شهید زوی ورورواو... پرجسد یې څڅولي اوبالاخره دهغه مجاهد دتوري شرنګ دي دچاوسپنیز هود چې روسان یې دآموله سیند څخه پوري ایستل .

دبدرالدین شعر زموږدجهاد شعر دی دجهاد دویرونو اوسوبو شعر دی ، هغه تل دشعر له لاري دمجاهدینو سوبي منعکسي کړي اوهغه یې ابدي کړي ، هغه په ډیره کمه موده کي زیات شعرونه ویلي چي شمیریې بنایي شپیتواویا وقطعو ته ورسیږي ،دهغه شعرونه زیاتره په کستونو کي ثبت شوی اوهغه یې بیا دجهاد په ګرمو مورچلواودهجرت په دیارکي دمهاجرینو په منځ کي خپاره کړي .

محترم بدرالدین ددي ترڅنګ چي دمجاهدینو سوبی ،حماسي اودوګروویرونه اوظلمونه منعکس کړي هغوي باندي دفتحي اودآزادۍ دغوټۍ دغوړېدو زیري هم کړی :

تل به ستم دجفا ګرواقتداربه نه وي
زیاتي به سورشي ، دظالم اوراوانګاربه نه وي
غوټۍ به ګل کړي نوبهاردآزادۍ په هیله
چي راولي باغ ته زاغان هغه مالیاربه نه وي
دآزادۍ رنا به لري کړي تیاري له زړونو
په غرو،رغونو اوفضا باندي غباربه نه وي
دآزادۍ نغمي به وایووطنوالوسره
دپریشانوزړونو چغه اوفکاربه نه وي
نوره ژړا به دیتیم شي په خندا بدله
څیري ګریوان لوڅ سردسرواوښکوقطاربه نه وي ؟
اوس دزهري مارپرسر باندي پاروګرراغلي
دغروورسربه کړي پرځمکه داخماربه نه وي
دژوندا نه ټول مشکلات به په قرآن حل کوو
دشرق اوغرب دمفکوروعلمبرداربه نه وي
څه ټول ملت ته بدرالدینه بشارت ورکوه
داوبوتږي به سیراب شي خوتلواربه نه وي

جهادي فولکلور

یوه ورځ یوخلقي صاحبمنصب دیوه میوه خرڅوونکي مخې ته ودرېد اوتري وي پوښتل :
ورووه ! مڼي کیلو په څو دي ؟ میوه خرڅوونکي ځواب ورکړ : پنځه ویشت افغاني ...
صاحب منصب په غضه شو اوبه قهرجنه لهجه یې ورته وویل : ولي دومره ګراني دي ؟ امیوه خرڅونکي په تنده لهجه ځواب ورکړ: ضابط صیب ! داخاوره نه ده چي وړیایي چاته ورکړم.

کابل ښارته دروسي قواوو.......

شلیدلي وي . په سلګونو هغو روسي پوځونو چې دتن په تن جګړو کې یې پوره تخصص درلود ، دجمهوري ریاست ماڼۍ محاصره کړي وه دغو افرادو دکې ، چې ،یې ترنظرلاندې تعلیمات ترسره کړي ؤ پدي وخت کي یې افغاني یونیفورم اغوستي ؤاوهم یې خپلو موټرونو ته افغاني پلیټونو لږولي ؤ دلویې دروازي ساتونکي دهماغه لومړني موټردسپرلیو له خوا چې غوښتل یې ماڼۍ ته ننوځي ووژل شول له دریو خواوو ډزي پیل شوي .

ولادیمیر کوزیچ کین کوم چې په کال ۱۹۸۲م کي انګلستان ته پناه یووړه دروسیي داطلاعاتو اوجاسوسي سازمان یولوړرتبه مامورؤ نومړي انګلستان ته دپناه اخستو وروسته زړه بوګنوونکي پیښي دتایم خپروني ته په ډاګه کړیدي :

دافغانستان دجمهوري ریاست پرماڼۍ باندي دحملي مشري دبایرونف په غاړه وه اوداحمله یې له ځنډه پیل شوه که چیري دلویې دروازي مخي ته جګړه نه واي شوي نوکیدلي شوچي حمله یې په ښه توګه ترسره کړي واي روسي عسکرو ته امرشوي ؤ چي څوك بهرته ونه وځي اوکه چادوتو هڅه کوله نومړمی پري چلوي دامین جسد دبارمیز شاته دیوښکلي نجلۍ ترڅنګ پروت ؤ پدي ډول دروسانو پروګرام عملي شوي ؤ .

دافغاني ساتونکو مقاومت دي حد ته ورسید چي بایرونف مجبورشو ترڅو دلویې دروازي مخي ته ورشي اودنورو قواو څخه دمرستي غوښتنه وکړي نو دي پخپله پدي اشتباه دهغه چاله لاسه ټپي شوچي ده ورته امرکړي ؤ په وروستیو شیبو کي روسي قواو دموشك ډزي پیل کړي .

دلویدیځ المان دیوي ورځپاڼي خبریال الاف امیلو چي څو ورځي یې دنښتو ننداره کړي وه داسي وایي« دجمهوري ریاست دماڼۍ پوړتني پوړیخي سوځیدلي دي دوداني ظاهري بڼه چي نوي یې رنګ کړي ؤ دموشکو نو دلګیدلو په وجه ګریدلي اودماڼۍ چت وران شویدي . دتاج بیك ټپي ماڼۍ چي وره اوډیره ښکلي جوړه شوي اودامین خصوصي ځاي ؤ هم زیانمنه شوي ده ...»

دډسمبر په ۲۷ مه دشپي تروږمه دکابل په ښارخوره وه چي دروسي تیري کوونکو فشنګ آسمان ته اوچت شو پدي وخت کي افغاني پوځیانو اولوړرتبه مامورینو دروسیي په سفارت کي اتنونه اودانسونه کول اوپخپل میلمستیا کي سره ؤ چي دمیلمستیا نه وروسته دناروغۍ په بسترکي پریوتل .

برسیره پردي روسانو په همدي شپه دفرقو نورلوړرتبه افسران خلع سلاح کړل اوبیا یې امروکړ چي څوك له فرقو نه ونه وځي دشپي په ۷،۱۵ بجو یې دښارپه پښتونستان واټ کي مرکزي پوسته خانه اومخابراتي اداره ونیوله اودیوي غټي چاودني پواسطه یې دتیلفونخاني ټول تأسیسات له کاره وغورځول راډیو ستیشن اودکورنیو چارو وزارت یې محاصره کړدښارپه ګوټ ګوټ کي له روسانو سره مقابله پیل شوي وه دافغاني پوځونو یوي ډلي چي تي - ۵٤ ټانك ورسره ؤ

دروسانو دپوځ په لوینه قوماندانې برید وکړ خود تانك ضد ناړنجك پواسطه ویجاړشو اواوربي واخیست پوره دري ساعته جګړه روانه وه داوړلمبې ترنیمو شپو پورې لیدل کیدې ، داسې ښکاریده چې دافغانانو مقاومت تریوې واحدې قوماندې لاندې نه ؤ نیمه شپه وه چې دډزو غږ کمیده اوبریدونه مخ په ختمیدلو وو .

دجګړې په هماغه لومړنیو شیبو کې امین خپل دوه تنه نږدې ملګرې د پلچرخي اوقرغي دفرقو قوماندانانو ته ولیږل چې دتیارسې فرمان ورکړي اوهم یې غوښتې ؤ چې که په هرځای کې روس وګوري نوودې وژني اوکه نه نوواګې به د روسانو لاسته ورشي؛ مګر دامین دواړه استازي ګرفتاراوفرمان افشا شو .

دشپې په ۹ بجو کابل راډیو یو په زړه پوري پروګرام درلود پدې وخت کې ناڅاپه یوخبر خپور شو چې ببرك کارمل هیواد ته ستون شویدي اوحفیظ الله امین اوکورنۍ یې دانقلابي محکمې له خوا په اعدام محکوم اوداعدام حکم پرې عملي شویدي داعدام په حکم کې په امین باندې دسي ، آی ، اي جاسوس اودامریکې دګوډاګي تورونه لګول شوي ؤ ، دراډیو پروګرام لا نه ؤ

امین دوه تنه دپلچرخي اوقرغي فرقو قوماندانانو ته وروليږل چې دتيارسې فرمان ورکړي اوهم ورته ووايي چې هرځاي کې موچې روسې ليده وې وژني خودواړه ګرفتاراوبازافشاء شو .

ختم شوي چې دببرك کارمل غږدراډیوله څپو نه واوریدل شو پدې راډیو یې پیغام کې ده ویل چې دروسیې له هیواد څخه یې محدود شمیر قواوې دپوځې مرستو لپاره افغانستان ته غوښتې دي اوهم یې دګاوندیو هیوادونو څخه ددوستې غوښتنه وکړه .

پدې پیغام کې خلکو ته داډ ورکړل شو چې افغانستان به یو آزاد ، مسلمان اوناپیلي هیواد وي دکارمل دغه پیغام له مخکې نه په یوه کست کې ثبت شوي ؤ اودروسیې له تاشکند څخه خپریده لدې سره سم کارمل دکابل په لوروخوځید اودشپې په دووبجو کابل ته ورسید ، لدې پیښې نه دري میاشتې وروسته ببرك کارمل داشپیګل مجلې له خبریال سره په یوه مرکه کې داسې څرګنده کړه چې : « زه د۱۹۷۹ کال داکتوبر دمیاشتې راهیسې په افغانستان کې یم اوروسي قواو دافغانستان دمبارزو ځواکونو سره یوځای امین له منځه یووړ، اوداکارونه مو په ډیره پټه توګه دځمکې لاندې ترسره کول موږدانقلابي شورا له غړوسره چې رسماً په کابینه کې شامل ؤ اړیکې ټینګې کړې اوزیاتره پلویان مو په دولت اوحتیٰ مرکزي کمیټه کې درلودل ټول پدې خبرې موافق ؤ چې امین باید دسزا لیدو لپاره دمحاکمې میزترشا ودرول شي »

دتاس دخبررسولو اژانس دمازدیګر په دریو بجو له ببرك کارمل څخه دملا تړ په څرګندولو سره په روسي ژبه وویل چې له هغه سره باید مرسته وشي دمسکو دپښتو ژبې خبري سرویس هم دکارمل پیغام خپورکړ کارمل پدې پیغام کې د«غم ځپلي مسلمان ولس » دهیواد غیرتمنو اونارینه و

« جملي استعمالوي.راډيو مسکو ددي پيښي په اړه داسي وايي : « ...داستا سو دخلاصون اوډژوند يومـــهم ټکي دي ، دغـــلامي ، بربريت اوجهالت دوره تيره شوه،مخ په وړاندي دنيکمـــــرغـي په لوږدزياراوزحـمت په لوراودسوله ايز ژوند په لورا دادوحشي وينو څښونکو اربابانو اواستثمارگرانو دجوغ څخه دخلاصون لاره ده ا ورك دي وي دملکانـو اوارباباـنو رعـيـــتي ژوند،مخ په وړاندي دروښاني راتلونکي په لورا مخ په وړاندي دريښتني ديموکراسي په لور، مخ په وړاندي دخـپلواکي اوحقـوقـو دبرابري اومساوات په لور... »دغه غولوونکي شعارونه دشپي په ۱۱ بجو خـپاره شول دراډيو مسکو درپوټونو له خپريدو څلويښت دقيقي وروسته دراډيو افغـانستان له خوا دانقلابي شورا دغړيو نومونه وښودل شول اوس نو ببرك کارمل دخپلو پرچمي ملگرو په منځ کي سنکاريـله جنرال عبدالقادراوسلطان علي کشتمند چي له زندان څخه نوي خـلاص شوي ؤ هم پدي انقلابي شورا کي ؤ دانقلابي شورا لمړني غونډه دراډيو افغانستان په وداني کي جوړه شوه پدي غـــونډه کي ددوي ترمنځ دمرستي اوهمکاري اوپه گډو هلو ځلو تاکيد شوي ؤ .

ببـرك کـارمل چي له تاشکند نه راغلي ؤ خلکو ته کومه نوي څيره نه وه کله چي دافغانستان کمونست گوند په ۱۹۶۷ م کـال کي په دوو برخـو وويشل شـو ، امين دخلق اوکارمل دپرچم په گوند کي ورگډ شول.

د۱۹۷۸ م کـال دکـودتا سـره سم ددواړو گـوندونو ترمنځ اتحاد وشو خودير دوام يي ونکړ اوبيرته گډوډ شو دکودتا دکال په اوري کي ببرك کـارمل چي دتره کي مرستيـال ؤ دنورو ملگرو سره دوظيفـو څخه گوښه اوپه خارجي هيوادونو کي په سفارتونو کي مقررشول اودپرچم زيات شـمـيـر نورغـړي زندان ته ولويدل .

پرچميـانو دخلقي رژيم پر ضـد خـپل پټ فـعـاليـتـونه پيل کـړل اوروسانو يي هم ملاتړوکړ اوبيا يي په مستقيمه توگه دافغانستان په کورنيو چارو کي مداخلت پيل کړ.

پدي هکله يو غربي ديپلومات چي په هغـه وخت کي په کـابل کي ؤ اواوضاع يي له نږدي څخه څارله داسي وويل :

« موږدنوي کال درخصتي زيات وخت په کـورونو کي تيـراوه دالوتکو آوازونه په غـوږکـيـدل زموږڅخه يوهم نه شو کولي چي له پيښو څخه ځان پوه کړي دکابل

هوا ډیره سره وه نودکابل هوایي ډگرته زموږتگ هم کوم لذت نه درلود کله چي دډسمبر په ۲۷ مه سفارت خاني ته تلم دډزو اومرمیو غړونه جگ شول ، دمهماتو ډیپوگاني هم وچاودیدي دامریکا دنماینده گي ددفتر ترڅنگ دچاودني له کبله بوټانک هواته اوچت شو اوچاودني لا هماغسي اوږدل کیدي .

دډسمبر په ۲۸ مه دغرمي نه مخکي دموټر په ذریعه مي په گرځیدلو پیل وکړدمخابراتو دااداري شاوخوا ته دمرمیو ډزي کیدي اوبو سوځیدلي ټانک هلته پروت ؤ ډیرو روسي عسکرو افغاني یونیفورم اغوستی ؤ اوزیاته برخه بي دتاشکند ، ازبکستان اوترکمنستان اوسیلونکي ؤ چي په څیره کي بي له افغانانو سره دومره توپیر نه ؤ .

افغانان ډیر مایوسه ښکاریدل اولږوخلکوته دمنلو وړؤ چي بي دینان قدرت ته ورسیږي.

دډسمبر د۲۸ مي ورځي نه وروسته دروسي پوځ قدرت په سترگو کیده»

دعیني شاهدانو څخه یوه بله میرمن « نورازته » دالمان څخه ده نومـوړي پـدي هکله ویلي دي «ډروسانو دبرغل نه یوه ورځ وروسته تقریباً هرشي په پخواني حال اوښتي ؤ ، لمر دکابل په ښارباندي وړانگي خوري کړي وي دښارډیر دوکانونه پرانستل شوي ؤ اودنوروجمعو په شان چي دافغانانو درخصتي ورځ وه ټولو شیانو عادي حالت درلود ، دغي ورځي دنورو ورځو سره یواځي داتوپیر درلود چي دمیک دښکاري الوتکو آوازونه ترغوږو کیدل چي پنځو الوتکو یو ځاي په ټیټه ارتفاع الوتني کولي دکابل په ښارکي دځوانانو ډلو ترهغه پوري خپل سرونه اوچتول چي څو بي وسه کیده اودالوتکو ننداري بي کولي موږدم په دم دړژیم دقدرت سنودلو شاهدان ؤ ».

«نورازته » وایي « ما دکودتا نه وروسته ځان دیوي مذهبي ډلي په لیکه کي چي دپښتو نستان واټ څخه پیل شوي ؤ اودافغانستان راډیو پوري بي دوام درلود ، ورگډ کړ ، عسکراوټانکونه دسلطنتي دربارچي اوس (دخلکو کور!!) ؤ راټول شوي ؤ چي دخلکو په کور!!باندي دخلکو دبرغل مخنیوي وکړي .

دوزارتونو دودانیو له نیمایي نه زیاتي هنداري دچاودنو له امله ماتي شوي وي دتلگراف خوني خرابي شوي وي ، په ظاهره داسي بریښیده چي یواځي هندارو ته زیان رسیدلي دي .

ورو ورودهغه سړك څخه چي دوارو خواو ته بي دچنارونې وي اودخلکو کورته ورنږدي ؤ،تیریدلو. دډلي په منځ کي شتمن خلك نه لیدل کیدل ، زیات شمیر بي په محلي جامو کي ؤ هغوي خپلي پښي په پلاستیکي زړو بوټانو کي ننه ایستي وي سره لدي چي یخني ډیره زیاته وه خوجورابي بي نه درلودي ، پرسرونو بي شال اویا خولي لیدل کیدي ځینو ځوانانو بالا پوښونه هم اغوستي ؤ کله کله به دخلکو ډلي دهغو مامورینو له خوا شاته تگ ته مجبوریدل چي پر مټو بي سپیني ترانگي تړلي وي اوږوځیان پکي نه لیدل کیدل ځني وخت به دټانکونو دتیریدو له امله دکوڅو کراري ورکه شوه ماته وویل شو چي ټول عسکر اومنصبداران قشلو ته غوښتل شویدي ددي لپاره چي نوي رژیم ددوي اوسیدل

په خلکو کې خطر ناك بولي همدا ډول ماته وویل شو چې دروسانو دیرغل سبب له یوځ ځخه دافغاني سرتیرو تښتیدل اودمسلمانو مجاهدینو سره دهغوي یوځای کیدل وُ دقدم وهلو په وخت کې مې ددووسرتیرو ځخه ددوي دوضعې په باب پوښتنې وکړي سره لدې چې ماته یې مستقیم ځوا ب ونه وایه خوپه وروستي جګړه کې دنه ګډون له امله یې خوښي ځرګندوله.

دخلکو په ځیروکې دمهربانۍ اودوستي نه پرته چې له کنجکاوۍ سره یوځای وه ، بل ځه نه لیدل کیده ځرنګه چې ما کاملاً اروپایي جامي اغوستي وې نوډیرو به ماته کتل اوما خپل سوالونه په ډیرې ځیرکې سره کول ځکه هغوي زه دجاسوس په توګه هم ګڼلي شوم ځینو غوښتل په اشاري سره ما وپوهوي چې دافغانستان کارختم شوُ ، پدې وخت کې دافغانستان راډیو مخې ته رسیدلې وُچې یوه ډزه وشوه .

موږټول وویریدو خوځرګنده شوه چې دافیر دیوه ساتونکي ځخه په غلطي سره شوي وُ نوموړي دلې له یوې رمې ځخه کوم توپیر نه درلود اودشاله خوا نه دیوه مامورله خوا حرکت ته مجبوریدل ، هیچا راډیو افغانستان ته دداخلیدلو اجازه نه درلوده ، یې ددوي دخاصو خلکو نه ، دراډیو کارکوونکو هم دراډیو ودانۍ خواته زړه نازړه ګام اخیست ځکه نه پوهیدل چې پخپل ځوکۍ کې پاته دي اوکه نه !؟

په نوي ډهلي کې صدراعظم «شاران سنګ » دروسیې سفیر «وررون سوف» خپل استوګن ځای ته وغوښت اوورته یې وویل « په کوم حق ستاسو عسکرهلته دي » دهند صدراعظم وضعه داسې وه چې دروسیې سفیر یې یواځې غوږنیولو ته مجبوراوه اوبیا یې وویل « تاسو په افغانستان کې دتم کیدو حق نلرې » کله چې وررون سوف هڅه کوي ځه ووایي شاران سنګ دده خبره پر یکوي اووایي «ښه به داوي خپلې خبرې له ځانه سره وساتې اوخبرې ختموي.

«نورازته » په خپلو یادښتونو کې لیکي :« په افغانستان کې زما داوسیدلوپه وروستیو شپیو کې کله چې هوائي ډګرته ورسیدم هلته مې

> په نوي ډهلي کې دهند صدراعظم دروسیې سفیر (وررون سوف) خپل استوګنې ځای ته وغوښت اوورته ویې ویل «په کوم حق ستاسې عسکر افغانستان کې دي » اوبیا ورته وویل «تاسو هلته دتم کیدو حق نلرې.

په سلګونو روسي ټانکونه ولیدل اووروسته وپوهیدم چې ولې دغربیانو لپاره دغه یرغل غیرمترقبه ښکاره شویدي ».

په همدې ورځ دبریژنف له خوا دببر ك کارمل داختیاراتو دپراختیا له کبله کابل ته دمبارکۍ پیغام مخابره شو ، پراوداد امین دتوروونو په هکله ولیکل « امین هغه ځوك وُ چې وینه توبونه اوځانځانې یې په ذات کې ګډ شوي وه « امین دامریکې دامپریالیزم جاسوس اولاس په نامه نوکر وُ چې دکړکیچن حالت لپاره یې ساتلي وُ ».

دډسمبر په ۲۸ مه نیټه دمسکوراډیو په اتم ریوټ کې چې د«رمیا » خبري پروګرام کې خپورشوُ راغلي وُ : « داورن بورګ داتومي مرکز پرانیستل ،

ولايتي انتخاباتي مبارزي ، دخوښي لپاره سازماني كورونه ، دالمپيك دلوبو لپاره وريښميني توتي » اوبيا دري ورځي وروسته دروسيي خلك پوه شول چي د هغوي پوځي قوتونه په غزني هيواد كي په جګړه بوخت دي دروسيي دټلويزيون مفسر « پوتاپف» په افغانستان كي دروسانو لاسوهني ته سوله ايزه بڼه وركوي اووايي : « داروښانه خبره ده چي دافغانستان مسٔله يوه كورني مسٔله ده اوسل په سلو كي دافغانستان په خلكو پوري اړه لري » افغانستان ته ددوستو !! قواو دننوتو خبرونه خپاره كيږي خوديرغل دقيقه نيټه اودعملياتو دپيل ګړي نه اعلانوي داددي لپاره چي روسانو نه شو څرګندولي چي مورهغه چا افغانستان ته غوښتي يو چي دامريكائيانو جاسوس ؤ اوبيا مورداعدام كړ نولدي امله تروسه وسه يي هڅه كوله چي دامين دمرګ په جزئياتو څه ونه وائي اوهم دهغو پيښو خبرونه يي چي ديرغل نه وروسته رامنځته كيدي ، نه خپرول ، دمثال په توګه دكابل په فرقو كي نښتي چي يواځي دپلچرخي په فرقه كي څوتنه روسي مشاورين په ګوليو وويشتل شول يا په قرغه كي له وظيفي څخه دعسكروتيښته اوله مجاهدينوسره يو ځاي كيدل اوداسي نور .

دډسمبر په وروستيو دريو ورځو كي يرغلګري قوي له شمال نه افغانستان ته ننوتي لكه دروسي پوځ دفاعي قوا دكوشكا له لاري كندهارته روانه وه ددي كاروان اوږدوالي څو كيلو متره ته رسيده اوبله قوايي دترمذ له سرحدي

سنار څخه حركت وكړ اودسالنګ څخه په تيريدو دكابل خواته روان ؤ ددي قوي يوه برخه دكابل ختيځ (دخيبرسرحد ته) اوبله برخه يي دپكتيا خواته چي مسلمانو مجاهدينو پلدي ځاي كي قدرت درلود ، وليږل شوي خوپه كابل كي لږ شمير روسي عسكر پاته شول كابل تل دروسي قواو په محاصره كي ؤ حتي صحرائي فرقو ته خيمي ولاړي وي دروسيي دڅلويښتمي قوا اصلي مركز چي لومړي په ترمذ كي ؤ ورو ورو بګرام ته نقل كيده بګرام دامنيت اواستحكام له نظره روسي قواو ته مناسب ځاي ؤ اويواځي ارتباطي او مخابراتي قوي په ترمذ كي پاته شوي چي مسكو ته يي ربوټونه رسول دسرحد ددواړو خواوارتباطي مسٔوليت ددوي په غاړه ؤ.

دامنيتي مامورينو تګ راتګ نه ختميده دغو مامورينو دامنيت اواطلاعاتو (خاد) ، پوليسو

اودافغانستان په وزارتونو پورې اړه درلوده ، پدې توګه دکابل هوائي ډګرتوله ورځ دایل پوشین ۱۸ ډوله الوتکو دکوزیدو شاهد وُ چې دډیموکراتیک المان دهوائي کرښې (اینټرفلوګ) پورې یې اړه درلوده ، دغربي هیوادونو درپوټونو په اساس نوموړو الوتکو دختیځ المان اوپولینډ دهیوادونو امنیتي مامورین کابل ته راوړل .

له بلې خوا ایروفلوت دپوځي افرادو پرځای دروسي قواو دکورنیو سنځې اوماشومان انتقالول اوداسې سنکاریده چې روسان به دډیرې مودې لپاره افغانستان کې پاته شي خودلومړنی واورې په اوریدو سره هوائي کرښې بندې شوې ، دروسیې قواو پوځونو چې کله به یې دلیکو اوږدوالې ۱۵۰ کیلومترو ته رسیده خپل انتقالاتي کارونه ترسره کول ، دهوا ناڅاپي بدلون ، دتودوخې ددرجې ټیټوالي دپوځې عملیاتو په ټپه دریدل ددې سبب شو چې رژیم ته وخت ورکړي څو خپلې خالیګاوې ډکې کړي وخت یوځه اوږد شو خودرژیم مخالفین اومقاومتونه تیت اوپرک منځته راغلل دپراودا دورځپاڼې دوو تنو لیږونکو خبریالانو داسې ریوټ ورکړي وُ « دکرسمیس په شپه په ښارکې دګولیو ډزې اوریدل کیدې ، لارووهوونکو هڅه کوله چې دراډیو ودانۍ ونیسي خودساتونکو قواوله مقاومت سره مخامخ شول » .

د۱۹۸۰ م کال دجنوري دمیاشتې په لومړۍ نیټه دمسکو نوې نانځکه (ببرک کارمل) دلومړي ځل لپاره دخلکو مخې ته څرګند شو خوهغه دکړکیچ نه ډک کال پیل کړیدې توګه چې له ډیرو وینا و سره سره ونه توانید چې خپله څیره بدله کړي هغه څو ځله هڅه وکړه چې دروس ملحد عسکر داسلام دمدافعانو په ښه وښیې .

ببرک کارمل د۱۹۷۹ کال دډسمبر د۲۷ مې نیټې پیښې د۱۹۸۰ کال دجنوري په ۱۸ مه کې په ډاګه کړې اوبیا یې هم هڅه وکړه چې دقدرت دلیونو تیرې ته بله جامه ورواغوندې .

دروسانو ديرغل ...

دافغانستان دقضيي په اړه ثابت دريځ لري (البته که دسياسي حالاتو دادلون بدلون په نتيجه کي ديو لنډ وخت لپاره سکوت او رکود رامنځ ته شوي وي هغه مستثنی دي) په دغه لړکي يي له يوي خوا داسلامي همدردي اوخواخوږي له مخي پخپله خاوره کي تردري مليونو زياتو مهاجروته پناه ورکړه اوله بلي خوا يي په ټولو ملي اونړيوالو کنفرانسونو کي چي دافغانستان په قضيي پوري يي اړه درلوده دافغانستان دمجاهد ملت په پلوي کلك دريځ نيولی او روس يي ديو يرغلگراو تيري کوونکي ځواك په توگه گڼلي دي که هرڅو روسانو له يوي خوا په پاکستان کي خپلي مزدوري دلي تپلي دحکومت پرضد تحريك کړي له بلي خوا يي دخپلو ايجنټانو په ذريعه دبمونو دچاودنو اوتخريبکاري زړه بوږنوونکي صحني رامنځ ته کړي اوکه يي دپاکستان په فضاي حريم تيري وکړ اودبمباريو په نتيجه کي يي مرگ ژوبله رامنځ ته کړه اوکه يي دهند له خوا پرپاکستان باندي دحملي دگواښ کولو له لاري دپاکستان په سياسي دريځ کي دبدلون راوستلو هڅه وکړه، له يوي لاري يي هم مطلوبه نتيجه ترلاسه نکړاي شوه اودغه اسلامي هيواددافغانستان دقضيي په وړاندي تردااننه پخپل دريځ ثابت پاتي شو.

دايران اسلامي جمهوريت هم دافغانستان په گاونډ کي پروت او په غربي خوا کي ورسره اوږده پوله لري.دغه اسلامي هيواد هم په افغانستان کي درامنځ ته شوي بحران اوپر دغه هيواد دروسانو دمستقيم تيري څخه په مستقيمه او غير مستقيمه توگه بي اغيزي نشو پاتي کيداي.سره له دي چي دغه هيواد په افغانستان کي داسلامي انقلاب اومقاومت په لومړيو کلو کي له عراق سره ښکيلي توده جگړه چي دروس اوامريکا دواړو له خوا ورته لمن وهل کيده ، بوخت اوپه ملي اونړيوالو سطحه له يو ستر بحران سره مخامخ شو خوله دي سره سره يي دخپلي اسلامي همدردي اوخوا- خوږي له مخي پخپله خاوره دوومليونو افغاني مهاجرو ته پناورکړه په هغو ټولو ملي اونړيوالو غونډو کي چي افغانستان قضيه پکي مطرح شوي دمؤمنو افغانانو ننگه اوملاتړ يي کړي اوروس يي ديو ښکيلاکگر ځواك په توگه بللي دي دغه اسلامي هيواد دافغانستان دقضيي په اړه د روسانو له خوا درامنځ ته شويو جينوا خبرواترو کي ترپايه گډون ونکړاوخپل دريځ يي داسي اعلان کړ چي دايران اسلامي جمهوريت به ترهغه چي دقضيي اصلي اړخونو (مجاهدينو اويرغلگرروسانو) پکي گډون نه وي کړي برخه وانخلي ، چي ترپايه په همدغه دريځ ثابت پاتي شو اوهيڅ ډول فشاريي په موقف کي بدلون رانه وست .

داسلامي هيوادونو په ډله کي سعودي عربستان هم دياداوني وړدي که څه هم دغه هيواد له افغانستان سره گډه پوله نه لري ، خوداسلامي خواخوږي اوهمدردي له مخي دافغانستان دقضيي په اړه ثابت دريځ لري دهجرت په محيط خصوصاً پاکستان کي مهاجرينو اوهمدارنگه پسنگر دمجاهدينو ته دخوراك ، پوښاك اودرملو دتهيه کولو په برخه کي ددغه هيواد دحکومت اوخلکو مرستي اودافغانستان دقضيي په وړاندي ثابت دريځ هم دياداوني اوستايني وړدي .

سعودي عربستان هم دنورواسلامي هيوادونو په څير په هغو ټولو نړيوالوغونډواو کنفرانسونو کي چي دافغانستان قضيه پکي مطرح شوي ده دمؤمنو افغانانو کلکه پلوي کړي کله چي له افغانستان څخه دروسي قواو تروتلو وروسته چي دمجاهدينو عبوري حکومت جوړشو سعودي عربستان لومړني هيواد ؤ چي دغه حکومت يي په رسميت وپيژند .

برسيره پردي پورتنيو اسلامي هيوادونو دلته دافغانستان دقضيي په وړاندي ديو شمير نورو اسلامي

هیوادونو لکه ترکیه ، مصر ، بنګله دیش اودخلیج ځینو هیوادونو دسیاسي دریځونو پس منظر ته هم یوه لنډه کتنه پکاروه خودموضوع داوږدوالي په خاطر یي یوازي دنومونو په یادونه اکتفا کوو.

نتیجه :

دافغانستان مجاهد ملت خاص دخداي (ج) درضا اواعلاي کلمة الله په خاطر دکفر اوالحاد پرضد وسله وال جهاد پیل کړي اودادي اوس یي دبري پولي رسولي دي ، هغو اسلامي هیوادونو او خلکو چي له دوي سره یي داسلامي ورورولي اوهمدردي له مخي بي غرضه مرستي اوپه ملي اونړیواله سطحه یي ددوي دبرحقي کاعیي تائیدننګه اوملاتړ یي کړي ، مؤمن افغانان یي مننه ګوي اوقدرپه سترګه ورته ګوري اوهغوي چي دشرق اوغرب طاغوتي اوبشکیلاکي ځواکونو له ویري چوپ اوبي توپیره پاتي شوي خپل اسلامي مسوولیت اومکلفیت یي تر پښو لاندي کړي ، داعمل یي داسلام اواسلامي امت سره ستره جفا بولي . په پاي کي دیادوني وړبولم چي :

دافغانستان مؤمن ملت دچا دتائید اونه تائید اویا کاغذي پریکړو اوفیصلو په تمه هیڅکله هم له جهاد نه لاس نه اخلي دخداي (ج) نصرت اودوسله واله جهاد ادامه خپل وروستي هدف ته درسیدو اساسي وسیله ګڼي اوللګه چي تولي نړي ولیده په همدغه کارند وسله یي دروس غوندي یو ستر شیطاني اوطاغوتي ځواك ته داسي ماتي ورکړه چي په تاریخ یي ساري نه لیدل کیږي .

مأخذونه :

ددغي مقالي په لیکلو کي له دغو مأخذونو څخه استفاده شوي ده :

(۱) تحولات سیاسی جهاد افغانستان ، مؤلف دوکتوررحق شناس ، ۱۳٦۵هـ ش .

(۲) منبع الجهاد مجله ، دوهم کال ، دوهمه ګڼه ، د اسلامی هیوادونو دبهرنیچارو د وزیرانو نولسم کنفرانس (د لیکوال خپله مقاله)

(۳) جهاد هنداره (جریده) پنځسمه ګڼه (د لیکوال خپله مقاله)

موضعگیری . . .

ازافغانستان فراهم نمود شامل بود بر:

۱- خروج قواي روسي ازافغانستان .

۲- تعهد افغانستان وپاکستان به عدم مداخله دراموداخلي یکدیگر.

۳- درمورد عدم مداخله وتضمین هاي معتبر بین المللي .

٤- عودت مهاجرین .

بالاخره روسها بعد ازاینکه روز به روز درمقابل مجاهدین ضعیف تروروسوا ترشده میرفتند با خروج قواي نظامي شکست خورده اش قبل ازتاریخ مندرجه درموافقتنامه ژنیوبه مداخله علني درافغانستان پایان داده خودرا ازورطه مهلك نجات داد اما به مساعدت نظامي وهمکاري مستقیم مالي با رژیم دست نشانده اش درکابل همچنان ادامه داده وبا بر سر پا نگهداشتن رژیم متزلزل کمونستي درکابل کوشش دارد افغانستان ومردم افغان را با مصائب دوامدار ادامه جنگ درگیر نگهد ارند ومیکوشند انتقام شکست خود ر، باین شکل ازمردم افغانستان بگیرند.

حقایق فوق نشان میدهد که کشورهاي غربي وسازمان ملل سهم بارز ودوامدارادرحمایت ازجنبش مقاومت افغانها که دربرابر قدرت طاغوتي متجاوز روسي بانیروي ایمان واراده با دست خالي مي جنگیدند، ایفا نموده اند .

البته درکنار این دوبخش طاقت جهاني ،کنفرانس کشورهاي اسلامي وجنبش غیر منسلك نیز این تجاوز راپذیرفته انرا رد نمودند که مستلزم بحث جداگانه میباشد.

یادآوری : ازقامیکه درمتن حرکات شده . انعکس العمل کشورهای عضوسازمان ملل را دربرابر تجاوز روسها برافغانستان نشان میدهد.

دالفتي ليكونه

د«منبع الجهاد »مجلي داداري په نوم دپاکستان له گوټ گوټ اودجهادله گرمو مورچلوڅخه زيات ليکونه رارسيدلي ، دي ورونو دمجلي کارکوونکو ته دسلامونو اوپه دي لاره کي دلا برياليتوب ددعا سربيره دمجلي مطالب ستايلي اودمجلي دورليږوغوښتنه يي کړي طالب العلم اختر جان «جهادیارتني » دضلع بنون تحصيل ډاکخانه ميرامشاه بازار دمحموديه کتابخانې څخه په راليږلي ليک کي ويلي : «ماته صبح پيروزي ... اوځني نورجهادي اخبارونه اومجلي هم راځي خو زه چي ترکومه حده دتاسو مجلي سره علاقه لرم هغه دقلم په څوکو يي نشم بيانولي ، اودتاسو مجله ماته په جهادي خبرونو کي يواځني مجله ښکاري چي واقعاً دجهاد په گټه کارکوي » همدارنگه محمد پذير «حنفي » دضلع بنون تحصيل ډاکخانه ميرامشاه نيوافضل مارکيټ له (۳) نمبر دوکان څخه نوروليي خان «کابل خيل » دضلع بنون ، تحصيل ډاکخانه ميرامشاه بازار دته-خيل محمود په مکتب څخه دمجلي داداري په نوم ليکونه راليږلي ، دي ورونو دمجلي دمطالبو اوښه صحافت ستاينه کړي اونوروليي «کابل خيل » څولندۍ هم راليږلي چي موږ به يي په «جهادهنداره » کي ورته خپري کړو اوددوي لا همکاري ته سترگه په لاريوو ، اوددي ژمنه ورسره کوو چي مجله به ددوي په آدرس ورليږو ، محترم تازه خان دضلع اوتحصيل صوابي ، ډاکخانه کوهاټي برکي کيمپ (۶۳۵۸) دوکان څخه اومحترم قاري خداياداد «شهيديار» دضلع اوتحصيل صوابي ، ډاکخانه کوهاټي ، برکي کيمپ مهاجر بازارڅخه دمجلي داداري په نوم ليکونه راليږلي ، محترم «شهبيار» دليك په ترڅ کي ليکلي : « کله چي ستاسي ورروستي مجله لاس ته راغله دهغي په لوستلو سره مي تنده ماته شوه ، هيله کوم ماته مجله په خپل ادرس راوليږي » موږيې ورونو ته ددي ترځنگ چي ددي داد ورکوو چي انشاالله مجله به ددوي په آدرس ورليږو له دوي څخه هيله کووچي د مجلي دلابښايست په تمه خپل وراندېزونه راوليږي .

محترم «کامران » دحيات آباد داکاډيمي الاسلاميه دشرعياتو څانگي ددوهم ټولگۍزده کوونکي

اومحمـــد جمـــال «حکمت » دپشاوربنارد ارمړ پایان څخه دمـــجلي داداري په نوم لیکونه رالیږلي ، محترم «کامران » دلیك سره جوخت څولنډۍ هم رالیږلي چي د«جهاد هنداره » په ادبي صفحه کي به یي ورته خپري کړو.موږدي ورونو ته دمـــجلي دورلیــږلو داډ ورکـــوو اوددوي دلاهمکاري په تمه یوو.

همدارنګه بازمحمد «مظلوم یار» دهریپورهزاره رحمانیه روډ ، مدینه ستهیشنري مارت څخه د«کاغذه ورشي په ســـلام شـــه – اول تري جارشه بیا پري وایه سلامونه» ترسرلیك لاندي ، عبدالله افغاني دضلع بنون تحصیل لکي مروت ، ډاکخانه پیزو مدرسه جامعه حلیمه دره څخه ، شامحمد« حق دوست» دضلع بنون تحـــصیل ډاکـــخانـــه میرامشاه ایوب مارکیټ دوکان نمبر (۱۷) څخه امیرخان ، داسلام‌اباد له نجم مـارکیټ ، بسم الله جري ستور(F-۸-٤) څخه او شاه حسین

له پیښبورڅخه دمجلي داداري په نوم لیکونه رالیږلي ، محترم شاه حسین «مـشـغـول » اوامیـرخـان دمـجلي دادبي صـفـحي لپاره دوه قطعي شعرونه هم رالیږلي چي ورته خـــپـــاره به یي کـړ و دي ورونو دمـجلي دکـارکـــوونکو کـاراوزیار ستـــایلي اودوي ته دمـــجلي دنه وررسیـــدو شکایت کـړي مـوږددي ترڅنګ چي ورسره ژمنه کـوو چي مجله به ورلیږو ددوي دهمکاري په تمه یوو.

پرافغانانو دټولي نړۍ مسلمانان افتخارکوي ...

دمسلي داواري لپاره کوم تجویزونه راوړاندي کړاي شول ملګرو ملتونو چي زموږپه هکله کومه پریکړه کړیده داداسلام اودشریعت محمدي(ص) له مخي مردوده ده موږداهیڅکله نشو منلاي موږنجیب منحوس تجویزونه اوغوښتني نشو منلاي چاچي د۱۲ کلونو په جریان کي افغانستان په هدیره باندي بدل کړیدي اوددغه هیواد عزت ، عظمت ، شرافت ، اواقتصادیي تباه کړیدي.

موږدیهودیانو په نخیر په اسلام کي تحریف نه شو کولای موږدبي طرفه حکومت منلو ته تیارنه یوپه اسلام کي بې طرفي هیڅ مفهوم نلري ځکه څوك چي نه ملحدوي اونه کافر وي اونه مسلمان وي نوبیا به هغه څه شی وي ؟!

آخر کومو خلکو چي ۱۲ کاله په جهاد کي برخه نده اخیستی هجرت ئي ندي کړي دجهاد خبره یي نده کړي نه په ژبه اونه په قلم اومالي جهاد یي هم ندی کړي آخر موږهغوي ولي ومنو اوهغه به څنګه حکومت وکړای شي؟!

موږصرف اوصرف ــــ اسلامي حکومت منو اوموږته بله هیڅ کومه طرحه دمنلو وړنه ده .والسلام

داورپرسکروټو ...

په برقي ډنډو وهل او برقي ټکانونه د ورځنیو شکنجو یو معمول ګرځیدلی و .زه په شهر نو کې هیوی وواخاني ښښتان وم په (۱۹۸۲) کال کي زه کمونستي حکومت ونیولم دنیولو څخه وروسته ئې دخاد دجاسوسي شبکي دصدارت دفتر ته یووړم هلته یي راباندي ډول ډول شکنجي اوربري تیري کړي . هره شپه یي برقي جټکي راکولي دشپي او ورځي په ۲٤ ساعتو کي به یي ډیره لږه ډوډۍ اویواځي یو ګیلاس اوبه راکولي.څو ورځي وروسته یي زه په یوه داسي تنګه کوټه کي چي ډیره تیاره او اوبه پکي ولاړي وي ورواچولم چي زه پکي کیناستي او بیده کیداي نه شوم. هره شپه به دخاد مزدوران راتلل اوخه ویښته به یي په امبور راښخه ویستل له همدي امله زما په سر باندي اوس ویښته نشته او هر ځلي به یي له ما څخه دایوه پوښتنه کوله چي ستا ملګرتیا او اشنائي دچاچا سره ده ؟ څلور میاشتي وروسته یي زه دصدارت له دغه ځاي څخه وویستم او دپل چرخي دزندان په یوه تپه تیاره کوټه کي یي ورواچولم . دلته یي دوه میاشتي په ما باندي ډول ډول شکنجي تیري کړي . په دوهم ځل یي بیا صدارت ته وغوښتم دمدافعي قاضي(!!) کریم شادان راته وویل چي دلته به اوس ستا دقسمت فیصله کیږي . دده د دي خبري په مقابل کي ماسمدستي ځواب ورکړ چي مسلمان دخداي (ج) څخه پرته دبل چا بندګي نکوي ، نه دچا نه ویریږي اونه دخپل قسمت دفیصلي کولو حق چاته ورکوي . زما ددي ځواب داوریدو سره قاضي(!!) په غوسه شو او زه یي دومره ووهلم چي بي هوښه شوم. ماته یي ددووکالو دبند جزا

په دوهمه شپه دخاد مزدورانو دوه نوربندیان راوستل اودهغوي په مخکي یې زما پر ټپونو باندې خوټيدلي تیل څنډوهل دوي تیل څنډوهل اوورسره یې بندیانوته ویل چې که چیرته تاسي رښتیا ونه ویل دتاسو سره به هم داشان عمل وشي.

اعلان کړه اوس یې زه دپل چرخي زندان په یوه داسي کوټه کي واچولم چي دمخکي نه پکي دوه سوه نور بندیان هم وو ، په ۲٤ ساعتو کي به ټولو بندیانو ته درفع حاجت اوغسل کولو لپاره فقط دوه ساعته وخت ورکول کیده ، چي دیوه بندي لپاره یوازي ٤٨ ثانیي تاکلي شوي وي . هره شپه به دخاد یو شمیر مزدوران راتلل او له ځان سره به یي څو بندیان بیول وروسته به مونږ.خبر یدو چي هغه یي ټول ووژل .

په(۱۹۸۳) کال کی یی پدی شرط پریښودم چي ته به دکمونستي دولت ملګرتیا کوي ، ما دځان دخوشي کولو لپاره وعده ورسره وکړه،خوما دکمونیزم څخه سخته کرکه لرله . زه خپل کورته ولاړم اوبیا مي دخپلي کورنۍ سره پاکستان ته هجرت وکړ دبندیتوب په وخت کي په ماباندي دتیرو شوو شکنجو دردونه اوس هم زما په هډوکو کي موجود دي ...

محمد آغا دکابل دپوهنتون یومحصل دي.

هغه په زندان کي دتیرُکړو شپو ورځویه باب وایي؛

دروسانو مزدور رژیم په خپلو بندیخانو کې شماره بندیان ژوندي ښخ کړیدي زیات شمیر یي په ګولیو غلبیل کړي او څه یي دبرقي

ډنډو د وهلو او ټکولو په نتیجه کي په شهادت رسولي دي زه دساینس پوهنځي ددریم صنف محصل وم، داد (۱۹۸۱) کال خبره ده ، یوه شپه مي دليليې په کوټه کي درس لوست چي ناڅاپه یو څو وحشي کمونستان زماکوټې ته راننوتل زه یې ونیولم او له کوټې څخه یې بهر وویستم په سړك باندي یو موټر ولاړ و .

ماته یې پکي دکیناستو امر وکړ ماونه مانه اوبیایې په زوره په موټر کي ورننویستم ماولیدل چي په دغه موټر کي -۱۱- نور محصلین هم دگونگیانو په څیر غلي ناست وو. موږه یې دکورنیو چارو وزارت ته یوړو دغلته دلږو پوښتنو څخه وروسته یې دخاد دفتر په یوه کوټه کي واچولو لږ ساعت وروسته په کوټه کي دتورو مرچولوگي را خوشي کړاي شو او موږ ته ساه اخیستل هم گران شو . محصلین دډیرو پرنجیدلو څخه وروسته بې هوشه شول دري ورځي وروسته کمونستانو هر محصل په بیله بیله کوټه کي واچاوه دلته دهر یو محصل څخه دایوه پوښتنه کیده چي په پوهنتون کي دخپلو هغو ملگرو نوموونه وښایي چي دمجاهدینو سره اړیکي لري په موږ باندي پوره ۲۰ ورځي دا شکنجي جاري وي له دي څخه وروسته یې دپل چرخي زندان ته ولیږلو هلته ځني محصلین دوهلو ټکولو په جریان کي شهیدان شول څلورکسه یې په محکمه کي ژوندي ښخ کړل یوازي زه اویو بل محصل ژوندي پاتي شو. په زندان کي برقي ټکانونه اوپه برقي ډنډو وهل عادي خبره وه ځني بندیان به یې څو څو ساعته په واوره کي ښخول اوځني به یې ژوندي په ځمکه ښخول اوډیرزیات بندیان به دبرقي ډنډو دوهلو له امله په شهادت رسیدل کمونستانو به زه دورځې پنځه کرته په برقي ډنډو وهلم ترهغې پوري چي زه به بې هوشه شوم په هره کوټه کي تقریباً ۲۰۰ بندیان پراته وو په زندان کي دشکنجو ورکولو لپاره یوه مخصوصه کوټه هم وه چي دهغې څخه به هروخت دژړا اودچیغو آوازونه راتلل په زندان کي ددغو چیغو اوفریادونو له امله هیڅچا ته دشپې خوب نه ورتلو په ۱۹۸۷ ع کال کي یې پدي ضمانت خوشي کړم چي هیڅکله به دمجاهدینو سره کمك اومرسته نکوم .

دغوایی له کودتا ....

اوهمدارنګه په دې نوي سوغات کې نسبتاً ساده اواسان مسائل دکتابونو په آخر اومشکل اوپیچیده مطالبوته دنومړو کتابونو په لومړیو برخوکې ځای ورکړشویدی داکثرو ټیټو ټولګیو په درسي کتابونو کې دیوشمیر لوړوټولګیودرسي کتابونوپه پرتله بغرنج اومشکل موضوعات درج شویدي حتی په نویو درسي کتابونو کې دتوجه وړغیرعلمي اویوشمیر غلط مطالب چاپ شویدي برسیره پردې په نوي درسي سیستم اوپروګرام کې یوشمیر اضافي اونوي مضمونونه شامل شول ، دهغې جملې څخه د جامعه-شناسی (ټولنې پیژندنه) او«کلتور» په نومونو هغه مضامین دي چې دزده کوونکو دښووني اوروزنې په مختلفو اړخونو کې یې منفي اثرات رامنځ ته کړل.

دټولنې پیژندنې مضمون دموضوعاتو محتوا دکمونستي ایدیالوژۍ تبلیغ اوترویج اوهمدارنګه دروسانو استعمارته غاړه ایښودل اوروسانو ته خدمت کول دوطن پرستۍ اودسپیڅلو خصوصیاتو مفهوم درلودلو په بنسټ ولاړدی ، دکلتورپه مضمون کې رقص، موزیک، سندرې ویل اونورجنسي احساسات پارونکي اوغیر اخلاقي کړو وړوته ځای ورکړشویدی اودسپورت له مضمون څخه یې فیزکلتور،یا درقص په بڼه ورزش جوړکړ. همدارنګه دروسي ژبې مضمون بل بارؤ چې په زده کوونکو ورزیات شو .

څرنګه چې دنویو کتابونودچاپ شمیر دزده کوونکو په پرتله لږؤ نوځکه دټولو زده کوونکولپاره یې کفایت نه کاوه نوهغه شمیرزده کوونکو ته چې دنوي سیستم کتابونه ونه رسیږي دپخواني سیستم کتابونو څخه ګټه اخلې په دې ترتیب سره په یوه ټولګي کې اوپه عمومي ډول په ښوونځیو کې په یوه وخت کې له دوو مختلفو درسي سیستمونو اودوه ډوله درسي کتابونو څخه استفاده کیږي ځکه خودزده کړې پروسه نوره هم ګډه وډه شوه اودپخواني سیستم پخواني درسي کتابونه چې دنوي سیستم کتابونویې ځای ونیوه دمصارفو اوپوهانو دزیارسره یوځای دروس دکمونستي امپراتورۍ په اورکې وسوځیدل اوخاورې ایرې شول .

روسانو اوپه افغانستان کې ددوی مزدورانو ټولې هلې ځلې اوټول امکانات یوازې دې هدف ته وسیله وګرځولې چې پرافغاني خاوره باندې روسي کمونستي استعمار ټینګ کړي

۲- دښوونکو اواستاذانوله منځه وړل :

روسانو اومزدورانو یې دعلم اوپوهې ترنامه لاندې دعالمانو اوپوهانو په له منځه وړلوکې په هیڅ وحشت صرفه ونکړه ددوی دنړۍ لیدله اړخه یوازې هغه څوک عالم ، پوه اوښوونکی کیدای شوای چې خپله پوهه اوهوښیاري یوازې دروسانو دګټو ساتلو لپاره پکاراواچوي نوځکه دښوونځیو څخه نیولې بیا ترپوهنتونونو پورې هغه ښوونکي اواستاذان چې یوازې یې خپل مسلک اومضمون تدریس کاوه دروسانو لپاره دقناعت وړنه ؤ اویو شمیرښوونکواوپوهانو په ټولو فرهنګي موسسو کې په هغه اویا دغه څیره دروسانو اودهغوی مزدورانو(دخلق اوپرچم دلګۍ اونوراجنتان یې) داصلي ماهیت درسوا کولو هلې ځلې شروع کړې چې ددې سره جوخت

دشوونځيو دښوونکو اوپوهنتونونو استاذانو دشهيدولو ، بندي کولو، هجرت ته مجبورولو، په کورکينولو اوتهديد ولولړه دغوايي له کودتا څخه نيولې تردې دمه پورې په ډېر ډوونکي ډول جريان پيداکړ اوپرځاى يې هغه ناپوه اودبدو اخلاقو لرونکي انسانان مقررکړل چې يوازې دروسانو دګټو ساتل يې خپلې اصلي وظيفې ګڼلې .

دنومورړپه غم لړلي کودتا څخه وروسته لکه څنګه چې دزده کوونکو تش نام اونشان پاته دى په همدې ډول سره دښوونځيو اوپوهنتونونواکثريت ښوونکي تش په نامه ښوونکي دي ځکه چې ديوې خوايې علمي اوتحصيلي سويې خورا ټيټې او دښوونې له شيوې اوميتود سره لازمه اشنايي نه لري اودبلې خوادانقلابي سپاهيانو په نوم دڅومياشتو يا کالونو لپاره دعسکرو وظيفې سرته رسوي چې په عين حال کې يې هم په ښوونځي يا پوهنتون کې خپله تنخوا حواله اوښوونکي شميرل کيږي اوهم دعسکري په اجراکولو سره ورته مزدوري ورکول کيږي اوپه دې پوهيدل هم څه ګران

کارندى چې کوم وخت نومورړي ښوونکي ددوهم محل لپاره دښوونکي دنده پيل کوي ، دموضوعاتو سلسله ، دښوونې روحيه اودښوونې په هکله نورکړه وړه غيرنورماله بڼه غوره کوي . غټ شميرښوونکي دخپلې اصلي دندې پرځاى اويا ترڅنګ ګوندي ، سازماني اواستخباراتي وظيفې سرته رسوي چې داصلي دندې يعنې دورسپارل شويو مضامينو ښوونه فرعي بڼه ځان ته نيسي چې په واقعيت کې دنومړړو ښوونکو اصلي دندې ګوندي ، سازماني اوجاسوسي اړخونه جوړوي نوځکه خوتش په نامه ښوونکي دي .

۳-دزده کړې څخه پرته دزده کوونکو اومحصلينو مصروفيت :

دغوايي له کودتا څخه وروسته دعسکري پرسونل دکموالي په وجه يو شمير زده کوونکي دعسکري اوضابطي لپاره دروسانومزدورپوځ ته جذب شول ،ددې لپاره چې نومورړي نظاميان يې راضي اوخوښ ساتلي وي داصلي وظيفې ترڅنګ يې دملکي شپو ليسو اوپوهنتون ويلو امتيازات هم ورکړل خوډير زرحالت تغيروموند

اوهيڅ نظامي ددې وخت اوموقع نه شوه پيداکولاى چې هم نظامي چارې په مخ بوزي اوپه عين وخت کې دزده کړې پروسه هم تعقيب کړي ، نوددوى بادارانو ورته نورامتيازات هم ورکړل هغه داچې يو عسکري فرد کولى شي چې يوازې دازموينې په ورځ ښوونځي ته حاضرشي اوبيا وروسته دازموينې ورځ هم حتمي نه وه اوپه هره موقع چې حاضر شي ازموينه ورڅخه اخستل کيږي ددې څخه زيات دپاملرنې وړتکى دادى چې که په پارچه کې به يې څه وليکل اوکه نه اويا په خوله به يې رښتيا اودروغ وويل اوکه نه ، کاميابي يې حتماً په برخه وه ځکه چې مزدورته يې بايد په هغه اندازه مادي امتيازات ورکړي واى چې دمزدوري کولو څخه يې انکارنه واى کړى اوښوونکي خواصلاً دزده کوونکو دناکامۍ اوبرياليتوب دصلاحيت څخه په جدي اوبشپړ ډول محروم شوي دي .

دغه بې علمه اوبيسواده ځوانان دکال په پيل کې دشپې په ليسو اوپوهنتون کې خپل نومونه ثبت کوي اوپه کال کې يو اويا دوه ځله اړونده ښوونځي اوپوهنځي ته

حاضريږي نوپه نتيجه کې ديوه ټولگۍ ښخه بل ته لوړيږي اودکالونو په بشپړولوسره دبکلوريا اويا ليسانس ډيپلومونه ترلاسه کوي ، په دې ترتيب سره دبې سواده بکلوريا پاسانو اوليسانسه ؤ شمير مخ په زياتيدو شو .

دغير نظامي زده کوونکو حال هم دزده کړې نوموړي حالت ته ورته دی دذکر شوي کودتا په لوموړيو وختو کې چې په اصطلاح دانقلابي سپاهيانو (په اصل کې دوفا دارو غلامانو مقام لري)دندو ته دزده کوونکواومحصلينو جلب اوجذب نه وپيل شوی ،دغير گوندي (هغوی چې د مزدورگوند غړي نه ؤ) ښوونکو اواستاذانو ښخه دگوندي زده کوونکو اومحصلينو صلاحيت زيات ؤ اوهيڅ يوه ښوونکي اواستاذنه شول کولای چې دنوموړي گوند غړي ناکام کړي ،نوځکه په ذکرشوي گوند پورې تړلوزده کوونکو اومحصلينو دښوونځيو اوپوهنځيو مضامينو اودرسونو زده کړې ته کومه توجه نه کوله اوپه نوروسياسي ،گوندي ،اوغير اخلاقي کړووړوباندي اخته شول .

دې حالت په ښوونکو،استاذانو

دتيرودوولسو کالو دنيمايي ښخه راپه دې خواغيرگوندي زده کوونکو اومحصلينو هم انقلابي سپاهيانو ته دشامل کيدلو امکانات ترلاسه کړل دانقلابي سپاهيانو دراپيداکيدو ښخه ترننه پورې په زده کوونکو اومحصلينو کې دايوه معمولي پروسه وگرځيده چې کوم زده کوونکي اويا محصل بنا په کوم علت دناکامي احساس وکړي نوسم دلاسه دانقلابي سپاهيانو په ټولگي کې ځان داخلوي.

اوغير گوندي زده کوونکو اومحصلينو باندې ناوړه اغيزه وکړه چې په نتيجه کې دښوونې اوروزنې حالت په گړندي توگه دخرابيدو خواته روان شو .

دغوايي له کودتا ښخه وروسته دمجاهدينو فاتحانه بريدونه ديوې ورځې ښخه بلې ته په زياتيدو شول اودکمې مودې ښخه وروسته يې دروسانو مزدوران دراپرځوني له گواښ سره مخامخ کړل ، نوځکه يې دهرې ممکني وسيلې ښخه که غير انساني به هم وه کاراخستل پيل کړل ترڅودحتمي اوناځاپي ماتې اوپرځوني ښخه ځانونه وژغوري نودغوايي دکودتا

دلوموړيو وختو ښخه رانيولې بيا تردې دمه پورې دخلق اوپرچم دډلو پورې تړلي زده کوونکي اومحصلين دڅو مياشتو ياکالونو لپاره په اصطلاح دانقلابي سپاهيانو په نوم عسکري ته سوق شول. په انقلابي سپاهيانو پورې دتړليو زده کوونکو اومحصلينو برياليتوب بې له زده کړې اوحاضرۍ ښخه په حتمي ډول سره گرنټي اوتضمين شو چې ددې علمي اوفرهنگي ضد عمل په ښنگ کې ورته دښوونکو او استاذانو څوچنده تنخواه هم ورکول کيږي .

دتيرودوولسو کالو دنيمايي ښخه راپه دې خوا غيرگوندي زده کوونکو اومحصلينو هم انقلابي سپاهيانو ته دشامل کيدلو امکانات ترلاسه کړل دانقلابي سپاهيانو دراپيداکيدو ښخه ترننه پورې په زده کوونکو اومحصلينو کې دايوه معمولي پروسه وگرځيده چې کوم زده کوونکي اويامحصل بناپه کوم علت دناکامۍ احساس وکړي نوسم دلاسه دانقلابي سپاهيانو په ټولگي کې ځان داخلوي .

ترڅو دنوموړي زده کوونکي اويا محصل برياليتوب حتمي شي همدا

وجه ده. چې نوي فارغ شوي ډاکټران دمریض دنسخې لیکلوتوان نلري اونوېو انجنیرانودکورونو نقشې سرچپه وکښلې اوزیات شمیر بکلوریاپاسان اویو شمیر لیسانسه حتیٰ له سوادڅخه هم بې برخې دي په دغو خبروٌ هغه څوك ښه باورکولی شي چې دنوموړوحالاتو په هکله څه ناڅه خبرتیا ولري. دښوونې اوروزنې په ټولوموٌسسو کې په اصطلاح دخپلې خوښې کارونو په نوم چې ډیرزر یې په زورطلبانه کارونو باندې شهرت پیداکړ بل علمي اوفرهنگي ضد عمل دی چې دروسانو په دستورعملي کیږي (په پښتوکې د«پاگاړې» یاپه عربي ژبه کې د«هشر» په نوم دخپلې خوښې ټولنیزکارونه شته چې دخدای (ج)درضا' لپاره دټولنې دعمومي گټودسمبالتیا په خاطر سرته رسیږي .اویادگاوندیانو اوکلیوالو سره دمرستې په ډول بې له کومې اجرې اخستلو په ډله ایزډول سرته رسیږي اوپه بشپړ ډول دهرگډونکوونکي په خپله خوښه کیږي) دغوکارونو ته درسمي ښوونې اوروزنې په پرتله زیات اهمیت ورکول کیږي ځکه چې بې له دغې ورځې څخه دښوونې اوروزنې منسوبینو ته کله نا کله داامکانات شته چې رخصت واخلي اویا ناسوب شي خوددأوطلبانه کارپه ورځ دناسوب کیدو ، سهل انگاري اوبې اعتنایي په صورت کې دیوې ورځې په ځای څوورځې ناسوب کول ، اخطار اودموٌسسې څخه دتبدیلیدو اودسوانحو دخرابیدو پورې خبره رسیدای شي دپاملرنې وړداده چې دهغو چارولپاره کومې چې دداوطلبانه کارونو په نتیجه کې سر ته رسیږي ځانگړي مسوٴلین هغه چې دنوموړو چارو داجرا کولو په اړوند تنخواٌلاس ته راوړي هم وجودلري همدارنگه دغو کارونوته په میاشت کې څوځله په رسمي وخت کې سازمان ورکول کیدای شي چې ددې لارې څخه دښوونې اوروزنې په پروسه کې سکتگي اونیمگړتیاوې زیاتیږي اما دروسانو اومزدورانو یې پدې څه چې دښوونې اوروزنې پروسه کوم حالت ځان ته اختیار وي؟ هغوی ته دروسي فیکاڅیا عملي کول اهمیت لري. دمارشونو اومیټنگونو په لاراچول هم دداوطلبانه کارونوسره دښوونې اوروزنې په ویجاړولو کې مسابقه کوي دهرمارش اومیټنگ څخه وروسته دزده کوونکو په روحیه کې منفي بدلون رامنځ ته کیږي ځکه چې دلیسو زده کوونکي دسن له نقطې نظره په خورا حساس . مهم اودتوجه وړمرحله کې قرارلري خصوصاً جنسي غریزې اواحساسات یې ډیر زرمنحرف کیدای شي اوکله چې تنکي ځوانان به په تنکیو پیغلو ورگډ شول شورماشوراوغوغایې خامخا زیاتیده ، په دې صورت کې به روسان اوددوی مزدوران خورا راضي ښکاریدل چې گڼې ددوی دافکارو اوعملونو تود هرکلی کیږي .

«نورمیا»

جهادي فولکلور

یوه ورځ عصمت له خپل ملگري څخه وپوښتل :پوهیږې چې په نړۍ کې ترټولو ناپیلي هیواد کوم دي ؟
ملگري ځواب ورکړ: دکابل گوډاگي رژیم . عصمت بیا تري وپوښتل : څنگه ؟ ملگري ځواب ورکړ : ددې په خاطر چې په خپلو کورنیو چارو کې هم مداخله نه کوي.

پرافغانستان دروسي ...

داوايه چي دپاکستان ددفاع لپاره
څه کولاي شو - ده راته په
ډيرصراحت ووېل چي انشاءالله
موږ په امکاناتو له ټول محدوديت
سره سره دروسانو مقابله
کووحقيقت دادي چي دپاکستان
مسلمان قيادت اومسلمان ملت
زموږدمقاومت په بري کي ډيره
ستره ونډه واخيسته اوډيره لويه
قرباني يي ورکړه اودوي يي ښه
نتيجه هم ترلاسه کړه .

روسي لښکري له افغانستان نه په
وتو مجبوري شوي اوپدې ډول
دپاکستان له پولو يوه لويه خطره
دفع شوه اونن ددوي په څنگ هغه
افغان ولس پروت دي چي انشاءالله
ددي سخت وخت دمرستو په بدل
کي به يي په ډيرو سختو شيبو کي
ديوه ورورااوهمسرنوشته قوم په
توگه ترڅنگ ولاړوگوري .پدې
برسيره يي هم له يوي ستري
مبارزي اويوي برحقه داعيي نه

دملاتړله امله په اسلامي امت
اوټوله نړۍ کي يو معقول اوښه
موقعيت ترلاسه کړ.
دپاکستان دسياست يومهم
امتيازدادي چي له يوي شل
مياشتني مقطع پرته دنړيوالو
اوسيمه ايزو بدلونونوله ټولو
نوساناتو اواصطکاکونو سره سره
پکي تراوسه هيڅ لړزه اولغزش ندي
راغلي .گوروبه چي په راتلونکي کي
به څه کيږي !

پرنړيوال اسلامي غورځنگ ...

خوتاجك ،ازبك ، ترکمن ...داتوان
ونه لري ؟
لنډه داچي دافغانانو جهاد دنړۍ
ټولو مسلمانانو ته داميد ټکي شو
اوټولو عزم وکړ چي ددغه انقلاب
ملاتړوکړي ، څو په افغانستان کي
يوسوچه اسلامي حکومت جوړشي ،
ځکه په هغه صورت کي به

افغانستان داسلامي تحريکونو
دادي حيثيت ولري اوترټولو مهمه
داچي داسلامي انقلاب داعيان به
يو ژوندي مثال په لاس کي ولري
ترڅونړيوالو ته يي وروښيي .
دروسانو دايستلو سره مجاهدين
دځپلي مبارزي په يوه برخه کي
بريالي شول ، اودايي په اثبات
ورسوله چي دسترو شيطاني
قدرتونو په مقابل جهاد هم ممکن

دي اوهم دعزت اوازادۍ يواځنۍ
لارا
خوپه دوهم پړاوکي مجاهدين بايد
هڅه وکړي يوداسي اسلامي نظام
هم ارايه کړي څونړيوالو ته دغوني
په شکل وړاندي کړاي شي ،
دادافغانانو تاريخي مسووليت دي
ځکه دنړۍ دټولو مبارزومسلمانانو
هيلي په دغه انقلاب پوري تړلي
دي .

ابدي ژوندي

شهيد ميراجان

شهيد ميراجان دلوگر ولايت اوسيدونكي ؤ . نوموري په ١٥/٤/ ١٣٦٧ نيټه دسلمان فارسي دغنډ په مجاهدينو كې شامل شو او دژوند تر پايه يې ددين او وطن دښمنانو په مقابل كې په ميړانه جهاد وكړ ، بالاخره دغه نوميالي مجاهد په ١٣٦٩/٦/٢٥ نيټه ددښمن دټانك دمرمي په ذريعه دشهادت لوړ مقام ته ورسيد ،(اناالله وانااليه راجعون

شهيد محمد سليم

شهيد محمد سليم دملاتيك محمد زوي دكندز ولايت دامام صاحب ولسوالي اوسيدونكي په قوم قندهاري و.په ١٣٦٧/٤/٥ نيټه دسلمان فارسي دغنډ دمجاهدينو په ډله كې شامل شو او دژوند تر پايه يې په ډيره ميړانه او صداقت سره وسله وال جهاد ته ادامه وركړه . بالاخره دغه نوميالي مجاهد په ٢٢/١٠/٦٨ نيټه د درملكه " په سيمه كې ددښمن له خوا دايښودل شوي ماين په ذريعه دخداي "ج" درضا په لاركې دشهادت لوړ مقام تر لاسه كړ .. اناالله وانااليه راجعون

شهید مومن

شهید مومن دظریف زوي په ۱۳۴۹هـ ش کال دپکتیا ولایت دخوست په لویه ولسوالي کي زیږیدلي دي .

نوموړي دقوماندان سنګین ترقوماندي لاندي وسله وال جهاد پیل کړي اودپکتیا ولایت په اکثرو جګړو کي يي روسانو اودهغوي مزدورانو (خلقیانو ، پرچمیانو) ته دسر اومال زیات تاوانونه اړولي دي .

بالاخره دغه زړوراونومیالي مجاهدپه (۱۳۶۹/۵/۷) نیټه ددین اووطن دښمنانو سره په یوه مخامخ جنګ کي دشهادت لوړمقام ته ورسید ، یاد دي ژوندي اوروح دي ښادوي .(انا لله وانا الیه راجعون)

شهید میرخانم .

شهید میرخانم دجرنیل زوي ؤ چي دپکتیا ولایت دزوړکوټ دولسوالي دوریشمیني دکلي اوسیدونکي په قوم منګل ؤ .

نوموړي په ۱۳۶۳هـ ش کال په وسله وال جهاد پیل وکړ اودجهاد په دوران کي یي په ډیرو جهادي عملیاتو کي برخه اخیستي اوهرګل یي ددین اووطن دښمنانو ته دسر اومال درانه تلفات وراړولي دي .

بالاخره دغه تکړه مجاهد په ۱۳۶۹/۶/۵نیټه د۲۱کالو په عمر دسید کرم په ولسوالي کي له جګړي څخه وروسته دشهادت لوړمقام ته ورسید .(انا لله وانا الیه راجعون)

شهید میرباشي

شهید میرباشي دزارزوي دپکتیا ولایت دځمکنیو دولسوالۍ دحسن خیلو دکلي اوسیدونکي په قوم مقبل ؤ .

نوموړي په ۱۳۶٤هـ ش کال کي په وسله وال جهاد پیل وکړ اوپه ډیره میرانه یي دپکتیا ولایت په بیلو بیلو سیمو کي دملحدینو پر ضد جهادي فعالیتونو کي برخه واخیستي اوهرګل یي دښمنانو ته دسر اومال درانه تلفات ورواړول .

په ۱۳۶۹/٤/۳۱نیټه دسلمان فارسي غنډ دمجاهدینو په ډله کي شامل او ـــ

بالاخره په ۱۳۶۹/۶/۳۰نیټه ددښمن دراکټ دمرمي په ذریعه دشهادت لوړمقام ته ورسید . «انا لله وانا الیه راجعون »

شهید سهیل محمد

شهید سهیل محمد دعطا محمد زوي دپکتیا ولایت دیعقوبي ولسوالۍ دڈمبر دکلي اوسیدونکي په قوم صبري و .

نوموړي په ۱۳۶۶ هـ ش کال کي دکفر اوالحاد پر ضد په وسله وال جهاد پیل وکړ .

نوموړي دسلمان فارسي دغنډ له نومیالیو اوزړورو مجاهدینو څخه و ، دجهاد په دوران کي یې په ډیرو جهادي فعالیتونو کي برخه اخیستي.

بالاخره دحق لاري دغه تکړه مجاهد په ۱۳۶۸/۵/۱۰نیټه دجلال آباد په فارم ۲ کي ددښمن دالوتکي دبم په ذریعه دشهادت لوړمقام ته ورسید .«انا لله وانا الیه راجعون»

شهید مظفر خان

شهید مظفرخان په ۱۳۴۳ هـ ش کال دپکتیا ولایت دخوست په لویه ولسوالي دیعقوبیو په کلي کي زیږیدلي دي .

نوموړي داقتصادي مشکلاتو په درلودلو سره بیا هم دلوړعزم خاوندو او په ۱۳۶۰هـ ش کال یې دکمونستي حکومت په مقابل کي په وسله وال جهاد پیل کړي

بالاخره دغه زړوراونومیالي مجاهد په ۱۳۶۸ هـ ش کال دتوري غاړي په سیمه کي په داسي حالت کي چي په دهریانو یې دهوان توپ (MATRE_3) په وسله دزي کولي دکمونستانوله خوا په شهادت ورسید ،یاددي ژوندي اوروح دي ښادوي .(انا لله وانا الیه راجعون)

شهید صاحب نور

شهید صاحب نوردفیض محمد زوي دپکتیکا ولایت. دارگون دولسوالي دتوري خیلو دکلي اوسیدونکي په قوم ځدران و .

نوموړي په ۱۳۶۴هـ ش کال کي دکمونستانو په مقابل کي په وسله وال جهاد پیل کړي و.

دجهاد په دوران کي په ډیرو جهادي فعالیتونو کي برخه اخیستي ؛ و

په ۱۳۶۷/۱۲/۱۸نیټه دسلمان فارسي دغنډ دقهرمانو مجاهدینو په ډله کي شامل شو .

بالاخره ۱۳۶۸/۹/۲۴نیټه ددرملکي په سیمه کي ددښمن دماشینداري په ذریعه دشهادت لوړمقام ته ورسید . «انا لله وانا الیه راجعون »

بسم الله الرحمن الرحيم

فرمان نبوي

ترجمه :- مومن کامل نمی شود
یکی ازشماتاآندم که دوست بدارد
برای برادرش چیزی راکه آنرا برای
خود دوست دارد.

(حديث شريف - متفق عليه)